متعلق به همام

د بایزید روښان
بین المللی سیمینار

خیر البیان

د بایزید روښان

۱۳۵۳

ACKU

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00033360 8

خیر البیان

د بایزید روښان

سریزه

پوهاند عبدالحی حبیبی

د بایزید روښان یادونه

عبدالرؤف بینوا

د خیر البیان لیکدود

او

لغتنامه

پوهاند عبدالشکور رشاد

ACKU

PROPERTY OF
ACKU

خپروونکی
د ادبیاتو او بشری علومو پوهنځی
د پښتو ټولنې په سپارښتنه

۱۳۵۳

د بایزید روښان د نړیوال سیمینار

په ویاړ

د حبیب الله رفیع او زلمی هیوادمل په اهتمام

د چاپ ځای : دولتی مطبعه

د چاپ شمېر : زر ټوکه

ACKU



بایزید روښان

ACKU

د لوی خدای په نامه

د لسمې هجری پېړۍ په لومړۍ نیمایی کې د اورمړو پښتنو له ټپې څخه د پیر روښان په نامه یو سړی ورپا څېد. دې سړی د خپل مهال په سیاسی او ټولنیز ژوند کې بې ګڼې اغېز درلود.

بایزید د یو قندهاری الاصل پلار له پښته چې په کانی ګرام کې یې استوګه درلوده، په (۹۳۱ ه ق) د پنجاب په جالندهر نومی ښار کې وزیږید. له ملا سلیمان کالنجری او ملا پاینده څخه یې زده کړه وکړه او د خپلې ټپې له یوه غړی خواجه اسماعیل څخه یې روحانی ګټه واخیسته. د کندهار، هندا و ماوراءالنهر په سفرونو کې یې په مذهبونو او فلسفه کې مطالعه وکړه، او له اسلامی پوهنو سره پوره اشنا شو.

څرنګه چې په هغه مهال کې د پښتونخوا په غرو رغو کې خلکو روحانیت ته زیاته پاملرنه او توجه درلود، نو دغه ستر شخصیت د ملی مبارزی رپې (بیرغ) له زهد او پرهیزګاری سره مل کړ او د مبارزی میدان ته یې راودانګل. او په دې توګه یې وکولای شول، چې د روحانیت په جامه کې خپلو خلکو، خپلې ټولنې ته په زړه پوری خدمتونه وکاندی. بایزید په دې بریالی سو چې خواره واره افغانان خپل شاو خوا نه راټول او پردیو ظالمانه ښکیلاک په مقابل کې یې ودروی.

د بایزید د قیام فلسفه د پردیو د زبېښنو او ربړو نوله منځه وړل ؤ. بایزید دخپل شریف عمر تر پایه پوری له پردیو ښکېلو ونکوا وز بېښونکو

ACKU

سره وجنګېده او تر ده وروسته دغه له وياړه ډکه نهضت د دوی زامنو، لمسيو او کړوسانو تر يو سلو پنځوس کاله پرمخ بوته.

بايزيد سربېره پر ملي مبارزو په پښتو منثور ادب کې د يو ځانګړي سبک بنسټ ايښوونکی دی، چې دغه سبک په ادبي حلقو کې د خيرالبيان د سبک په نامه يادېږي چې وروسته تر ده يوشمېر نور کتابونه هم په دغه سبک وکښل سول.

دادی اوس د پوهنې وزارت او پښتو ټولنه د انقلابي دولت د مترقي کلتوري پاليسي له مخه د دغه ستر روحاني او ملي يو سياسي سړي څلورسومه کاليزه نمانځي، نو د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی وياړي، چې د پښتو ټولنې په سپارښتنه، د خيرالبيان کتاب د يوازينۍ لاس کښلې نسخې له فوتو کاپي نسخه (۱) په اصلي شکل ادب دوستانو او علمي ټولنو ته وړاندې کوي.

د ادبياتو د پوهنځي درنو او سپېڅلو استادانو پوهاند عبدالحي حبيبي، پوهاند عبدالشکور رشاد، او فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا د دې کتاب په څېړلو کې پوره ستونزې پر ځان ومنلې او په ډېر لنډ او تنګ وخت کې د دې با ارزښته اثر د تعليق له عهده ووتل او په خپلو فاضلانه ليکنو يې د کتاب علمي معيار نور هم وچت کړ. د دغو درنو استادانو زيار د کتاب د چاپ په برخه کې د ډېرې ستاينې او منني وړ دی.

همدارنګه د ادبياتو د پوهنځي د وه تنو پخوانيو ګرانو علمي همکارانو ښاغلي حبيب الله رفيع او ښاغلي زلمي (د پښتو ټولنې محترم غړو) د کتاب د چاپولو اهتمام چارې په غاړه واخيستې چې په دې توګه زه د دوی د ټولو زيارونو پوره پوره مننه کوم، په پای کې د ادبياتو پوهنځی هيله لري چې زموږ د دغه برخه اخيستنه د دې ستر شخصيت د علمي مقام د نمانځنې لپاره ومنل سي.

په درناوی

پوهاند مير حسين شاه

د ادبياتو د پوهنځي رئيس

---

(۱) دغه چاپ د هغې فوتو کاپي سوې نسخې له مخې تيار سوی چې فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا څو کاله د مخه د تيوبينګن له پوهنتون څخه راغوښتې وه.

ACKU

یادونه

دا د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي او بیا پښتو څانګې لپاره ستر ویاړ دی، چې په یوه نوې بڼه د خیرالبیان په چاپولو او خپرولو بری مومي او هغه د خپل قهرمان لیکوال، پیر روښان، د لومړي نړیوال سیمینار په هر کلي کې وړاندې کوي .

دا چاپ له هماغې یوازنۍ لاسکښې نسخې را زیږي چې د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډیمي پخواني مشر ارواښاد مولانا عبدالقادر په ۱۹۵۹ کال د لوېدیځ آلمان د تیوبینګن پوهنتون په کتابخانه کې موندلې او په ۱۹۶۷ کال یې د هغې اکاډیمي له لارې په پوره خوند او شخوند چاپ کړې وه.

لکه څنګه چې ټولو دننیو او دباندنیو پوهانو ته جوته ده، د تیوبینګن لاسکښه نسخه تر اوسه په نړۍ کې لومړۍ لاسکښه ده چې یې د لیږدلیک (استنساخ) نیټه د پیر روښان تر مړینې (۹۸۰ لېږدي) ۸۱ کاله وروسته ښودل شوې ده .

تر پېښوري چاپ زموږ ښېګڼه یواځې د سریزو د لیکلو او یې لیکلړله پلوه نه ده، بلکې تر دې یې لازیات ارزښت په دې کې دی . چې موږ وکړای شول د هماغې نوې برسېرونې عکاسي نیغ په نیغه افسیټ کړو او په دې توګه د درې څلورسوو کلو امانت په خپله آره او رښتینې څېره کې راخوندي کړو، حال دا چې د پېښور

هغه له دوو (لومړي او پای) مخونو پرته نور ټول تر مایکرو فلم او بیا اوسنۍ ارد وړوای ایکلو د وروسته له ډېر چاپه راوتلی دی، زموږ په چاپ کې بیا له عکاسۍ پاتې دوه مخه له پېښوري چاپ څخه راخیستل شوي او خطاطي شوي دي .

داچې د دې چاپ نوبوالی او خوږوالی تر ټولو د مخه د پوهاند عبدالشکور «رشاد» په نوچار او ابتکار پورې اړه لري، نو زموږ لوړ ونانی لومړی په همدې پورې اړه پیدا کوي، د پوهاند حبیبي د هر اړخیزې مرستې او پېښوري بېنوا داخځلیک د سمنې او پاسلو نې خوله هره پلوه پوروړي یو . او په پای کې دواړو پښتو مینو ملګرو حبیب الله رفیع او ځلمی هیوادمل څخه په دې خوښه کوو چې دې دواړو ځي د پښتنې ویاړ او پناوله سخی، بې له کومې توکیږې اسرې، د دغې چاپونې واړه ستونزې پرځان و منلی او په پوره بریالی توب یې په ډېرو لږو ورځو کې له توغه ووتل.

دوکتور مجاور احمد زیار
دا د پوهنځی د پښتو خپرونو چلوونکی
۱۳۵۳-۱۰-۱۲

ACKU

د کتاب عنوانونه

۱ ـــ مقدمه: د فاضل استاد پوهاند
عبدالحی حبیبی لیکنه

له لومړي مخه څخه
تر ۳۴ مخه پوری

۲ ـ د بایزید روښان یادونه: د فاضل لیکوال
عبدالرؤف بینوا لیکنه

له ۳۵ مخه څخه
تر ۵۴ مخه پوری

۳ ـ د خیرالبیان لیکدود: د پوهاند عبدالشکور
رشاد لیکنه

له ۵۵ مخه څخه
تر ۸۰ مخه پوری

۴ ـ د خیرالبیان متن: د بایزید روښان

له لومړی پاڼی څخه
تر ۱۶۷ پاڼې پورې

۵ ـ لغتونه: د پوهاند عبدالشکور
رشاد لیکنه

له لومړي مخه څخه
تر ۱۲۶ مخه پوری

ACKU

سریزه

د

پوهاند عبدالحی حبیبی

ACKU

۱

د روښان پیر عصر او د ده غورځنګ

د هجرت لسمه پیړۍ (۱۶ م) د آسیا په سیاسي او اجتماعي او هنري تحول کې داسې زمانه ده چې په هند او ایران او عثماني ترکي مملکت کې د فیوډالي نظام جوړې خورا ټینګې سوې او د شاهنشاهۍ لوړ پوړ ته رسیدلې وې.

په ۹۳۲ق ۱۵۲۵م کال بابر شاه له کابله ولاړ، او په پاني پت کې ئې سلطان ابراهیم لودي افغان پاچا وواژه، او د مغولي پاچهۍ بنیاد ئې په ډهلي کې ټینګ کې، د دې کورنۍ لویه شاهنشاهي تقریباً دوه قرنه پر ټول هندوستان تر کابل او قندهار او کله کله تر بلخه چلیده، او د شاهي غښتلي نظام، ټول هغه خاصیتونه ئې درل، چې هنر او درباري ادب او تجارت او صنایع وده پکښې کوي، او د بهایانو ډله پر ټول اولس باندې د شاهنشاهانو په سرپرسته بریالۍ کیږي.

په ایران کې هم په دغه وخت کې د صفویانو شاهي کورنۍ د خپل اقتدار لوړې څوکې ته رسیدلې وه، او کله کله به ئې لاسونه د قندهار د زړه ښار تر ټینګې کلا پورې هم راوږدول.

ACKU

دافغانستان شمالي خواوې چې دمخه د غزنويانو او غوريانو او بيا د هرات د تيموريانو د شاهنشاهيو لېچو نه ګڼل کېدې، له خپله سره کړه بېلې سوې، او د څينو داسي خانانو تر لاس لاندې وې چې د هند د مغولي او د ايران له صفوي دربارونو سره به ئې د غړي وهلې او په حقيقت کې د افغانستان سيمې د دغو دروفيو ډالي غښتلو نظامو تر منځ د جګړو او مقابلو ډګر و.

دلته به تل ظالم حکمرانان د توري تر سيوري لاندې ناست وه او د خلکو څخه به ئې ماليات ټولول، او دغه ثروتونه به تلل، چې په آګره او اصفهان کې لوئي لوئي ماڼي په ودانې سي، د پاد شاهي دربارونو د ښکلا او آرايښت او سمبالو لو سامان په جوړ سي. نو په هغه اندازه چې هنر او صنعت او تجارت او عيش و نشاط به هغو پايتختونو کې وده کوله، د دغه سيمې او خلک به خوار يدل، او مځکې به ئې شاړې کېدې، ښارونه به ئې ورانيدل، او پروګړو به ئې د امې ظلمو نه کېدل چې د ويلو وړ نه دي.

د دې زماني د اجتماع غړي يا پونده وو، چې د کوچيانو په دود به د خپلو غېلو سره په غرواو دښتو کې په اورشوګانو پسې ګرزېدل، او دا ډله د نورو د غذا او د ابتدائي ثروت د پيدا کولو لوی سرچينه وه، او د دوی ژوند په خورا سادګۍ تېرېدی، له مدنيته او ښاري ژوند محروم وو، هنر او صنعت او علم او د ژوندانه ښېګړو په دوی کې وده نسوای کولای، او دا د ژوندانه هغه دوره ده، چې د بېټ نيکه په دې ژاړه شعر کې تصوير کېږي:

دلته دی د غرو لمنې،
زموږ کور دي دې ښکلي پلنې،
دلته لېږ زموږ او ربل دی،
ووږ کورګی دی، ووږ بورجل دی،

ACKU

داوګړي د بر کړي خدا یه !
لویه خدایه ! لو یه خدا یه (۱)

* * *

دوهمه اجتماعي ډله چې د کلو او کروند و پر ممسور و مځکو او سید له، کروندګي او خواري کښې دیګا نان وو، یا هغه قبیلوي لیږد ید ونکي خلک وو، چې دځړځا یونه به پر تنګ سول، نوبه دوی د نوو ورشو و په تلا ش کې تلل او هر ځای چې به ئي ممسور او دخپل ژوندانه لپاره وړولید، هلته به ئي مینه جوړوله، کلي او چمونه او کنډرونه به ئي ودانول، پټي او کروندې به ئي کرلې، او به اود هستوګې ځایونه او مځکې او څړتو نونه اوتپې به ئي سره ویشلې، خود مځکو او سیمو د مالکیت دوري ته نه ورسیدلې، ګرده مځکې د ګردوخلکو وې، او هري کورني یولس کلنی «برخه» درلو ده، چې تر هرو لسو کا لو و روسته به بیا ګرده پټي د ګردوملکیت کیدې، او نوی «ویش» به کیدی. د دی اجتماعي نظام وروستني منظم سیستم هغه دی، چې په تار یخ کې د «شیخ متي د فتر» بلل کیږي، او په پنځلسم میلادي قرن کې دخیبر هغې خواته ترا باسینده پوري خپور وه، (۲) خو چې په ۱۸۶۹م کال د پرنګیا نو استعمار په خا ني ملکیت سره راواړا وه، او په «بندوبست» مشهور دی.

کله چې د هند دمغولو دشا هنشاهي قوت پردغه اجتماعي نظام غالب سو، نو د شیخ متي دفتر له سمو څخه غروته وخوت او دخانانو له ملکیتونو څخه په ګوښو او بوښو کې پټ سو، دخوشحال خان په وخت کې چې د مغولو شا ها نو قد رت

---

(۱) دسلیمان ماکو تذکره، پښتانه شعر ا ج ۱ ص ۵۰

(۲) تار یخ مرصع په ګلشن روه کې، تذکرة الابرار، حیات افغا نی، پټه خزانه ۲۱. متأسفانه دشیخ متي ددفتر نسخه تر اوسه نده پید ا سوې.

ACKU

خپلې ډيرې اوږ تياته رسيدلی و، دشيخ ملي دفتر پټ پټ په قبا پلو کې چليدی :

په سوات کې دی دوه څيزه که خفي دی که جلي،
«مخزن» د درويزه دی، يا «دفتر» دشيخ ملي .

(خوشحالخان خټک)

* * *

دريمه ډله خلك په ښارو او کليو او بانډو کې ځينې کسب گران او صنعت کاران او سوداگران يا دکانداران وو، چې مدني ژوندئې درلود، او په ښاري د ودو غوروړد وو، دوی به دملوك الطوايف د غښتلي نظام لپاره په کار او کسب، تګ راتګ، جوړولو او ودانولو بوخت وو، او ددوی د سعی او عمل غوړ زګی به دلوړو ډلو دعيش سترخان ته وتله، خو دوی به په ښارو او کليو کې لږ څه سوکه ژوند کاوه، او د کلتور په تحول او خپرونه کې ئې تکړه لاسونه ښوول .

کله چې سړی د پښتونخواد تاريخ پاڼې سره اړوی، نودغه ډله وينې، چې دوی ډول ډول هنرونه لکه اوودنه، ښکلونه، لوښي جوړونه، ودانونه، انځورونه، ليکنه، موسيقي، ادب او داسی نور ډير دژوندانه ښيګړی د ملو کی نظام ترسيوری لاندی روزلي او خوا ره کړی، اود مدنيت او هنر او ادب ګروندی ئې سمسوری کړی دی .

* * *

څلرمه لوړه او غښتلي ډله ملوك طوايف او حکمرانان او لښکر کشان او درباريان او ددوی ملګري فرعي ډلي لکه روحانيان او ملايان او پيران وو، او کله چې به دهغو نورو درو ډلو څخه ځني غښتلي او بريالي راووتل، نو به هغه هم په دی لوړه ډله کې ورګډل، اودشاهانو او دربارونو په زور به ئې واړه ياغټ ملو کی مراکز جوړول، لکه ملك شاه منصور يوسفزی چې خپله لور بی بی مبارکه ئې بابرشاه ته

ACKU

واده کړه او ځان ئې د دغه پاچا په دربار کې داخل کړ (۱) یا د خوشحال خان خټک کورنۍ چې د ډېر علمي د مشغولو له خوا د دې سیمې مشران او جاګیرداران وو، یا مثلاً له روحانیانو څخه خواجه عبیدالله احرار د آمو په شمال او جنوب کې د دوی د ځمکو او جایدادونو خاوند و، چې ځانته ئې مستوفیان لرل (۲). او یالا عبدالله سلطان پوری شیخ الاسلام چې په هند کې د روښان معاصر وو، کله چې په ۹۹۰ ق ۱۵۸۱ م مړ شو، د دېرش سلیونه روپۍ ځنې پاته شوې (۳).

د روښان پیر د غورځنګ او راوتلو اجتماعي علل موږ د ده د عصر او اجتماعي احوال او د ټولنې د ډله پېژو اوضاعو او روحیاتو په څېر نه کې موندلای شو.

د دغسې اجتماعي احوال او ډله پېژ نظام طبیعي خاصیت هم دادی، چې ګرد د ه نورې ډلې فقط د پاسنۍ ډلې لپاره استحصالېږي او د دوی د کار او زیار غنمي ګټې هم هغه ډله خپلي، چې د اجتماع لوړې څوکې ته ختلې وي، او د خپلو استحصالي ګټو د ټولو لپاره یو له بل سره مله وي.

د روښان پیر د پیدا کېدو او په زمانه کې پوندګان او کروندګي او کسب کاران او خوارې کښان، د ملوک طوائف په منګنه کې داسې دل کېدل، چې د دوی د مظلومیت او ناورین داستانونه ډېر ترخه دي.

د پنځلسم قرن په لومړي نیمي کې (۸۱۲ – ۸۵۳ – ق ۱۴۰۹ – ۱۴۴۹ م) میرزا الغ بیګ د سلطان ابوسعید کورګان زوی د کابل پاچا ؤ، ده د کوچیانو یوسفزو ډېر مشران د کابل په سیاسنګ کې ترتیغ تېر کړل، چې پاته یوسفزي او

---

(۱) بابرنامه ۲۲۹ یوسفز ائی افغان ۳۱۷.

(۲) د سمرقند اسناد چې د کتر میرمن چیخوویچ سره ټول کړي او په روسي ئې ترجمه کړي هم دي. د مسکو چاپ ۱۹۷۴ م.

(۳) رحمان علي: تذکره علمای هند، ۳۰۱ د لکهنو طبع ۱۹۱۴ م.

ACKU

کنډ اوزمند قبایل څنې ولاړل ، او له پېښوره ترسوا ته مېشته سول . (۱)

په ۹۲۵ ق ۱۵۱۹ م کال بابر شاه له کابله راووت او په پختیا کې ئې دادرمان پونده قبایل دوني ووژل چې د دوی له ککر یو څخه یوه لوړه مناره جوړه سوه (۲) او تر دې د مخه چې بابر په ۹۱۳ ق ۱۵۰۷ م کال له غنجو څخه سل زره پسونه تالا کړي وو ، دوی ئې دوني وژلي وو چې د ککر یو څخه ئې څلي جوړ کړي وو ، (۳)

د ظالمو حکمرانانو دغه ظلمونه پر تبواو خلکو باندې ډول ډول کېدل ، حتی چې د دوی خدمتګاران هم څنې خلاص نه وو ، په ۸۰۱ ق ۱۳۹۸ م امیر تیمور د خپل زوی میرانشاه پر درباریانو په قهر سو ، او له دوی څخه ئې څو تنه عالمان او هنرمندان ووژل (۴) او د سمرقند دوه تنه ماهر معماران ئې له دې جهته مړه کړل ، چې ولې ئې د مدرسې دالان د مسجد تر دالان جګ جوړ کړی دی ؟ (۵)

د بشریت تاریخ د قهر او غضب او وینو بهولو او د انسانانو د وژلو او پوپنا کولو په ډیرو ویرجنو واقعاتو ډک دی ، مګر ظلم او تجاوز او تالا او تېری ، تل په مظلومو خلکو کې قهرمانان هم پیدا کوي ، او دا لاسوی و یرژلي ډله د هر تېری په مقابل کې خپله تره او کرکه په ډول ډول را باسي ، چې بوشکل ئې د تاریخي اتلانو او سلې مېړونو راوتل او د خلکو له بېزغور څنګو نه دی .

داسې اتلان کله کله له وګړنی ډلي او لاندې مظلومانو څخه نه وي ، مګر د مظلومو او استحصال سوو انسانانو د ویرژلو احساساتو او د ناورین وهلو وګړو د خوږمنو

---

(۱) تاریخ مرصع ، تواریخ حافظ رحمت خاني د پېښور چاپ ، تذکرة الابرار.

(۲) بابر نامه ۱۵۴

(۳) بابر نامه ۱۲۹

(۴) مطلع سعدین ، خطي ۵۷٦ .

(۵) مجمل فصیحی ۳ ر ۱۵۱ .

ACKU

جذبا تو ښکارندوی او خوا خوږی سړی له نورو ډلو څخه راځی ، او ددوی د نجات لپاره لارښوونه او مشرتوب کوی او کله کله سر بازی او دا تلتوب چاری هم ترسره کوی.

روښان پیر دافغانستان په تاریخ کی د هند د مغولیه امپراتورانو مخی ته ددغسی اتل ځای لری چی د خپلی روحانی ډلی څخه د وگړو د نجات لپاره د شاهنشاهانو د بریالیو لښکرو مخی ته درېدلی ، جنگېدلی ، بریالی سوی ، ماتسوی او وژل سوی دی . دی په خیر البیان کی مکرراً ځان «عاسی» بولی یعنی وگړیء.

لکه چی تاسی د مخه ولوستل دافغانستان عاسی پونده ، کښتگران ، خوا ری کښان او کسب کاران او دهقانان ټوله د شاهنشاهانو او غټو خانانو د چور او چپاو په اور کی الوی کېدل ، او ددوی وینی به زبېښلی کېدې ، نو روښان پیر د دې تور نظام ماتولو ته هڅه کوله ، او حکمرانان به یی وعدل او انصاف ته رابلل ، دی د قندهار په سفر کې د هغه ځای حکمران پیرو خان ته وا یی :

«گفتم امیران و پادشاهان را حق تعالی از عدل خوا هد پرسید و یک ذره عمل کسی را حق تعالی ضایع نگرداند ، بروی بنما ید . . . » (۱)

په همدغه سفر کی روښان پیر یوه زړه رږدوونکې واقعه ولیده ، چی څنگه د ده قوم مظلوم دی ؟ او څنگه پردی بلا یان دلته ظلمونه او تېری کوی ؟

وایی چی ده په قندهار کی یوه پښتنه سپین سری و لیده ، چی د مغلی استعمار سپاهیانو ئې د کوخیو و پښتان د ژرندی په پله پوری تړلی وو ، او دا مظلومه ښځه د ژرندی د پله سره چورلېده . نو روښان دونې متأثر سو ، چی د مغولو سره ئې پخپل عمری جهاد لاس پوری کیء (۲)

ACKU

---

(۱) د پیر روښان صراط التوحید . ۲ .

(۲) داعظم گړ مجله معارف ج ۱۹ ص ۲۳۵ جون ۱۹۲۷ م د خطی تذکرة الانصار په حواله .

۲

روښان پیر څوک ؤ؟

بایزید د قاضي عبدالله اوړمړ زوی چې پلار او نیکه ئې د وزیرستان په کاني ګورم کې اوسېدل، په ۹۳۱ ق ۱۵۲۴ م کال د پنجاب په جالندهر کې وزیږېدی، چې د مور نوم ئې بیبۍ (۱) امینه د حاجي ابوبکر لور وه.

د دوی کورنۍ په «انصاري» مشهوره وه، او د بایزید د طریقت لقب «مسکین» و او پر مشهور ئې «بایزید انصاري او بایزید مسکین» کښلي ؤ، د ده یو شاګرد دولت ویلي دي:

هر طالب که عمل کا، مقصود به مومي
چې مرید د ورمړ بایزید مسکین شه

د مسکین د لقب شرح پخپله دی داسې کوي او د سلوک او توحید د مراتبو آخرنی پوړ ئې ګڼي، چې یو سالک وصل سي او په دغه وصل کې بیا یګانه سي نو «مسکین» سي یعنې د بشریت له صفاتو څخه خدائي صفاتو ته میل وکي. (۲)

بایزید چې د طریقت اته مرتبې ټاکلي دي، په هغه کې هم اتمه لوړه درجه د «سکونت» ده او مسکین هم د سکونت پوړته رسېدلی ګڼي، دولت وایي:

سکونت بلند مقام له واړو هاس دی   نور د ده د پاسه نشته مقامونه

---

(۱) د انوم د بیبۍ یو هندي سوی شکل ښکاري.

(۲) صراط التوحید ۱۷.

ACKU

دمسکین په رضا واړه چارې کېږي   په هر هر یوه کې کاندې خپل حکمونه (۱)

داچې ده د «روښان» لقب هم موند لی دی، تذکرة الانصار وایي چې پخپل کرامت ئې څراغ په اوبو بل کړی ؤ، نو ځکه خلکو روښان وباله (۲) بیا اخوند درویزه وایي: چې زما استاد ملا محمد چې په ملازنګی پاپیني مشهور و، ده په مباحثه کې پر کېء بله ورځ بیا مو د بحث پاره ورغلو دی راسره مخامخ نه و نو ملازنګی دی «پیرتاریک» وباله (۳) چې وروسته نو اخوند درویزه او ده پیروانو دا نوم مشهور کیء. (۴)

دروښان پیرملي مبارزې او ده مقاومتونو د خپلو مسلکي او سیاسي مخالفینو سره دافغانستان دخلکو دتاریخ یو مهم ټوک دی، چې دمخه ماد پښتو ادبیاتو په تاریخ (دوهم ټوک) کې لسم څپرکې ۱۱۷ مخه پر لیکلی او په ۱۳۴۲ ش کال په کابل کې چاپ سوی دی، بیا چې خیر البیان په ۱۹۶۷ م کال په پېښور کې چاپ سو نو ښاغلي حافظ عبدالقدوس قاسمي پر هغه باندې یوه ګټوره سریزه و کښله او هم په ۱۹۶۹ م کال ښاغلي تقویم الحق کاکاخېل خټک د اخوند درویزه پر مخزن باندې دغسې یوه مقدمه کښلې ده نو دلته زه د ده شرح حال او عقاید او د طریقت لارې چارې بیانه څېړم، که څوک غواړي دغه کتابونه دې ولولي، او ده د کورنۍ او اخلافو مبارزې او کارنامې هم لږ وډېر ما دافغانستان د بابري شاهانو په تاریخ او د آریانا په مجلو په کابل کې څېړې کړې دي نو ئې دلته بیا نه راوړم خو په لنډ ډول د ده د ژوندانه مراحل ښیم.

---

(۱) ددولت خطي دیوان.

(۲) معارف ۱۹ ر ۴۳۵ حالنامه وايي چې مریدانو ئې یو غیبي آواز واورېد چې دی «پیر روښان» بولیء.

(۳) اخوند درویزه: تذکرة الابرار ۱۵۲.

(۴) درویزه: مخزن ۱۲۴.

زیږېدنه: ۹۳۱ ق ۱۵۲۴ م کال په جالند هر کی.

له خپل اکا شیخ خدادادو سره کاني کورم ته راتگ د ۹۳۷ ق ۱۵۳۰ م حدود

د بایزید نکاح له بي بي شمسو سره (د تره لور) د ۹۵۵ ق ۱۵۴۳ م حدود په کاني کورم کی

د سیاحت او سلوک وخت له ۹۵۵ تر ۹۷۰ ق پوری ۱۵۴۳ - ۱۵۶۲ م.

د پیر کامل درجې ته رسېدل او تبلیغ خپرول او د صراط التوحید تالیف ۹۷۸ ق ۱۵۷۰ م

د اشنغر جنگ او کابل ته تگ او د قاضي خان او میرزا محمد حکیم سره خبری کول د ۹۷۹ ق حدود ۱۷۵۱ م.

د آغاز پور جنگ: د ۹۷۹ ق ۱۵۶۵ م حدود.

د تور راغه جنگ او د روښان وژنه: د ۹۸۰ ق ۱۵۷۲ م حدود (۱)

د ده خلف او زوی شیخ عمر او ورونه ئې مغولو سره کړل ۹۸۲ ق ۱۵۷۴ م

* * *

د روښان پیر لپاره وروستنیو لیکوالو اوږدې نسب نامې هم جوړې کړي دي، یو له هغو څخه د مولوي نیاز الدین دانشمند انصاري «تذکرة الانصار» ده، چې د جالند هر د «انصاري» کورنۍ یو غړی و، په دې تذکره کې: «بازید مسکین بن عبدالله بن محمد شیخ بن بابا شهباز تر حضرت ابوایوب الانصاري پوری رسول سړی دي (۲).

دا تذکره د روښان مولد په جالند هر کې د شیخ احمد غوث ولي له روضې سره مشهور ښیي، مگر دغه نسب نامه سمه نه ښکاري ځکه چې د مورخانو په اتفاق په یوه قرن کې

---

(۱) گریرسن انگریزي پوهاند د روښان مرگ په ۱۵۸۵ م ۹۹۴ ق کال گڼلی دی (لنگوسټک سروې آف انډیا ۱۰ ر ۱۰) چې وروسته ځینو نورو لیکوالو هم دغه غلطي تعقیب کړې ده، او دا د دبستان مذاهب له غلطو لوستلو څخه ورپېښه ده، چې د دبستان مؤلف د میرزا محمد حکیم د مرگ خبر په ۹۹۴ ق اروېدلی و، گریرسن داسې گڼلې ده، چې دغه د روښان پیر د مرگ کال دی.

(۲) د اعظم گړد معارف مجله ۱۹ ر ۴۳۳ جون ۱۹۲۷.

دری پښته تیرېږی خو په دغه نسب لیک کی له بازیده تر ابوایوب انصاری پوری ۱۸ پښته دی چی گرده باید تر ٦٠٠ ق پوری را رسیږی، حال دا چی تر بازیده پوری ۳۰۰ نور کلونه هم تیر سوی دی او بیا هم دا چی دشیخ الاسلام عبدالله انصاری هروی دنسب مسله هم دغه ابوایوب انصاری ته رسیږی(۱) خو په دواړو نسب نامو کی هیڅ توافق نه ښکاری.

په هند کی ډېری کورنی ځانونه «انصاری» بولی، او په دغسی غټو او مشهورو روحانی رجالو پوری نسب نامه نښلول په اسلامی تاریخ کی دمخه هم وینو او ښایی چې تر روښان دمخه داورمړو یوې قبیلی ځانته انصاری سلسله جوړه کړې وی، لکه سید حسین غوری ته دبی بی متو د کهول نسبت یا سیدمحمد گیسو دراز ته دوردگو نسبت، یا د هند دخضرخان پښتنه کورنی چې «سادات» وگڼل سوه (۲) یا داردبیل صفوی کورنی چې ساداتو ته منسوبه سوه.

په هرصورت: اخونددرویزه انصاریان داورمړو یوه قبیله بولی(۳) او وایی چې «دبازید پلار نیکه دواړه عالمان وو دورمړو، هم رشتینی وو په دین کی.»(۴)

بایزید چې په دغسی کورنی کی لوی سوی و، دخپل عصر دینی علوم فقه، تفسیر، حدیث، اخلاق، تصوف ئې په عربی او فارسی کتابو کی لوستی وو، مگر ددهٔ له آثارو څخه داسی څرگندېږی، چې محقق او متبحر عالم نه ؤ، ځکه چې عربی لیکنی ئې معیاری نه دی دصحیح او موضوع حدیث تحقیق نه کوی، پخپله هم دډېر علم مدعی ندی(۵) او فارسی لیکنه ئې هم ناوړې خواوې لري، او په پښتو او فارسی کی ئې جوړ کړی

---

(۱) دطبقات الصوفیه طبع کابل ۱۳۴۲ش مقدمه وگوریء دحبیبی لیک.

(۲) محمد قاسم فرشته ۱٦۲

(۳) تذکرة الابرار ص ۲۹۲

(۴) مخزن ۱۲۸

(۵) وگوریء دصراط التوحید خاتمه او دخیر البیان ډیر ځایونه.

ACKU

نظمو نه هم ښکلي او خواږه ندي. سګردي بو رياضت کوونکی او ذاکر او د روحانيت پلو ته ورتېر تود مبلغ او مجاهد ښکاري پنځه کاله په کور کی په رياضت تير ول او انزوا او نفسي سير، دوني اثر لري، چې د سړي شخصيت خورا مؤثرسي او وينائي خلک وا روی کله چې د قندهار له سفره راځي، نو پنځه کاله په خلوت کی کښيني او په حالنامه کی ليکلي دي چې ده ته داسي هدايت وسو: «پس ترا بايد چون به خانه خود برسی، پنج سال بيرون نروی وبا خلق آميزش نه کنی، اگر درين پنج سال بکار دنيا مشغول شدی ترا به غضب خود مبتلا گردانم.»

بل ځای پسله پنځو کلو رياضت او خلوته بيا هدايت ورته کېږی:

«الحال پنج سال گذشت بايد که از خانه برايی و مردمانرا بسوی معرفت دعوت کنی و علم توحيد بيا موزانی! . . .»(۱)

په دي ډول د بايزيد نافذ شخصيت او اغيزه‌من تبليغي قوت او د قيادت لياقت او دا خبره چې څنګه خلک يوه لوړ مقصد ته پرلار رهي کي، د څېړلو او پلټلو وړ خواوی دی، او داسي چې بايزيد د رياضت او ذهني تمرين او مراقبې له لاری دوني سير آفاق وانفس کړی و، چې پر خلکو به د ده شخصيت اغيزه کوله، او د ده خبره به ئې په عقيدت او اخلاص اوريده او په ده کی دوني همت او عالي سجايا هم وو، چې غوښته ئې پادشاهان او مقتدران او د خپل عصر د برېمنې طبقې مشران خپل دعوت او موقف ته رابولي، او دا هغه وخت و، چې ده يوويشت کاله په نفسي پالنه او مراقبه او تزکيه کی تير کړي و، بيا په خپله وايي:

درين بيست و يکم سال مرا در خواب يا به الهام بشارت شده، که يک رساله يا خليفه سوی پادشاهان بفرست، تا دعوی توحيد در ولايت شان نشان در آرند، تا آن پادشاهان که از علم توحيد بيخبر بودند نيز بطلب علم توحيد بگمارند . . . مسکين گفته است: نظر دارم سوی پادشان واميران اين زمان که تا کدام پادشاه واميرباشد که

---

(۱) حالنا مه خطی.

ACKU

کار دین باخلاص اختیار کند، تادرمیان پادشاهان دیندار ودنیادارنامدارگردد ...(۱)

بایزید د دې دعوت او تبلیغ لپاره خپل معتمد مریدان او شاگردان شاوخوا ته واستول، قندهار ته ئې خلیفه مودود واستاوه چې په ډېر یښخو او کاسیو او ترینو کې ئې ترسنده اوسیدپوره پورې تکړه مریدان وموندل.

بل مرید دولت ته ئې، صراط التوحید ورکیء او د اکبر دربار هند ته ئې واستاوه، بله خپله یوه رساله فخرالطالبین ئې د خلیفه یوسف په لاس د بدخشان امیر میرزا سلیمان ته واستوله دغسې ارزانی خېشکی چې په عربي، فارسي، پښتو، هندي ئې شعرونه ویل، هند ته ولېږل سو، چې هلته «روښانی طریقه» خلکوته وښیي، او په دې ډول په ټوله پښتو نخوا او شاوخوا سیمو کې دده تبلیغي ډلې گرزېدی، او خلک به ئې روښانیت ته رابلل.

د دبستان مذاهب مؤلف وایي: شاه بیگ خان ارغون چې په خان دوران مخاطب و، او بایزید ئې لیدلی ؤ وایي: «کله چې بایزید د میرزا محمد حکیم دربار کابل ته راغی، د دربار علماء د مناظرې لپاره را ټول سول مگر بایزید دوی عاجز او پړه کړل، نو میرزا هم دی ایله کیء.» (۲)

اخوند درویزه چې د بایزید مخالف ملا دی هم دده عقل او هوښیاری مني او وایي:

بایزید ډېر په عقل پوره، د دنیا عقل ئې ډېرو، هوښیاری او زیرکي ئې ډېره زده وه . . . ځکه بازیدیو حکمتي و . . .» (۳)

ځنو لیکوالو د اخوند درویزه اختلاف یوازې مذهبي جنگ بللی دی او وایي «چې د هغه شا ته بې د مذهبي جذبې بل څه نه وو». (۴)

---

(۱) صراط التوحید ۲۷

(۲) دبستان ۲۰۱

(۳) مخزن ۱۳۰

(۴) تقویم الحق: د مخزن مقدمه لز.

دا خبره هم داسې ساده نه خلاصېږي، او دښنګه سره څېړنې او ګر و پېږ نی لري دروېښان دعصر تحلیل پخپله «سیاسی چوله» مومی، او یوازې «مذهبی جذبه» نه ښکاري، ددې خبرې اوږده څېړنه سا په تاریخ ادبیات پښتو دوهم ټوک کې لس کاله دمخه کړې وه، دلته با ید دا خبره هېره نسی، چې دمغو لو حکومت دلته دسیدعلی ترمذی پیربابا په وسیله داسلام په نامه دا تبلیغ کاوه، چې پښتانه باید دمغولو شاهانو داسلامی احکامو له مخې وسنې او ددوی اطاعت وکی، دمغولوټول زیارخو سیاسی و، اما دا چې پیر بابا او درویزه هم ددغه مقصد لپاره (پو هېد لی یاناپوهېدلی) کار کاوه، هم ثابته خبره ده. اخوند درویزه وایی چې دروېښان تبلیغی خط پیر بابا ته ورسېدی، نو هغه وویل :

«قوی بلابرین مردم افاغنین نازل شده معلوم نیست که نابود گردد، چه درین حدود پادشاه اسلام نیست.» (۱)

بل ځای وایی: اما ازین جا که دین وملت بی حکومت حکام اسلام تقویت نمی یابد فا یده نکرد (تبلیغ درویزه) زیرانکه پادشاهی اسلا م نه بوده تا سر او را ببرند. . .» (۲)

دا ښکاره کوې، چې د پیر بابا او اخوند درویزه دواړو مقصد سیاسی او په پښتنو د (اکبر پادشاه) منله وه، حال دا چې دغه داسلام پاچا (!) پخپله هم یوه بیله لار «دین الهی» را ایستلې و، چې محقق علماء یې مخا لف وو. (۳)

---

(۱) تذکرة الابرار ۱۵۱

(۲) مخزن ۱۲۴

(۳) اولف کیرو: پټهانان ۱۹۹

ACKU

۳

د روښان د سياسي مبارزې لارې چارې

ددې سريزې په لومړۍ برخه کې د روښان پير د عصر اوضاع او د خلکو ډلې وښولې سوې، او دا هم په تاريخي سند درته څرګنده سوه، چې د روښان غورځنګ د هغه ظلم او تيرې په مقابل کې و، چې د ټولنې د لوړې ډلې له خوا پر کښتو ډلو کېدۍ، او د دغو ظالمانو او مستحصلانو زبېښونکو په سر کې د هند د بابري کورنۍ شاهان او ددوی درباريان او حاکمان ولاړ وو.

لکه اخوند درويزه چې ويلي دي، روښان پير ډير هوښيار او حکيم سړی و ددهٔ جهان بيني او عصر شناسي خورا ژوره او واقع ليدونکې وه، ده تر قندهار او هند او سمرقنده سفرونه کړي، او ددې سيمو د خلکو روحيات ئې کتلي و، چې خلک څنګه د روحانيانو تابع وو؟ او په هر ځای کې له شاهانو تروګړو پورې ګرده خلک د صوفيانو او پيرانو پر خانقاهو باندې را ټولېدل.

روښان پير د خپلې سياسي مبارزې لپاره د مظلومې ډلې را ټولونه او جنګونه هم د روحاني لارې څخه کامياب ګڼله، نو ځکه ده خپله د طريقت او عرفان لار داسې وټاکله چې نر او ښځې دواړه په ګډه تلقين کړي، او موږ ګورو چې دده په مريدانو او مخلصانو کې ښځې هم سته، مثلاً د خير البيان د دغه اوسنۍ نسخه د عصمت پناهي بي بي خير خاتون لپاره کښلې سوې ده، چې د روښان له ډلې څخه وه (١٠٦١ق) او بله ښځه قاشي نومېده چې ده خلافت هم ورسپارلی و، او له اخوند درويزه سره ئې د خپل مسلک دفاعي بحثونه کړي دي. (١)

---

(١) تذکرة الابرار ١٣٧.

ACKU

علی‌محمد مخلص لیکی چی مودود دروښان پیر یو خلیفه قندهار ته واستول سو او هغه به: «هر روز دو وقت در میان زنان ومردان جائی بلند می سا ختند و بران می‌نشست، خیر البیان و مقصود المومنین پیش ایشان میخواند و معنی آنرا بیان میکرد، وزن ومرد آنرا می‌شنیدند . . .» (۲)

وایی چی دروښان ما ینه به هم په خلوت کی ناسته وه، او بیا به ئي دنورو مریدانو خدمت کاوه، او اخوند درویزه په همدي خبره کی دده مخالف و، دی وایي:

« سکه بازید یو حکمتی و ، ده په بېله آشنا یی کړ ، له عورتو،
لکه عورتی شوي گمراهی ، دا سردان ئی هم همراه شوه دغلطو،
دی بازیدو بلته تول کړه دعورتو دزلمیو مجلسونه ،
چی راځی سره کښېنی دښه خدای بولیءذ کرونه (۱)

روښان دخپل طریقت لپاره ښځو اونروته یو راز تبلیغ کاوه، او هر څوک چی

---

(۲) حالنامه ۳۴۱ خطی

(۱) مخزن ۱۳۰ . داچی درویزه ئی دونی ناوړه کار بولی او«جو ته زنمی اور پینه »گنی دا سلامی تصوف په تاریخ کی دمخه هم ښځی دطریقت اوتصوف په حلقو کی وی، مثلا دخواجه عبدالله انصاری هروی په ملگرو کی بی‌بی‌حرئمیه ام الفضل دعبد الصمد لور پیژنو چی په ۴۷۷ق‌وفات سوی ده او دعلم حدیث استاده وه (دابن عماد شذرات الذهب ج۳) ابن رجب په طبقات الحنابله (ج۱) کی وایی چی دخواجه عبدالله انصاری نونیه قصیده له محمد صید لانی څخه ښځو رانقل کړیده، ،دغسی‌هم دکسي غـره دشیخ یحیی کبیر په مریدانو کی ښځی وی، چی‌داو راو خپه قصه هم‌له دغه ځایه مشهوره‌سوی‌وه .

ACKU

په ئې مرید سو، دغه اووه صفتونه ورته ضروري وو :

اول: له حرامو څخه ځان ساتل .

دوهم: په خوړلو او څښلو کې اسراف نه کول .

دریم: په نرمۍ لږ لږ خبرې کول، او له ناوړو خبرو څخه ځان ساتل .

څلرم: لږ خوب، او په ویښه او خوب کې د خدای یادونه .

پنځم: د نیکانو صحبت او له بدانو څخه لیرې کېدل .

شپږم: تل او په پټه د خدای یادونه .

اووم: د خدای د توحید منلو په لاره کې تل زیار . (۲)

د انسان د نفسي تزکیې او روحاني ارتقا او سلوک لپاره له قدیمه پوهانو او سالکانو «مقامات» ټاکلي وو، د زردشت په مزدیسنا کې شپږ منزل، شپږ ویل، شپږ کول دري مقامه وو، کله چې هیون ـ تسنګ چیني زائر د ۶۴۴ م په شاوخوا کې افغانستان ته راغی، د دې ځای بودايي خلکو د بودا دغه اته ټاکلي مقامات لرل، چې د نجات پوړونه ګڼل کېده، سمه عقیده، سمه آرزو، سمه وینا، سم کردار، سم معیشت، سم زیار، سم ذکر، تفکر . او هغه څوک چې دغه مقامات تېر کې نو د «نروانا» او د نفس د سعادت پوړ ته رسېږي . (۳)

د اسلامي تصوف په تاریخ کې هم د انسان د روحي ارتقا او د نفس د تزکیې لپاره داسې مقامات موجود ؤ، چې ابوطالب مکي ډېر پخواني اسلامي صوفي په خپل کتاب قوت القلوب کې اووه مقامه (سبعة ابحر) بللي او بیا خواجه عبدالله انصاري هروي په منازل السائرین او صد میدان کې سل مقامه ګڼلي او پر دري پوړو ئې وېشلي دي خو عبداللطیف قادري په جواهر السلوک کې

---

(۲) صراط التوحید ۸۴

(۳) سي، یو، کي (د هیون تسنګ سفر نامه)

(دمد راس طبع ۱۲۸۳ ق) کې زرمقامه ځنې جوړ کړی دی.
روښان پیر دخپلې طریقې لپاره اته مقامه داسې ټاکي:

„ و کامل ومکمل آنست که صاحب ۱-شریعت ۲-طریقت ۳-حقیقت ۴- معرفت ۵- قربت ۶- وصلت ۷- وحدت ۸- سکونت بود...‟(۱)

ارزانی ئې داسې شرح کوي:

شریعت دره آغاز دی   طریقت ئې سوز و ساز دی
حقیقت حال دی په زړه کې   معرفت ئې سر راز دی
قربت ئې نږدیکی ده   په وصلت کې لاد و بې ده
په وحدت کې دویي نشه   سکونت کل نیکخوئي ده(۲)

داخو تولې هغه مقامات دي، چې دنورو صوفیانو په طریقو او ډلو کې هم وو، او سو یو گورو چې صوفیانو تل دغه مقامات په انزوا او نرمۍ اوصفا او صلح کې تیرول، اودسیراو سلوک نتیجه به یې هم داوه چې سالک به د صلح وصفا خاوند ؤ، له جنگه اوما دي تلاښه به تښتیدی، او انسان څه چې مچ او میږی به ئې هم نه آزارول.

خو د پیرروښان دتلقین او خلوت او پراتو مقاماتو دتلنگ نتیجه دا وه، چې په زرو سر فروش او فدا کار مریدان توره په لاس دسیاسي مبارزې میدان ته را وباسي. روښان پخپله له خانقاهه را ووت او دجگړې پرڼگر توره په لاس ودریدی، د ده مریدانواو زامنو اونوروا خلافوهم دعرفانه سره سیاست درلوداو دطریقت تر چوخې لاندې ئې تېره توره ملگرې وه.

دې له خپلو سیاسي مخالفانو سره چې دمغولو طرفداران وو، داسې معامله کوي:
په تیراه کې ځنې خلک به باطن کې دمغولو پرخوا وو، روښان ورته وو یل:

ACKU

---

(۱) صراط الوحید ۳۷

(۲) دارزانی خطي دیوان

که ستاسې زړونه د پردو سره نه دي، نو خپل لاسونه وتړی او راسیء ستاسې توبه هم د غه ده؟ نو له اعتقاده یاله بیرې دیر لس‌سوه تنه لاس تړلی ورته راغلل.

روښان د دوی ګڼه کاران ۲۲۰ تنه ووژل او نور ئي له تیراهه وشړل. (۱)

دلته باید لږ څه غور وکړو، چې د روښان هدف او مقصد څه و؟ ایا سیاسي و که نه؟

د مخه موولوستل: چې ده په قندهار کې د خپل قوم د مظلومیت یوه درد ناکه پیښه ولیده، او په خپل جدوجهد ئې پیل وکیء، چې دوی ته نجات ورکي.

د روښان پیرپه دعوت او تبلیغ کې د مغولو له ظلمه څخه د خلکو آزادي او په دوی کې یو ملي حکومت بیا جوړول شامل و، د ظلم غندنه د دوی د ادبي تخلیقا توسته ده، دولت وايي:

◆

په قیامت به ظالم واړه ډوب تر حلق پورې په خوی کا

عزرائیل به په آخردم ساتت د هر یوه مغزی کا

بایزید په خپلو مریدانو کې دیوالي او اتحاد روح پوکی، او دوی ته ئې یو د حکومت او سیاست ځلي ودراوه، شرعي عشرا خراج او مالیات به ئې ټولول او یو ملي «بیت‌المال» ئې هم جوړ کیء او داخوند درویزه په قول د ده زامنو سکه هم وهله (۲).

کله چې شیخ عمر د روښان زوی دده پرځای ودریدیء، اخوند درویزه لیکي:

«شیخ عمر خودرا پادشاه افغانان تصور کرده، حتی که مردم یوسفزی انقیاد بعضی او امر دنیوی او نموده بل بدادن عشرو خراج راضی شده (۳)

بیا هم د شیخ عمر حال بیانوي:

ACKU

«۱» تاریخ مرصع (خطی) او تذکرة الابرار.

(۲) مخزن.

(۳) تذکرة الابرار ۱۵۵.

شیخ عمر په جهان غړ و کښېستلی ،
چې راځيءزه پا دشاه شوسه،
دا دنیا به و نیسمه،
هر چې اوس ئې وی اکرام وسا راوړی،
خزا نې به وروېشمه.

(مخزن ۱۳۴)

له دې څخه ښکاري چې روښانیانو سیاسي تشکیلات لرل او یو حکومت غوندې سازمان ئې جوړ کړی ؤ. د دبستان مؤلف موبد دشیخ عمر د زوی احداد حال ښېي او وايي:

«احداد مردی بود عادل وضابط... و حق مردم را بمردم رسانیدی و خمس اموال که از جهاد بهم رسیدی، در بیت المال داشتی وآنرانیز بغازیان رسانیدی.»(۳)

تر شیخ عمر وروسته دده زوی جلال الدین د روښانیانو مشر سو، دده له خبرو څخه هم د روښانیانو سیاسي مقاصد او دیوه افغاني حکومت جوړول دا سې ښکاري. درویزه وائې:

دغه لا په ئې په خوله کړه چې بادشاه د پښتنو یم، پښتنو لره به ښه کړم .
پښتا نه پا پسې ځی، زه به هاتي داګرېاو دسکرې دروازې کړم.(۲)

دا خو د روښان د زامنو او لمسوله خولې راوتلې خبرې وې، چې د دوی لوړ عزایم ښیي، او س پخپله د روښان یوه لویه اراده داخوند درویزه په الفاظو کې واوريء:

«لښکر ي به کړم بنیا دنی هندوستان به ونیسمه، آوازې ئې کړلې ګډی، هر چې آس لري راځيء، آس په سا پوري یاسی !

---

(۱) دبستان مذاهب ۲۵۲.

(۲) مخزن ۱۳۵.

ACKU

داکبر پادشاه تنگی واړه زما دی، دوه گونه به در کوم دغه ښا دی.» (۱)
روښان او دده اخلاقو په هندوستان کی د پښتو خلجیانو اولودیانو او سوریانو د برم وختونه نه وو هیر کړي، او روښان په ښکاره وایی چی هندوستان به بیا نیسم، او دده زوی شیخ عمر د مغولو د پایتخت اگری او سیکری دروازی ماتوی، او داهغه لوړ عزایم دی، چی روښانیان ئی دډله ییزی مبارزی په صفت کی د رولی اوله تیری کوونکو سره ئی جنگولی وو.

دروښان د مؤثر شخصیت او اغیزه من سیرت یوه نخښه داده، چی ده په زړو فدا کار او سر فروشه مریدان وروزل، د وی به په تش لاس له غښتلی غلیم سره جنگیدل، او په خوړ یو جگړو کی به ستی کیدل، خونه ایلیدل او ونه ئی وسله غورځوله. د تیراه په چوری کی پیر روښان او دده ملگری د مغلو لښکرو را ایسار کړل، د غرو خلکو وسله نه درلوده، د چوری د رمی ډیری کلکی دي، نو روښان خپل مریدان وگمارل چی دا درمیء پریکویء اوسر ونه ئی تیره کوی، د استاسی وسله ده! روښانیانو په دغه وسله مغول مات کړل او د سانگو کار ئی ځنی واخیست (۲).

دروښان زامن او لمسی او ډیر درویشان اومریدان ئی په جنگو کی وژل سوی دی، موبد شاه یوه عجیبه قصه لیکی چی د روښانیانو سربازی او فداکاری ښه څرگندوی، او دا ښیی چی د دوی ښځو هم سرونه بایلل، خو مغولو ته ئی ځانونه نه سپارل:

«افغانان بعد ازوسال احداد، عبدالقادر بن احداد را بر داشته و بکوه رفتند و لشکر پادشاهی که گمان مسخر شدن قلعه نداشتند داخل قلعه شدند. دختراحداد

---

(۱) مخزن ۱۳۳

(۲) تاریخ مرصع، تذکرة الابرار.

در قلعه میگردید ،یکی ازلشکریان آهنگ گرفتن او کرد . دختر چادر بر چشم افگنده خود را از دیوار قلعه بزیر افگندو هلاک گشت » . (۱)

ددې ټولو فدا کاریو سبب هم داو ،چې روښان پیرخپلو پیروانو ته داورښو ولی وو، چې حاکمه ډله ددوی غلیمان او تالا کوونکي اوزبېښو نکی دی،او ددوی له تیریو او چورو چپاوه ځان خلا سول هم یو مشروع او ضروری کار دی.

روښان داپه ستر گولیدل ،چې دوګړو مبارزې ډیر ځله په دی سبب بریالی نه سی چې له دوی ځخه مرتجع او سازشکار عناصر دېدایانو اوزبېښو نکومقتدرانو په بډواوغوړوګواو اسوخته سی،نودمبارزې له میدانه وزي،اوتالي ځي ځتی جوړیږي' له ددې جهته دروښان په طریقت اوتلقین کې داخبره په ټینګه داخله وه،چې د مغولو سره به دوستي اونږدیکې نه کوي له دوی ځخه به ځان ایری ژغوری؛ اوراشه درشه به نه ورسره کوی . ددې تلقین اغیزه داوه' چې موبدشاه دسلطان ذوالقدرله خولې وایی :

«چون به فرمان سعیدخان بخواندن عبدالقادر رفتم ،اقسام اطعمه واشربه بهراو می‌آوردم ،تابدان فریفته شود. روزی یکی ازافغانان پیر،بعدازچشیدن حلوا برخاست وگفت: ای عبدالقادر! اززمان نیای بزرگوار توتا این زمان، قدم مغول اینجا نرسیده است این مردیکه آمده میخواهد ترابجامه سرخ وزرد واطعمهٔ چرب وشرین که رغبت بدان، دین اصحاب بطن،ونفرت آن آئین درویشانست بفریبد. صلاح در ینست که اورا بکشیم،تادیگری ازهراس بدینجا نیاید اما عبدالقادر و مادرش بی بی علائی که دختر میان جلال الدین است راضی نشدند .

روزیکه عبدالقادر داخل اردوی سعیدخان میشد،ازآواز نقاره و کرنای،اسپ او می ترسید ،ازمیان مردم بر کنار میرفت . افغانی باوگفت:آنچه حضرت میان روشن فرموده

---

(۱) د بستان مذاهب ۲۵۲ .

ACKU

است ؟ اسپ بجاسی آورد وشمانه خمار این مستی خواهید کشید ا عبدالقادر پرسید میان چه فرموده است ؟ افغان گفت: «ازمغولان دوری واجتناب . » (۱)

دغسی ډله ییزه کر که د روښان دمبارزې یوه اغېزه منه وسله وه، چې پای ئې سر بایلل او ځان واری کول و؛ لکه دا حداد لورا وپه ز رو نو رفدا کارسرباز ان اوتور کښان (۲)

ACKU

---

(۱) دبستان مذاهب ۲۰۲

(۲) دا کلمه په خیرالبیان کی دعسکر اوسپاهی په معنی راغلې ده ، چې په پخوانو آریا ئیانو کی کشتری وه .

۳

د روښان پیراد بې ځنګ او دده تالیفونه

روښان په څلور ژبو پښتو، فارسي عربي، پنجابي پوهېدی، او په دغو څلور ژبو ئې لیک او لوست هم کاوه، په څلورو سرو ژبو کښلي او لیکني هم لري .

په پښتو لیکنه کې دی یو خاص « سبک » لري، چې تر ده د مخه ئې موږ مثالونه په پښتو ادب کې ندي لیدلي .

تر ده د مخه موږ ځني دهغې خزانې منظومې لرغونې ټوټې او دسلیمان ماکو د تذکرې منثورې نمونې (۶۱۲ ق ۱۲۱۵ م) لرو، چې گرده دپښتو ژبې دنظم او وینا له سبون او پیودون سره برابرې دي، یعني په هغه ډول چې خلك پښتو وایي، لیکوال هم خپل مطلب پر هغه ډول سم لیکي، جملې او افعال او روابط پر خپل خپل ځای پردي

مگر په عربي او فارسي ادب کې اته سوه کاله د مخه یو راز فني نثر هم باب سوی و چې جملو به ئې « سجع » درلوده، او لیکوال به داسې مسجعې جملې سره پیودلې، چې د پای کلمې به ئې سره یو رنگه او موزونې وې، د دغه راز مسجع نثر نمونې په عربي ادب کې دالعتبی تاریخ یمیني او دابوالفتح بستي اقوال دي، او په فارسي ادب کې مقامات حمیدي او ځني منشآت دي، چې گرده دافغانستان په سیمو کې کښل سوي دي .

ځکه چې دغسې « فني نثر » دایشیا په عربي او فارسي ادب کې ځای نیولی و، او پخپله افغانستان کې ئې بولگې لیدلې کېدې، نو که روښان خپل پښتو نثر د دغو

ACKU

روایاتو او سوابقو سره سم په فنی او مسجع ډول کښلی وی ، کومه لیری خبر نه ښکاری پخپله بایزید د دغه سبک د غوره کولو سبب ، یوا لهاسی ډ غ گڼې چې ده ته وویل سوه :

« او بایزیده ! وکښه خیرالبیان ـ په هغه هسې الحان ـ چې دې به لوست سورت الرحمن» . (۱)

په دی ډول روښان د قرآ ن عظیم د سورة « الرحمن ، علم القرآن ، خلق الا نسا ن، علمه البیان » (۲)

په تقلید د خیرالبیان د پښتو جملو په پای کی د (آ ن ـ آ م) مسجع ساتلې ده ، لکه چې وایی:

«وکښه ! زما په عنایت خیر البیا ن ،
نه کښل پیغامبرانو ، اولیاگانو کتابونه له تا وړا ندې ؟
اونه ئی کړه بندگی ، چا رښېگړی ، زما بی عنایته بی توفیقه ،
په تاد ې وی اعلام . » (۳)

خیر البیان د پښتو پېژندل سوو کتابو څخه یو پخوانی منثور او سوړ ته را رسیدلی کتاب دی ، چې د پښتو خاصو حروفو لپاره ځانته اشکال او املا لری ، او ښاغلي لوستونکی به ئی په دغه واحده خطی نسخه کی وگوری .

دانسخه پنځه ویشت کاله د مخه په لندن کی د مرډین سن راس ا نگلیسي

---

(۱) خیرالبیان ۱۲

(۲) قرآن عظیم ۵۵ سورة ۱ – ۴ آیتونه پا ره ۲۷

(۳) خیر البیان ۱۶

مستشرق څخه وه، چې لومړی پلاد ناروی ختیځ پوهاند مارګن ستیرن د هند د لرغونو آثارو په مجله ج ۱۱ ګڼه ۵ ص ۳٦٦ (بمبی ۱۹۳۹۵م) کې یوه مقاله پرو کښله، دا نسخه تر دوهم جهاني جنګ وروسته د توبنګن د پوهنتون (جرمني) په کتابخانه کې پیدا سوه، او په ۱۳۴۲ش کال د کابل د استقلال په جشن کې د جرمني سفارت په نندارتون کې ایښې او ساتیدلې وه، او تر دغه د مخه ئې یوه عکسي نسخه هم ښاغلي بینوالاس ته راوړې وه چې د هغه له رو په دغه اوسني عکسي نسخه چاپیږي.

تر روښان پېرو روسته اخوند درویزه خپل پښتو او فارسي مخزن الاسلام د ۱۰۱۵ تا ۱٦۰۵م په چاپیر کې و کیښ، چې د موضوع له پلوه د خیرالبیان او روښانه سره معارض دی، مګر په سبك او انشاء کې د روښان پیروي او تقلید کوي او تر دې وروسته موږ ګورو چې په پښتو کې ډېر منثور کتابونه راوتلي او ټولو د پیر روښان د سبك پیروي کړې ده، او له دې جهته نو باید د پښتو ادب په تاریخ کې د پیر روښان د سبك په نامه یو خاص څپرکی (فصل) ټاکلی دی. (۱)

د پیر روښان پر عرفاني او تصوفي افکارو او د ده پر طریقت او د ذکر او خلوت باندې ډېر اعتراضونه سوي دي، چې ځنې اعتراضونه د تعصب او سیرځي په جوله کې دي، او مخصوصاً **اخوند** درویزه خود د ده لوی رقیب دی، او هر ځای ده ته بدکنځل کوي او غندي ئې، مګر د پښتو په لیکنه کې د ده پیروي کوي، او عکسي ئې کاږي لکه خیرالبیان چې کښل سوی وو.

د روښان د دغه تالیفونه تر اوسه پورې زه پېژنم:

۱ـ خیرالبیان: په څلور ژبې پښتو، عربي، فارسي، پنجابي چې فقط دغه یوه خطي نسخه ئې په دنیا کې پیدا سوې، او دغه دی چې اوس عین هغه نسخه عکسي

---

(۱) وګورئ: پښتانه شعراء لومړی ټوك او د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك.

ACKU

چاپ سو، اودمخه په ۱۰۳ مخه کی په پېښور کی دحافظ محمدعبدالقدوس قاسمی په تحشیه او مقدمه او اهتمام چاپ سوی ده: جون ۱۹۶۷ م

دالوموړی چاپ په زیار تیار سوی او ښاغلی حافظ قاسمی گټوری حاشیی پرلیکلی دی، مگر دخیرالبیان دگرامراو بیان اووزن اوسجع اوکلماتوتحلیل ډېر نور کار هم غواړی، او د پښتو خېړنو لپاره یومخوراغوره ذخیره ده.

۲-مقصودالمومنین: عربی کتاب دیء چی روښان دخپل زوی شیخ عمر په غوښتنه کښلی دی اوهر ځای هغه ته ولدی العزیز خطاب کوی او ۹۵ پاڼې ۲۱ فصلونه لری، یوه خطی نسخه ئې دلاهور دمرحوم پروفیسور محمد شفیع په کتابخانه کی مالیدلی وه، چی له دغی نسخې څخه دلاهوردا ورینټل کالج میگزین په مجله کی چاپ سوی هم دی، دانسخه شل فصله لری، اود ۱۲۲۴ق کال په ربیع الثانی کی په نستعلیق کښل سوی ده، چی تر لیکولاندی ئې فارسی تحت اللفظ ترجمه هم سته.

بله خطی نسخه ئې دحیدرآباد دکن په آصفیه کتابخانه کی سته، چی په ۱۲۲۶ق کښلی سوی ده اوبروکلمن ئې هم نوم راوړی دیء (۱).

دمقصودالمومنین مطالب عرفانی اوتصوفی اوشرعی دي، مگر ژبه ئې معیاری ادبی عربی نده، ډېری گرامري ناوړی لری اوداسې ښکاري چی لیکوال ئې په عربی گرامر لږ پوهیدیء.

۳-صراط التوحید: داکتاب په فارسی ژبه په ۹۷۸ق کال تالیف سوی دی، چی په ۱۱۵ مخه کی په ۱۹۵۲م کال له پېښوره چاپ اوخپور سو، ماته گوډه فارسی اوعربی ده. مگر دواقعاتو د بیان او د روښان د طریقت په لحاظ ښه معلومات لری، پاچاهانو اوامیرانو ته خطاب کوی، او د وی عدالت او انصاف

---

(۱) بروکلمن: دعربی ادبیاتو تاریخ ۲ ج ۹۹۱.

ACKU

اوتوحید اومعرفت او شریعت ته راغواړي ، او ځینو کتابو لکه مقصد اقصی (دعزیز نسفی تالیف) اوامیریه او درویشیه ته حوالی ورکوی .

داهغه کتاب دی چی دحالنامی په قول ئی یوه نسخه داکبر پاچا دربار ته هم استول سوی وه . (۱)

۴- فخر الطالبین: داکتاب دحالنامی په قول پیژنو، چی وایی: بایزید دغه رساله دخلیفه یوسف په لاس دبدخشان حکمران میرزا سلیمان ته لیږلی وه، دغه میرزادخان میرزا زوی اود بابر تربور و، چی په ۹۹۷ ق کال په لاهور کی وفات سو (۲) .

دفخرالطالبین کومه خطی نسخه تراوسه نده موندلې سوې .

۵- حالنامه: موبد ددبستان مذاهب مؤلف وایی: «وحالنامه کتابی دارد که در آنجا احوال خودرا بازگذارده .» (۳)

داکتاب بایزید په فارسی کښلی و، چی وروسته داورنګزیب په وخت کی دده د کورنی یو مرید علی محمد بن ابو بکر قندهاری چی تخلص ئی «مخلص» و، داکتاب تکمیل کړ، اودده دزامنو اولمسیو او د کورنی حال ئی پر زیات کړ .

چی دغه کتاب دبایزید اودده د کورنی په شرح حال کی یو ټینګ او دباور وړ ماخذ ګڼل کیږی .

دهند دعلی ګړ په شرقی کتابتون کی دحالنامی یوه خطی نسخه (نمبر. ۳۸۰. ۹۲) سته، چی ۵۲۶ مخه ده او ۱۵ جزوه لری، او دتالیف وخت ئی ۱۰۵۰ ق کال ټاکلای سو .

---

(۱) اسلامی دائرة المعارف ج۱ دبایزید کلمه.

(۲) اکبر نامه ۳ ر ۵۵۱ .

(۳) دبستان ۲۵۱ .

ACKU

٦- د پښتو رسم الخط :

د دولت په خطي دیوان (ص ۳ د پښتو ټولنې نسخه) کې دا بیت راغلی دی :

افغاني لفظ مشکل و لوست کوښښ نشه   ورته وشوه کننده د یارلس حرفونه

د خیر البیان دغه یوازینی خطي نسخه چې عکس ئې وینئ په سر کې ۱۴ مخه یوه رساله لري، چې د رسم الخط او پښتو لیکدود بیان دی، د ارزاني او دولت قلمي دیوانونه چې ما لیدلي دي، او د قندهار د مرحوم دوست محمد بړیڅ د یوې بېنومې نسخې (چې د روښان په طریقه پورې اړه لري) لیکدودونه د خیر البیان د دغې سریزې سره برابر دي، او ښایي چې دغه رساله پیر روښان د پښتو لیکدود (۱) لپاره کښلې او بیا ئې د خیر البیان په سر کې ور اچولې وي، چې لوستونکي ئې په لیکدود خبر شي (۲).

د مولانا قاسمي د خیر البیان په سریزه (ص ۵) کې پیر روښان ته دوه نور کتابونه یو مکتوبات او بل پنجابي منظوم کتاب «اجیدد ي شلوك» (مرتبه او نکار ناة) منسوب شوي دي، مګر دا دعوا په کوم سند نه لري، نو ئې زه د ده په تالیفو کې نه شمیرم، خو یو بل کتاب چې خطي نسخه ئې اوس ما کتلې ده او د نسخې سې نه پېژاند دا ته د ده په تالیفاتو کې زیاتوم، دا کتاب تر اوسه نه شرقي پوهانو او نه مستشرقانو پېژندلی دی :

---

(۱) اورینټل کالج میګزین ص ۳۵ سی ۱۹۴۳ لاهور .

(۲) د تفصیل لپاره وګورئ . د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲ ر ۲۹۰ .

۷- د روښانیو نوموړکي تألیف:

د کابل د خطي نسخو په کتابتون کې یوه مجموعه سته چې په جیبي قطع یو څو خطي کتابونه پکښې را ټغبنت سوي او ګنډل سوي دي :

۱- لومړی برخه ئې د جزء عم یو فارسي تفسیر دیء، چې غالباً به د تفسیر حسیني (مواهب علیه) آخرنۍ پاره وي، د دې برخې په لومړي مخ باندې یو مدور ۲ × ۲ سانتي مهرسته، چې په ښه نستعلیق خط پر کښلي دي: «۱۰۳۴ بنده یاری سر ید بایزید انصاري همدان بن شیخ نعمت» او له دې څخه داښکاري چې د ۱۰۴۳ قمري هجري کال په شاوخوا کې همدان نومي د روښان پیر مرید د دغې مجموعې خاوند ؤ.

دغه تفسیر تر سورة الناس پورې تمامېږي، او په پای کې د کاتب امضا او تاریخ نلري، خطئې خوانا نستعلیق او آیات په سره متوسط نسخ کښل سوي دي.

۲ - تر دې وروسته یو فارسي لنډه رساله «بیان ذکر الخفي المستجلب للاجر الوفي» ده چې څلور نیم کوچني مخونه لري او مؤلف ئې نه دی معلوم.

۳ - تر دې کوچنۍ رسالې وروسته رسالهٔ غوثیه داسې شروع کېږي: «حمد بسیار و شکر بیشمار مر حضرت خدایرا ...

د رسالې د لیک دول داسې دی، چې په سره خط «قوله تعالی یا غوث اعظم» کاږي، وروسته د دغه غوث اعظم یو عربي خبره رانقلوي، بیا نو د هغې ترجمه په فارسي لیکي، او کله کله ځنې فارسي بیتونه هم په دغه ترجمه کې ځای لري، چې منثوره فارسي ترجمه ئې روانه او ښه ده، مګر د دغه منظومات ئې سات او ګوډ او بې وزنه او په معنی کې ضعیف ښکاري. او عربي ئې هم د یوه پاخه عرب لیک نه ښکاري، او ناوړې لري، چې متأسفانه دغه غوثیه رساله ناتمامه ده او د لیک تاریخ او د کاتب او مؤلف نوم نلري، په سر کې بسمله حمده او نعته د اسې شروع کېږي: قول تعالی یا غوث اعظم ...

داسلامي ادبياتو په‌تاريخ کې‌موږ تررونبان پير دمخه دوې الرسالة‌الغوثيه پيژنو : يوه‌دشيخ محي الدين محمدابن‌عربي (مړ ۶۳۸ ه ق) داسې پيل کيږي: الحمدلله کاشف‌الغمه . . . بله : دشيخ عبدالقادر گيلا ني‌غوث‌الاعظم(۴۹۱-۵۶۱ ق) په‌نامه ده. (۱)

دداوړه رسالې دغسې‌دي، چې‌دخداى تعالى‌له‌خواڅخه‌د وى‌ته‌د غوث په‌نامه خطاب کيږي ، اودى دغه‌خپل الهامات په‌دغورسالو کې کاږي .

وا يي‌چې‌شيخ عبدالله شطاري‌دبهلول سند يلي‌زوى چې په آگره کې په ۲۳ جما دى‌الاولى ۱۰۱۰ ق مړدى، پردغې رسالهٔ‌غوثيه باندى شرح کښلې وه (۲) اومولوى عبدالمجيد بدايوني (مړ ۱۲۶۳ ق) دملفوظات‌غوثيه جوا هر الرحمن شرح دموا هب‌المنان په‌نامه کړې‌ده (۳) اود غوث الاعظم جيلا ني زوى سيد عبدالرزا ق هم‌يو « ملهمات قادري » تأليف کړى‌و ، چې‌ترجمه يې په هند کې شيخ نظام‌الدين کاکوري په فارسي کړې وه . (۴)

داچې رساله غوثيه اوملفوظات غوثيه اوشرح مکالمات غوثيه (د پيښور د اسلاميه کالج مخطوطه) (۵) دري‌سره يوشان دى او که‌بيل کتابونه دى ، اوږده

---

(۱) کشف الظنون ۸۷۹ د استانبول چاپ ۱۹۶۷م اواسماء المؤلفين ۱ ر ۵۹۶ داستانبول چاپ ۱۹۵۱

(۲) رحمان علي : تذکرهٔ علماى هند ۱۰۳ دلکهنو چاپ ۱۹۱۴ م .

(۳) دغه کتاب ۱۳۳

(۴) دغه کتاب ۳۳

(۵) مولوى‌عبدالرحيم : لباب‌المعارف،ن ۱۰۳۶ ص ۱۹۲ داگرې طبع۱۹۱۸م دبرو کلمن په قول ددې رسالې يوه خطي نسخه داسکندريې په کتابخانه کې هم‌شته .

ACKU

مطالعه او څېړنه غواړي، چې اوس دستې دلته زما څخه نه دغه کتابونه سته او نه ئې د پېژندنې وسایل لاس ته راځي، نو زه دغه خبره، نورو پلټنو څېړنو ته پرېږدم، خو دلته دغه زموږ د خطي کتابخانې مجموعه سره سپړم:

متأسفانه د دغې مجموعې څو پاڼې د رسالهٔ غوثیه په پای کې لوېدلې او ورکې سوې دي، او د دغه ډول خطاب یاغوث اعظم او د هغه فارسي ترجمه هم پرې سوې ده، دا نه ښکاري چې څو نې پاڼې به ئې نیمه خوا سوې وي؟ خو وروسته ځنې آیات او عربي مقولې او د صوفیانو خبرې دي، چې په فارسي ترجمه یا شرح اري، دا هم ډېر مخونه دي، خو د سراوسنې پاڼه ئې د غوث اعظم د رسالې سره په مضمون کې نښتون او سمون نلري، نو ځکه زه نسوای ویلای چې دا دې رسالې نوم څه دی؟ آیا دا د هغې د مخنۍ رسالهٔ غوث اعظم پاتې برخه ده که څه؟ مګر د دې آخرنۍ برخې په منځ کې یو ځای داسې وايي:

قال بایزید مسکین: مع الساکن ذکر اسم الله فضیلة و ذکرالله فریضة، لایذکر الانسان شیئی بغیر معرفت الاسمه وچون تراازخدا پرسند چه جواب مي دهي و چه میگوئی؟ آن روز دروغ گفتن بکار نیاید وبه دروغ نگذری ونجاة نیابی که خدای تعالی به دروغ گو یان لعنت گفته است کماقال فنجعل لعنةالله علی الکاذبین...»

د عربي او فارسي نوشتې بڼه او جوړله د روښان پیر د نورو تألیفاتو له موضوع او سبك او ډول سره برابره ښکاري او ځکه چې په صراحت د بایزید مسکین نوم اخلي، او داهم د خیرالبیان او صراط التوحید او مقصود المؤمنین سره سم دي، نو ځکه دغه رساله هم د پیرروښان ګڼم.

بل دلیل دا دی، چې دغه رساله داسې ختمیږي:

«قال بایزید مسکین ابن عبدالله: راحت روح کان وصف الله و غذا به صفة البشریة، فکل راحت یهلک عن الانسان، بغیر وصف الرحمن.

ACKU

این رساله مختصر کردم تمام عاملانش امن یابند جاویدان تمت تمام شد کارمن نظام شد، امیدوار است بالطف باری همدان ابن شیخ نیعمت (کذا) مرید میاروښان انصاري... تحریر في تاریخ ۱۷ شهر شوال ۱ ۴۳ (۱۰۴۳ق)»

دغه نوشته ښيي چې د کتاب کاتب هغه د لومړني مخ د مهر خاوند دی، چې (۱۸) کاله ئې د خیرالبیان د خطي نسخې تر کښلو د مخه دغه فارسي او عربي رساله کښلې وه، او مؤلف ئې هم بایزید پیر روښان دی.

د دې مقصد لپاره دا هم یو دلیل کېدای شي، چې مضامین ئې اکثر د پیرروښان د نورو تالیفاتو سره په ظاهره او په معنی کې پوره شباهت لري، د عربي لیک ئې پر ادبي معیار پوره سم ندی، فارسي نظمونه ئې سات او ګوډ دي، او په معنا کې ډیر ورسره ورته دي.

تاسې د روښان عربي مقوله راحت روح کان.... لوړه ولوسته چې د خیرالبیان له دې جملې سره معنوي او ظاهري شباهت لري:

«راحة الروح وصف الرحمن وعذابه وصف الانسان.... ذات وصفات المخلوقین تغیر وتهلک ولا تغیر ولا تهلک ذات وصفات الرحمن.

څو مخه وروسته وایي: «من دخل بالصدق في وصف الرحمن و خرج عن وصف الانسان فوجد راحة الایمان.»(۲)

اوس به نو موږ و یقین ته نږدې دا وویلای سو چې، د دغه خود روښان یوه رساله ده، مګر کومه رساله؟ تراوسه ئې نوم ندی ښکاره.

دلته باید دا خبره هم هېره نکو: چې د دې مجموعې ناتمامه رسالهٔ غوثیه هم

---

(۱) خیر البیان ۲۹۱، ۲۹۲

(۲) خیر البیان ۲۹۸

دعبارت او معنا له پلوه دحضرت شیخ عبدالقادر جیلانی یا دده دزوی سید عبدالرزاق جیلانی یا دشیخ محی الدین ابن عربی نه ښکاري، (۱) د عربی انشاء په لحاظ باید دیوه عجمی (غیرعربی) لیکلی وی، چی زه دغه رساله هم دروښان پیر آثارو ته ورته گڼم. په خیرالبیان کی چی بایزید د کومو الهاماتو مدعی دی، په هغو کی کله کله ده ته د «**یاغوث الاعظم**» خطاب هم سوی دی (۲) نو هیڅ دتعجب خبره نده، چی دابن عربی او شیخ جیلانی په پیروی دی روښان دغسی یوه رساله هم تألیف کړی وی، نوځکه چی ده ځان پیر کامل او مکمل گاڼه او مریدانو هم «لوی غوث» ماته، که موږ ددغی رسالې شباهت دروښان له نورو آثارو سره په مضامینو او په ناوړی عربی انشا او ماتو گوډو فارسی منظوماتو کی وگورو، نو ضرور دا فکر پیدا کیږی، چی دغه رساله غوثیه به هم د بایزید تألیف وی. مگر دا به هاته یقینی سی، چی ددی رسالو پوره متنونه وموندل سی، بیا دغوث الاعظم جیلانی او دده دزوی له منسوبه آثارو سره مخامخ او مقابله کړه سی.

په دغه خطی مجموعه کی چی دروښان پیر دغه ناپیژندلی آثار گڼل سوی دی، یوه نسب نامه غوث الاعظم جیلانی او سلسلهٔ خواجگان چشت او ددوی مقامات هم سته، او بیانو د کحل الجواهر رساله ده چی په ۵ جمادی الاولی ۱۲۸۸ په قریهٔ روضه کی لیکل سوی ده. په آخر کی دنقشبندیانو سلسله او ددوی لطائف او مقامات او اذکار دی خو دا کتاب هم نا تمام دی.

د مجموعې دغه وروستنی برخې په اوسط نستعلیق پرسپین خوقندی کاغذ کښل سوی دی چی په خط او کاغذ کی له لومړیو برخو سره اړه نلری.

په هرډول دغه مجموعه د مختلفو او ډول ډول متنو یا تو له رویه یوه مفیده او ارزښتی نسخه گڼله کیږی او د کابل د خطی نسخو یوه غوره مجموعه ده.

ACKU

---

(۱) وایی چی د نفری عربی کتاب المواقف هم دغسی الهامی رنگ لري (قاسمی دخیرالبیان مقدمه) (۲) خیرالبیان ۲۹،۲۱۸

3471

دبایزید روښان یادونه

د

عبدالرؤف بینوا

ACKU

دبایزید روښان یادونه

په دی لیکنه کی می د محترم او فاضل دوست پوهاند رشاد په گمارنه د هغو آثارو نومونه او د هغو لیکنو عنوانونه د الفبا په ترتیب راغونډ کړی دی چی د پښتنو د ستر شخصیت بایزید روښان یادونه پکښی سوی ده.

دا کار له دوو حیثو بی گټی نه دی: یو دا چی د بایزید روښان د شخصیت سترتوب ځنی څرگندیږی چی په شرق او غرب کی نومیالیو پوهانو او لیکوالو ورباندی په جهانی سویه لیکنی کړی دی، او بل دا چی که یو څیړونکی وغواړی چی د بایزید روښان د ژوند پر پیښو څیړنه وکړی، له دی لیکنی څخه په آسانی کولای سی د بایزید روښان په باب کی د مأخذونو څرک ومومی.

زه اعتراف کوم چی دا لیکنه به هم لکه څنگه چی ښایی بشپړه نه وی، څو تر کمه ځایه چه ممکنه وه، ما خپل وس نه دی سپمولی او هیله ده چی وروسته به بشپړه هم سی.

«بینوا»

ACKU

۱ ــ آریانا دائرة المعارف په دري ژبه:

څلورم ټوک له «اولنیما توم» څخه ترجمې ولیم پورې د افغانستان د دائرة المعارف د ټولنې خپره ونه.
دچاپ کال: د ۱۳۴۱ هـ ش تله ۱۹۶۲ م سپتمبر د چاپ ځای: کابل دولتی مطبعه.
په ۵۴۲ مخ کې تر ۵۴۴ مخ پورې د «پیرروښان بایزید» ترنامه لاندې ئې یادونه شوې ده.

۲ ــ آریانا دائرة المعارف په پښتو ژبه:

دپورتنی څلرم ټوک پښتو متن.

۳ ــ آریانا مجله په دری ژبه:

اووم کال نهمه او یوولسمه ګڼه د «نهضت های آزادیخواهی افغان» ترعنوان لاندې د پوهاند عبدالحی حبیبی لیکنه په لومړی مخ کې چې په هغه کې ئې د روښانیانو پر نهضت ښه رڼا اچولې ده. دچاپ کال ۱۳۲۸ هـ ش د افغانستان د تاریخ د ټولنې میاشتنۍ خپرونه.

۴ ــ اسلامی دائرة المعارف ــ په انګریزي ژبه:

The Enclopaedia of islam Edited By
M. Th Houlsma, T. W. Arnold. R. Basset and R. Hartmann
لومړی ټوک له A څخه تر D پورې دچاپ کال: ۱۹۱۳م د چاپ ځای: لندن د ۶۸۶ مخ په لومړی ستون کې تردې عنوان لاندې
Bayazid ansari Pir Roshan

د بایزید روښان یادونه راغلې ده.

ACKU

۵ــ اسلامی دائرة المعارف ــ په جرمنی ژبه:

ENZYKLOPAEDIE DES 1SLAMBAND I

دلومړی ټوك په ۷۱۳ مخ کی تر۷۱۵ پوری د

BAYAZID ANSARI PIR ROSHAN

ترنامه لاندی دبایزید روښان یادونه لری .
دچاپ کال :۱۹۱۳م دچاپ ځای : لندن.

٦ــ اورینټل کالج میګزین :

دایوه مشهوره مجله ده ، ددی مجلی د۱۹۵۵ م کال دفروری د میاشتی دګڼی په ۹۳ مخ کی د ډاکټر جهانګیر په قام د پیر روښان د مکتوبات په باب کی یادونه سوی ده .

۷ــ بایزید روښان ــ په پښتو ژبه :

دښاغلی قیام الدین خادم تألیف چی په ۱٦۳ مخو کی د۱۳۳۲ هش کال دسلواغی په ۱٦ د پښتو ټولنی له خوا په کوچنی قطع چاپ سوی او دبایزید روښان دژوند پراجتماعی او تصوفی خوائی رڼا اچولی ده .
دا کتاب دپورتنی کال د کابل مجلی په پرله پسې ګڼو کی هم خپور سوی دی.

۸ــ پټانز ، دانګریزی ترجمه په اردو ژبه :

دانګریزی سیاس او مؤرخ ښاغلی (اولف کیرو) تألیف او دسید محبوب علی اردو ترجمه ، چی په ۱۹٦۷ م کال د پیښور د پښتوا کیډیمی له خوا په خیبر میل پرس کی چاپ سوی دی .

ددی کتاب په ۲۷۷، ۲۸۰، ۲۸۵، ۲۹۲، ۲۹۳ او ۳۱۹ مخو کی دبایزید روښان یادونه سته .

۹ــ پښتانه ، په پښتو ژبه:

چی د ۱۳۵۰ هش کال دوړی د میاشتی په نهمه په کابل کی دهغه وخت دقبائلو دمستقل ریاست له خوا د میا خان اپریدی په اهتمام چاپ اوخپور سوی دی .

ACKU

د دې خپرونې د دوهم ټوک په ۳ مخ (د پیروښان نهضت او جنګونه) ترعنوان لاندې تر ۶ مخ پورې ئې یادونه راغلې ده.

۱۰ـــ پښتانه د تاریخ په رڼا کښې په پښتو ژبه:

د ښاغلي سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل تألیف چې د ۱۳۸۴ ه ق ذی الحجې په ۲۹ او د ۱۹۶۵ م کال د مې په دوهمه په ۱۴۰۰ مخو کې د پېښور د (یونیورسټي بک ایجنسي) له خوا چاپ او خپور سوی. د دې کتاب په ۶۶۴ مخ کې تر ۷۰۷ مخ پورې د (روښانی تحریک ترعنوان لاندې د بایزید روښان د تحریک حالات راغلي او د ده د کورنۍ یادونه سوې ده.

۱۱ـــ پښتانه شعراء په پښتو ژبه:

د پوهاند عبدالحی حبیبي او د هغه وخت د پښتو ټولنې د نورو غړو په ګډه تألیف چې په ۱۳۲۰ ه ش کال د کابل په عمومي مطبعه کې د محمد ګل نوري په اهتمام چاپ او د پښتو ټولنې له خوا خپور سوی دی.

د دې کتاب د لومړي ټوک په ۲۳ مخ کې (د روښانیانو دله) ترعنوان لاندې تر ۲۷ مخ پورې د بایزید روښان او د ده د شاګردانو یادونه سوې ده.

۱۲ـــ پښتو درې میاشتنۍ مجله:

چې د مولانا عبدالقادر په نګرانۍ او د ښاغلي خیال بخاري په چلونه د ۱۳۷۷ ه ق کال په ربیع الاول او د ۱۹۵۸ م په اکتوبر د پېښور یونیورسټۍ د پښتو اکېډېمۍ له خوا چاپ او خپره سوې ده.

د دې مجلې په ۲۴ مخ کې د مولانا عبدالقدوس په قلم د (بایزید روښان) ترنامه لاندې تر ۳۶ مخ پورې یو محققانه یادونه راغلې ده.

۱۳ـــ پښتو درې میاشتنۍ مجله:

د ۱۹۵۸ م کال د جولائي اګست او سپتمبر د میاشتو لومړي جلد څلرمه ګڼه چې د مولانا عبدالقادر په نګرانۍ او د ښاغلي خیال بخاري په چلونه د پېښور د یونیورسټۍ د پښتو اکېډېمۍ له خوا په منظور عام پریس کې چاپ سوې ده.

ACKU

د دې مجلې په ۱۰۳ مخ کې تر ۱۱۹ مخ پورې د بایزید روښان مذهبي افکار تر عنوان لاندې د مولانا محمد عبدالقدوس په قلم یوه پخه لیکنه شته.

۱۴ — پښتو دري میاشتنۍ مجله :

د ۱۹۵۹ م کال د جولائي، اګست او سپټمبر د میاشتو د دوهم جلد څلرمه ګڼه چې د پېښور د یونیورسټي د پښتو اکېډیمۍ له خوا خپره سوې ده، د دې مجلې په ۱۹ مخ کې د بایزید انصاري تر نامه لاندې د مرحوم ډاکټر محمد شفیع د هغې مقالې پښتو ترجمه خپره سوې ده چې هغه مرحوم د انګریزي انسائیکلوپیډیا آف اسلام نوي ایډیشن ته ور کړې وه.

دا مقاله ښاغلي مولانا عبدالقدوس ترجمه کړې او د دې مجلې تر ۳۱ مخ پورې غځېدلې ده.

۱۵ — پښتو سندرې — په پښتو ژبه :

د ښاغلي ګل پاچا الفت تألیف چې په ۱۳۲۵ ه ش کال د پښتو ټولنې له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ سوی دی.

د دې کتاب په ۱۲ مخ کې د روښانیانو دوره، تر عنوان لاندې تر ۲۰ مخ پورې د بایزید روښان او د هغه د ادبي پیروانو یادونه راغلې ده.

۱۶ — پښتونستان په پښتو ژبه :

د عبدالرؤف بېنوا تألیف چې په ۱۳۳۰ هش کال د کابل په عمومي مطبعه کې په ۳۷۹ مخو کې چاپ او خپور سوی دی.

د دې کتاب په ۳۰۶ مخ کې تر ۳۱۶ مخ پورې «د روښانیانو کورنۍ» تر عنوان لاندې د بایزید روښان او د هغه د کورنۍ او مبارزو یادونه راغلې ده.

۱۷ — تاریخ افغانستان در عصر گورگانی هند — په دري ژبه:

د پوهاند عبدالحی حبیبي تألیف چې په ۱۳۴۱ ه ش کال د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا د کابل د پوهنې په مطبعه کې چاپ او خپور سوی دی.

ACKU

ددې کتاب په ۱۳۰ مخ کې تر ۱۶۳ مخ پورې د «روښانی ها وجنگهای شان در دورهٔ گورگانی ها» ترعنوان لاندې د بایزید روښان او دده د کورنۍ او مبارزو یادونه سوې ده.

۱۸ — تاریخ ریاست سوات — په پښتو ژبه :

د محمد آصف خان تألیف د فضل ودود کانمپ برنټا کالی پیښوری په کتابت چې د ۱۹۵۸ م کال د سپتمبر په ۲۷ بشپړ سوی دی.

ددې کتاب داولې حصې په ۳۷ مخ کې د «بایزید انصاری المشهور پیر روښن او دهغه دعمر مختصر حالات» ترعنوان لاندې تر ۵۸ مخ پورې د بایزید یادونه راغلې ده.

۱۹ — تاریخ ریاست سوات — په اردو ژبه :

د ښاغلي الله بخش یوسفي تألیف چې د «اقبال کالونی کراچی ۵ ایجنسی عظیم پبلشنگ هاوس ۲۷ نیو مارکیټ کابلی گیټ پشاور شهر» د ناشرانو محمد علي ایجوکیشنل سوسایټي له خوا خپور سوی دی.

ددې کتاب په ۵۵ مخ کې تر ۵۹ مخ پورې د «تحریک روشنائی» ترعنوان لاندې د بایزید روښان یادونه سته.

۲۰ — تاریخ مختصر افغانستان — په دری ژبه :

د پوهاند عبدالحی حبیبي تألیف چې د ۱۳۹۹ ه ش کال د وږي د میاشتې په لومړۍ ورځ د افغانستان اکیډمۍ د تاریخ ټولنې له خوا د کابل په دولتي مطبعه کې له چاپه راوتلی دی.

ددې کتاب ددوهم ټوک په شپږمه برخه او ۸۳ مخ کې تر ۶۲ مخ پورې د روشانیان ترعنوان لاندې د بایزید روښان یادونه راغلې ده.

۲۱ — تاریخ مرصع په پښتو ژبه:

د خوشحال خان خټک د نمسي افضل خان د اشرف خان د زوی تألیف چې په ۱۳ مخ کې د بایزید روښان د یادونې عنوان داسې لیکي :

ذکر مشتمل په احوال د پیر روښان او د ده اولاد چه په دا ملک د کابل د صوبې څه نیک و بد دده او دده د اولاد په سبب واقع شوی دی.

ACKU

۲۲ـــ تذکرة الابرار والاشرار ـــ په دري ژبه :

د آخون درویزه تألیف چي په ۱۳۰۹ ه کال د هندوستان په هندو پریس مطبعه کې چاپ او خپور سوی دی ۰

د دې کتاب په ۱۳۵ مخ کې (د تذکرۀ سیوم) تر عنوان لاندې د بایزید روښان غندنه سوې ده او په ۱۳۸ مخ کې ئې د بایزید روښان د کتاب (خیرالبیان) په باب خبرې لرې ۰

۲۳ـــ حالنامه ـــ په دري ژبه :

د دبستان المذاهب مؤلف لیکلي دي چي بایزید روښان خپل حالات په یوه کتاب کې کښلي دي، چي نوم ئې حالنامه ، و او بیا د اورنگزیب په وخت کې د ده د کورني یو عالم مرید علي محمد بن ابابکر کندهاري چي تخلص ئې مخلص و ، هغه حالنامه بیا ترتیب کړه د بایزید روښان او د هغه اولاد ژوند پېښې ئې په تفصیل و لیکلې، د دې کتاب اصلي نسخه د علیگړ په سبحان الله لائبریري کې ده ، نقلونه ئې یو د پنجاب د یونیورستۍ او بل د پېښور د پښتو اکیډېمۍ سره سته ۳۸۳ مخونه لري ۰

۲۴ـــ حیات افغاني ـــ په اردو ژبه :

د افغانستان تاریخ مشهور په حیات افغاني د محمد حیات خان تالیف چي په ۱۸۶۵م= ۱۲۸۲هش کال لیکلی سوی او په ۱۸۶۷م کال چاپ سوی دی، له ۱۵۵ مخ څخه تر ۱۵۸ مخ پورې د پیرتاریک تر نامه لاندې د بایزید روښان یادونه لري۰

۲۵ ـــ خیرالبیان ـــ په پښتو ، دري ، هندي او عربي ژبو:

دا د بایزید روښان نامتو او مشهور کتاب دی چي د ۱۹۶۷م کال د جون په میاشت د حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي په ترتیب او تدوین او حواشي او د مولانا عبدالقادر په پېژند گلو او د ښاغلي خیال بخاري په اهتمام د پېښور په خیبر میل پریس کې چاپ سوی دی ۰

ACKU

دا کتاب سربیره پردې چې د بایزید روښان مذهبي افکار څرګندوي په مقدمه کې ئې د مولانا عبدالقادر ترپېژند ګلو وروسته د مولانا محمد عبدالقدوس قاسمي له خوا داموضوعات څېړلي سوي دي:

۱-د بایزید انصاري کورنۍ او ابتدائي حالات.
۲-د بایزید علمي زده کړه .
۳-د بایزید طریقت او د پیرۍ او مریدۍ سلسله .
۴-د بایزید اختلاف د پلار سره.
۵-د بایزید د دعوت خپریدل .
۶-د آخون درویزه مخالفت .
۷-د بایزید مبارزه د هند دامپراتورۍ سره.
۸-د بایزید اولاد.
۹-د روښانیانو سیاسي موقف.
۱۰-د بایزید د اولاد شجره .
۱۱-د بایزید خلفاً .
۱۲-د بایزید تصنیفات .
۱۳-د خیرالبیان پیغام او د بایزید مسلک او نور.

PROPERTY OF
ACKU

ACKU

۲۶ــ دافغانستان پیبلیک ــ په پښتو ژبه:

د پوهاند عبدالحی حبیبي لیکنه چه په ۱۳۵۳ هش کال د کابل په دولتي مطبعه کې د بیهقي کتاب خپرولو د مؤسسې له خوا چاپ او خپور سوی دی .

د دې کتاب د لومړي ټوك په لاندې مخو کې د بایزید روښان یادونه راغلې ده :

۱۲۳، ۱۲۷، ۱۲۸، ۱۲۹، ۱۳۰، ۱۳۲، ۱۳۳، ۱۳۵، ۱۳۸، ۱۳۹، ۱۴۰.

۲۷ــ دافغانستان تاریخ ــ په روسي ژبه:

د ښاغلي رومودین روسي نومیالي لیکوال تألیف چې په ۱۹٦۵ م کال په مسکو کې چاپ او خپور سوی دی .

د دی کتاب د دوهم ټوك په ۳۳ مخ کی تر ۴۸ مخ پوری د بایزید انصاری او روښانی نهضت تر عنوان لاندی د بایزید روښان یادو نه سوی ده(۱).

۲۸ــ دبستان مذاهب ــ په دری ژبه:

د موبد ذوالفقار علی(؟) تألیف چی په ۱۰۵۵ ه ق کال تألیف سوی، او په ۱۳۲۱ ه ق=۱۹۰۴ م کال د هندوستان د کانپورد نولکشور په مطبعه کی چاپ سوی دی:

د دی کتاب په ۳۰۴ مخ کی تر ۳۱۱ مخ پوری تر دی عنوان لاندی د بایزید روښان یادو نه سوی ده:

«تعلیم نهم از کتاب دبستان در حال روښانیان مشتمل بر سه نظر: نظر اول در ظهور میان بایزید و بعضی از سخنان او. نظر دوم در لختی از حالتش. نظر سوم در ذکر فرزندانش».

۲۹ــ د پښتو دادب تاریخ ــ په پښتو ژبه:

د پوهاند صدیق الله رښتین تألیف چی په ۱۳۲۵ ه ش کال د پښتو ټولنی له خوا د کال په عمومی مطبعی کی چاپ سوی دی.

د دی کتاب په ۳۳، ۳۴ مخو کی د «میاروښان» تر نامه لاندی د بایزید روښان یادو نه راغلی ده.

۳۰ــ د پښتو د ادبیاتو تاریخ ــ په پښتو ژبه:

دا کتاب د پوهاند عبدالحی تألیف دی، چی په ۱۳۴۲ ه ش کال د پښتو ټولنی لخوا د کابل په دولتی مطبعه کی چاپ او خپور سوی دی. د دی کتاب د دوهم ټوك د لسم څپر کی په ۲۵۰ مخ کی بیا د کتاب تر پایه یعنی تر ۳۶۸ مخ پوری د (پیر روښان، او دده د نثر مکتب او د پښتو فنی نثر) تر عنوان لاندی خورا محققانه او عالمانه لیکنه سوی ده، چی نه یوازی د بایزید روښان ادبی خوا پکښی څیړلی سوی ده، بلکه د پیر روښان او دده د کورنی ملی کار نامی او د هند د مغولو سره د دوی مبارزی او د روښان نهضت او جنگونه او دده دعوت او د خلقو رجوع، او د

---

(۱) د ښاغلی معتمد یادداشت.

ACKU

بایزید تصایح، او بیا دده علمي او ادبي آثار، او دده د مشهور کتاب خیرالبیان موضوع او مباحث، او د بایزید عرفاني او سیاسي افکار په مفصل او مشرح او مستند ډول راوړه سوي دي.

۳۱ــ د پښتو د قلمي نسخو کتلاګ ــ په انګریزي ژبه:

ددې کتاب په لومړي او ۵۹، ۶۱، ۶۴ مخو کې د بایزید روښان یادونه راغلې ده.

CATALOOGUE OF PASHTO MANUSCRIPTS IN THE LIBRARIES of the ERITIST ISLES

دا کتاب په ۱۹۶۵ کال د JAMES FULLER BLUMHARDT, او D.M. MACKENZIE M.A. PH. D. له خوا ترتیب او د برېټش موزیم له خوا په لندن کې چاپ سوی دی.

۳۲ــ د پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کې ــ په پښتو ژبه:

د ښاغلي محمد ابراهیم عطائي تألیف او تدوین چې د ۱۳۴۸ ه ش کال د وږي په نهمه نېټه د افغانستان د قبائلو د ریاست له خوا خپور سوی دی.

ددې کتاب په ۷۱ مخ کې (د روښان نهضت او جنګونه) تر عنوان لاندې تر ۷۹ مخ پورې د بایزید روښان یادونه سته.

۳۳ــ د دولت دیوان ــ په پښتو ژبه:

قلمي نسخه د بایزید روښان د تصوف او سلوک په باب کې لویه قصیده لري چې یو بیت ئې دا دی:

بل صفت به د بازید مسکین بیان کړم
خاص و عام لحني و نغوږي په غوږو نو

او د پای بیت ئې داسې دی:

د معنی شاهد به مخ در ته ځرګند کا
که په دا کلام عمل وکړي پښتو نه

ACKU

(ددې قصيدې نور بيتونه د ښاغلي قيام الدين خادم د بايزيد روښان په کتاب کې اقتباس سوي دي) ۰

پرپوړتني قصيدې سربېره دولت خوګاني هم د بايزيد روښان ستاينه لري، وايي :

هر طالب چې عمل کا مقصود به مومي
چې مريد دور مړ بايزيد مسکين شه

* * * *

رب يا رب زما سبق و ، په دانن شپه
له ژوندونه مې رمق و ، په دانن شپه
پير روښان لکه ملاح مدد ئې راکړ
په ګرداب کې مې زورق و ، په دانن شپه
توره شپه مې لکه ورځ هسې روڼا کړه
داشنا د مخ رونق و ، په دانن شپه

* * * *

او داسې نورې ډېرې ستاينې لري چې د ښاغلي خادم د بايزيد روښان په کتاب کې هم اقتباس سوي دي ۰

د روښانيانو ملي نهضت او د شپاړسمې او اوولسمې پېړۍ د پښتو په ادبياتو کې ئې انعکاس = په روسي ژبه :

د پوهاند اسلانوف نوميالي روسي ختيځ پوهاند پېژندونکي او پښتو پېژاندلېکنه چې يوه برخه ئې د ښاغلي معتمد له خوا په پښتو ژبه راړوليې سوي او په ۱۳۴۸ ه ش کال د غوائي په مياشت د کابل په مجله کې خپره سوې ده، او هم څو واره پخپله د اسلانوف له خوا د شرق پېژندنې په مختلفو سيمينارونو کې لوستل سوې ده۰

د فيوډالي انکشاف او د پښتنو د دولت تشکيل ـــ په روسي ژبه:

د ښاغلي رسنېر روسي نوميالي ليکوال تأليف چې په ۱۹۵۳ کال د مسکو د علومو د اکاډيمۍ له خوا چاپ او خپور سوی دی ۰
ددې کتاب د څلرم باب له ۲۷۳ مخ څخه تر ۳۳۳ مخ پورې د بايزيد روښان د نهضت يادونه سوې ده (۱)

---

(۱) د ښاغلي معتمد يادداشت

ACKU

۳۶ ـ د کریمداد دیوان ـ په پښتو ژبه :

چې په ۱۹۶۳ م کال د ښاغلي خیال بخاري په مقدمه د پېښور د پوهنتون د پښتو اکېډیمۍ له خوا په پبلک آرټ پریس کې چاپ او خپور سوی دی .

دا کریمداد د آخون درویزه زوی کریمداد نه دی ، بلکه داد بایزید روښان له مریدانو او پیروانو څخه و ، چې تر ۱۰۲۸ ھ وروسته د هند په شمس اباد کې زېږېدلی او په ۱۰۵۶ ھ کال کې ئې شعر وایه چې دا نېټه په یوه بیت کې داسې څرګند وي :

کریمداد دا بیان کښلی
په زر شپږ پنځوسم کال دی

دا په دري ژبه هم شعر وایه چې د دیوان په پای کې ئې نمونې راغلې دي .
د کریمداد د دې دیوان په ۹ مخ کې تر ۳۰ مخ پورې د بایزید روښان او د هغه د اولادې یادونه راغلې ده او هم پخپله په دیوان کې څو ځایه د کریمداد له خولې د بایزید روښان ستاینې سته چې دوه بیته ئې دادي :

کریمداد حکمت موندلی
له روښان د دین سقراط
(۶۹ مخ)

دا حکمت ئې دی موندلی
له روښان ارسطالیس
(۶۵ مخ)

۳۷ ـ د میرزاخان انصاري دیوان ـ په پښتو ژبه:

میرزاخان د نورالدین زوی او د بایزید روښان نمسی د پښتو ژبې نومیالی شاعر پخپل دیوان کې څو ځایه د بایزید روښان ستاینه لري چې څو بیته ئې دادي :

د میرزا کلام شیرین شو   پیر روښان له برکته

* * *

واړه عیب و هنر خپل په خپله ګوري
د میرزا کلام روښان شو له سراجه

د مرزا په خېر به حق گواهی ولی
د توحید څراغ روښان دی که ضیا وړی

* * *

د مرزا په مخ قدم ږدی
پیر روښان د حق عینک

* * *

دا قدسی جامی دی واغوستې روښانه
د فقیر مرزا په کسی کښی لیده وی

* * *

ای مرزا د ولایت نښانه دا ده
چی کثیف صورت روښان کا بې آتشه

* * *

ای مرزا روښان په هرلوری جلوه کا
د تبریز آفتاب راو خوت له بنیره

* * *

د مرزا په خوله و ئېرم
یو روښان بې رنگه زه یم

* * *

او داسی نور ستاینی . . .

۳۸ — روحانی تړون — په پښتو ژبه :

دا کتاب د ښاغلی عبدالحلیم اثر افغانی تألیف دی په ۱۰۷۲ مخو کی د دارالاشاعت باجوړ (مالاکنډ ایجنسی) له خوا د ۱۹۶۵م کال د اکتوبر په میاشت کی چاپ سوی دی او په ۵۳۴ مخ کی ئې «د روښانیه حلولیه باطنیه فرقو دور» تر عنوان لاندی تر ۵۴۱ مخ پوری د پیرروښان یادونه کړی ده .

ACKU

۳۹ ـــ روښانیان د مغلو تاریکیان ـــ په پښتو ژبه :

د ښاغلی عبدالاکبرخان تألیف چې په ۱۶۰ مخو کې د ۱۹۶۶ م کال د اکتوبر په ۲۴ د پیښور د قصه خوانی د بازار د ادارهٔ اشاعت سرحد له خوا چاپ سوی دی او ښاغلی خیال بخاری ور باندی مقدمه لیکلی ده .

۴۰ ـــ صراط التوحید ـــ په دری ژبه :

دا کتاب د بایزید روښان تألیف دی چې دیو ایکت په ډول ئې لیکلی او د خلیفه دولت په لاس ئې د هند مغولی پاچا اکبر ته لیږلی و .

دا کتاب په ۱۹۵۲ م کال ښاغلی عبدالشکور د پیښور د موزې پخوانی مهتمم چاپ کړی چې پوسل او شپاړس مخونه لری ، او سړي د پرش مخه ئې خپل سرگذشت په دری ژبه لیکلی او پاته کتاب ئې په عربی او دری لیکلی د کتاب په پای کی ئې راوړی دی چې دا کتاب په ۹۷۸ هجری کی لیکلی سوی .

۴۱ ـــ عمل صالح ـــ په دری ژبه :

موسوم په شاهجهان نامه د محمد صالح کنبو لاهوری تألیف چې د بنگال د رایل ایشیا تیک سوسایټی له خوا په ۱۹۳۹ م کال د کلکتې په بپتست مشن مطبعه کی چاپ سوی دی .

د دی کتاب د لومړی ټوك په ۳۶۳ مخ کی تر لاندی عنوان لاندی د روښانیانو یادونه راغلی ده :

« بیان محو آثار ور سوم بدعت که درمیان طوایف افغانان کوه نشین بسرحد کابل شیوع و وقوع یافته بود از توجه اشرف » تر ۳۷۹ مخ پوری ...

۴۲ ـــ فخرالطالبین :

د بایزید روښان کتاب دی ، چې اوس ئې څه څرك نسته یوازی د حالنامې مؤلف لیکلی دی چې بایزید خپل یو خلیفه یوسف د فخرالطالبین د کتاب سره بدخشان ته لیږلی و .

ACKU

۴۳ــ قاموس الاعلام ــ په ترکي ژبه :

د شمس الدين سامي تأليف چې په ۱۳۰۶ ه کال د استانبول د مهران په مطبعه کې چاپ سوی دی ۰

ددې کتاب ددوهم ټوک په ۱۲۳۵ مخ د بايزيد روښان داسې يادونه سوې ده :

د اکبرشاه په زمانه کې په افغانستان کې زېږېدلی او له نوميالیو صوفيانو څخه و، چې لقب يې پير روښان و او ده يوه روښنې طريقه ايجاد کړې وه او د افغانستان په غرو کې يې يو کوچنی حکومت تشکيل کړی و ۰

۴۵ــ کابل کالنی ــ په پښتو ژبه :

د پښتو ټولنې له خپرونو څخه چې په ۱۳۲۰ ه ش کال په کابل کې چاپ او خپره سوې ده ۰

ددې کالنی په ۲۰۳ مخ کې تر ۲۱۶ مخ پورې د ښاغلي قيام الدين خادم په قلم د « مياروښان » تر عنوان لاندې د بايزيد روښان يادونه ليکلې سوې ده چې فرعي عنوان يې داسې دی :

« د پښتو د نثر تاريخي تطورات او د نثارانو تذکره »

۴۶ کابل مجله ــ په پښتو ژبه :

د پښتو ټولنې مياشتنۍ خپرونه ــ د ۱۳۴۸ ه ش کال د غوايي او د ۱۹۶۹ م کال د اپريل او مې د مياشتو گڼه د ير اسم مخ د « روښانيانو ملي نهضت » تر عنوان لاندې د م، گ اسلانوف روسي نوميالي پروفيسر او پښتو پوهاند ليکنه، چې ښاغلي معتمد شينواري يې له روسي څخه په پښتو ترجمه کړې ده ۰

او د کابل مجلې د پورتنۍ گڼې تر ۱۹ مخ پورې خپره سوې ده ۰

۴۷ــ کابل مجله ــ په پښتو ژبه :

د افغانستان د پښتو ټولنې مياشتنۍ مجله د ۱۳۵۰ ه ش کال د تلې او ۱۹۷۱ م د سپتمبر او اکتوبر د مياشتو ۶۲۲ گڼه چې په ۵۸ مخ کې يې

ACKU

تر ۶۸ مخ پورې د روښانيانو او د مغلو مبارزې تر عنوان د ښاغلي غلام سرور شريفي ليکنه خپره سوې ده چې تر بايزيد د مخه د پښتنو پر سياسي او اقتصادي وضع او د پښتو سره د مغلو پر رويه باندې ئې د اسلانوف د «روښانيانو خلقي نهضت» په رڼا کې رڼا اچولې ده او نور بيا هم لري .

۴۸ــ کابل مجله ــ په پښتو ژبه :

د ۱۳۵۱ هـ ش کال د چنګاښ او د ۱۹۷۲ م کال د جون او جولای د ۶۳۰ ګڼې په ۵ مخ کې تر ۹ مخ پورې د «بايزيد پير روښان» تر عنوان لاندې د ښاغلي محمد صفدر رسا لارزې يوه ليکنه خپره سوې ده .

۴۹ــ لغتنامه ــ په فارسي ژبه:

د دهخدا تأليف چې د ۱۳۴۸ هـ ش کال د خرداد په مياشت په تهران کې چاپ او خپور سوی دی ، او د «ب» په رديف ۶۱۸ مخ کې د «بايزيد» تر نامه لاندې داسې ليکي :

«بايزيد انصاري از صوفيهٔ زمان اکبر شاه در افغانستان ملقب به پير روشن بود ور جوع به قاموس الاعلام ترکي ج ۲ ص ۱۲۳۵ شود .

۵۰ــ ماثر الامرأ ــ په دري ژبه :

د صمصام الدوله شاهنواز خان تأليف او په ۱۷۹۰ م کال په کلکته کې د بنګال د ايشيا تيک سوسايټۍ له خوا چاپ او خپور سوی دی .

ددې کتاب د دوهم ټوک په ۲۴۲ مخ کې د رشيد خان انصاري تر نامه لاندې د بايزيد روښان يادونه سوې ده .

۵۱ــ ماثر الامرأ ــ په اردو ژبه :

دوهم ټوک ۲۴۴ ، د پروفيسر محمد ايوب قادري ترجمه چې د ۱۹۶۹ م کال د اګست په مياشت د لاهور د اردو بورډ له خوا چاپ او خپور سوی دی تر ۲۵۲ مخ پورې د رشيد خان انصاري تر نامه لاندې د بايزيد روښان يادونه سته .

۵۲ ـــ مجاهدات روشانیان علیه تجاوزات امپراطوری مغل هند ـــ په دری ژبه :

د۱۳۲۹ ه ش کال بەسر کی دعبدالرؤف بینوا یوەلیکنەد کابل د«اصلاح» دو رڅپانۍ په لومړی مخ کی خپره سوی ده .

۵۳ـــ مخزن الاسلام ـــ په پښتو ژبه :

دآخون درویزه مشهور تألیف چی‌د ۱۹۶۹ م کال په فبروری دپېښور دپښتو اکیډیمۍ په اهتمام په حمیدیه پریس کی چاپ سوی دی او سید تقویم الحق کاکاخیل وربانډی او پرده مقدمه لیکلی‌ده چی د مقدمی د «ا» له مخ څخه تر «سه» مخ پوری د «آخوند درویزه او بایزید انصاری» ترعنوان لاندی یادونه لری او هم پخپله د مخزن دمتن پەلومړی مخ ، او ۱۲۲ مخ کی تر ۱۳۶ مخ پوری دبایزید روښان غندنه ده او لکه څنګه چی آخوند درویزه ددی کتاب په سر او پای کی لیکی دمخزن الاسلام دلیکلو سبب دبایزید روښان وجود ؤ دا کتاب «پەمخزن درویزه» او«مخزن پښتو» او «مخزن آخون» هم مشهور دی ، لکه خوشحال ختک چی وایی :

که ژوندی شی افلاطون
پەسوات کی و نیسی سکون
اکوزیو ته بیان کا
کتاب نه د فنون
هدایه کفایه دواړه
په پښتو کاندی موزون
دوی بەوایی چه داڅه دی
«مخزن» به دی «دآخون»
نیشکر به غوایه څه کا
پەوابه ئی دی ژوندون

ACKU

۵۴ــ مقصود المؤمنین ــ په عربی ژبه:

د بایزید روښان یو وړوکی کتاب دی چې د خپل زوی شیخ عمر په غوښتنه ئې لیکلی یوویشت فصلونه لری چې دا موضوعات پکښې راغلی دی.

۱ وعظ و نصیحت
۲ عقل
۳ ایمان
۴ خوف
۵ رجاء
۶ نفس
۷ شیطان
۸ قلب
۹ روح
۱۰ دنیا
۱۱ آخرت
۱۲ توکل و قناعت
۱۳ توبه
۱۴ تر ۲۱ فصله له شریعت څخه تر سکونت پورې د سیر او سلوك اته مقامات.

دا کتاب لا چاپ سوی نه دی خود مرحوم استاد ډاکټر محمد شفیع لاهوری په کتابتون کې ئې یوه قلمی نسخه سته چې د مولانا عبدالقدوس قاسمی په قول اوس پروفیسر سیرولی خان ورباندی کار کوی په ترتیب، تحشیه او ترجمه ئې بوخت دی.

وایی چې دا کتاب تر خیر البیان وروسته د بایزید روښان د مریدانو په نزد ډېر متبرك باله کېده.

د دی کتاب یوه قلمی نسخه د تاجیکستان (دوشنبې) په کتابتون کې هم سته.

۵۵ــ مکتوبات:

د اورینټل کالج میګزین د ۱۹۵۵ م کال د فبروری د ګڼې په ۴۹ مخ کې ډاکټر جهانګیر لیکلی دی:

«پیرروښان کی مکتوبات مین هی که ابراهیم دانشمند مدینه کی رهنی والی تهی»

مولانا عبدالقدوس قاسمی ورباندی زیاتوی چې «خدای ته معلومه ده چې د «پیر روښان مکتوبات» د ده د خطونو مجموعه ده که دا هم د حالنامې ذکر دی».(۱)

---

(۱) د خیر البیان مقدمه ۵۰ مخ.

۵٦ ــمنتخب‌التواریخ: په‌دری ژبه:

دعبدالقادر بن ملوك شاه بداونی تألیف په ۲۹۹، ۳۳٦، ۳۳۹، ۳۵۳ مخو کی تردی عنوانو لاندی:

۱ ــ مباحثهٔ اهل اسلام با انصاری.

۲ــ ذکر پیرروشنائی.

۳ ــ محاربه با افغانان روشنائی.

۵۷ــ میخانهٔ رازــ په دری ژبه منظومه:

د ظفرخان احسن له طبع څخه چی قلمی نسخه ئی د پوهاند رشاد په کتابتون کی سته او ما هلته ولوستله ظفرخان د هند د مغلی پاچا جهانگیر(۱۰۱۴= ۱۰۳۷ هق) له‌خوا له (۱۰۳۳ هق) کال څخه تر۱۰۳۸ هق کاله‌پوری د کابل والی او دروښانیانو دښمن وه٠ده د بایزید روښان د نمسی احداد د سرېتنی پیښه دیوه دښمن په حیث داسی لیکلې ده:

بعهد جهانگیر فرمان روا
نهالم چنین یافت نشوونما

زاخلاص وخدمت شدم سرفراز
سراداد زابنای جنس امتیاز

عطا کرد شاهم ز روی کرم
خطاب ظفرخان و طبل و علم

بکابلستانم فرستاد شاه
که‌دارم رعیت زدشمن نگاه

ز کابل کنم دور بیداد را
ز جا بر کنم بیخ احداد را

گه ز خصمتم شاه باجود و داد
یکی فیل با خلعت خاص داد

ز روی کرم دادم آن شهریار
دیگر تیغ با خنجر زرنگار

ACKU

ز لطفم شهنشه طلب کرد پیش
سر افراز کردم بپا بوس خویش

بکابل چورخصت نمودم پدر
سپه کرد همراه با سیم وزر

بیا وایی: بحکم جهانگیر گیتی ستان
بهتنبیه احداد گشتم روان

ز احداد چون سر نمودم سخن
ز اصل ونژادش ز من گوش کن

(تردی وروسته نو دبایزید په غند نه کی بیتونه او بیا د هغه دزوی جلال الدین د سړیتوب قیصه لیکی.)

۵۸ــورکه خزانه ــ په پښتو ژبه «دوهم ټوک»:

دښاغلی همیش خلیل تألیف چی د ۱۹۶۰ م کال دد سمبر په میاشت د پیښو ر دښار د جهانگیرپوره د بابوحیدر روډ د دار التصنیف له خوا چاپ سوی او خپور سوی دی .

د دی کتاب په لومړی مخ کی تر ۵۳ مخ پوری د بایزید انصار ی تر نامه لاندی د بایزید روښان د ژوند پیښی راغلی دی چی دده تر نامه لاندی د میرزاخان انصاری دا بیت لیکلی سوی دی:

دافقیر مرزا ښاد میا روښان کا
چی دانش ئی د کل علم سربلند دی لکه شمع

۵۹ــوږمه مجله ــ په پښتو ژبه :

د افغانستان د پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی خپرونه شپږم کال د ریمه گڼه د ۱۳۴۱ هش کال د زمری او وږی د میاشتو، دعبدالله انصاری او بایزید انصاری تصوف تر عنوان لاندی د پوهاند صدیق الله رښتین لیکنه په ۱۳ مخ کی تر ۳۴ مخه پوری.

ACKU

دخیرا لبیان لیکدود

د

پوهاند عبدالشکور رشاد

ACKU

دخیر البیان لیکدود

د پښتو پخوانۍ الفبې :

په پښتو لیک کې چې اوس کوم توري Graphemes پکارېږي، زیاتره یې له عربي الفبې څخه اخیسته‌سوي دي، د پاته خالصو عجمي ږغونو Phonemes له پاره ټاکلي توري هم دعربي الفبې د نښو Symbols پېښې دي اودا نه ده معلومه چې تردغوتورو پخوا د پښتو لیک څنګه ؤ؟

فاضل استاد پوهاند عبدالحی حبیبي کښلي دي :

«دغه‌خبره تر اوسه پوري د پښتو ژبې څېړونکو ته‌نه‌ده څرګنده چې‌تردغې‌عربي‌ډوله الفبې پخوا پښتوپه کومو تورو څنګه کښل کېدله؟ ـ اودالفبې‌نوم‌یې‌څه ؤ؟ (۱)

مګر د پېښور لیکوال ښاغلی قاضي عبدالحلیم «اثر» سالارزي د خپل کتاب «پښتو ادب» په ۹۳ مخ کې کښلي دي : «د پښتورسم‌الخط داسلام‌نه‌وړاندې پالي

---

(۱) وګورۍ : تاریخ خط ونوشته های کهن افغانستان ۱۱۶ مخ.

او خروشتي وه . » (۲)

د ښاغلي «اثر» په دغه لیکنه کې د لیک د یوه سیستم په توګه د پالي ذکرساته د تأمل وړ ښکاري ، ځکه چې پالي Pàli د یوې خاصې هندو آریایي ژبې نوم دی (۳) چې د حضرت عیسی (ع) تر زوکړې پنځه شپږ سوه کاله پخوا د هندوستان په ځینو شمالي سیمو کې د آریایي توکم خلکو ویله ، د بودهامت دیني کتابونه او د هندوستان د مشهور راجا آشوکا (۲۷۰-۲۳۲ ق م) زیاتره ډېر لیکونه (کتیبې) په دغه ژبه کښلي دي ، دغه ژبه له بودایي دین سره سیلون ته تللې او اوس هم هلته د یوې مذهبي ژبې په توګه پاتې ده . (۴)

د «هندي شبدارتهه پاریجات» په ۵۲۵ مخ کې د پالي ژبې په باب داسې لیکلي دي :

«پالي ژبه د خپل تاریخي دریځ له مخې د سنسکریت او ماګدهي پراکریت ترمنځ واقع وه . »

مګر د «آریایي ژبانیس» په ۵۵ مخ کې راغلي دي :

«پالي ژبه له معیاري سنسکریت څخه نه ده راوتلې او په دغه ژبه کې ځینې داسې شاونډي suffixes سته چې له ویدي ژبې سره نېغ اړیکې لري .

---

(۲) د پښتو ادب په ۹۳ مخ کې د ښاغلي اثر بشپړه لیکنه داده :

«د پېښور د محمد یونس خان تألیف «د پښتنو تاریخ» نه یو روایت چې ماته را رسېدلی دی وایي چې د جاپان د شهنشاه میکاډو په کتب خانه کښې د مهاتما بدها د مذهب یو کتاب دی ، رسم الخط یې پالي یعنې خروشتي دی ، او ژبه پښتو ده ، غالباً چې د بلخ په شاوخوا کښې ایکل شوی دی .

د دې نه معلومیږي چې پښتو رسم الخط د اسلام نه وړاندې پالي او خروشتي وه.»

(۳) په لغت کې «پالي» د کتاب متن ته وایي ، وروسته وروسته دغه کلمه د متن د ژبې په معنی باب سوې ده. (وګورئ : آریایي ژبانیس ۵۵ مخ د سدهیشوروما تألیف) .

(۴) وګورئ : د Pàli yazik مقدمه ، د ماسکو چاپ (په روسي ژبه) .

ACKU

د آشوک اعظم په کتاب کې هم د «پالي» ذکر د يوې ژبې په توګه داسې راغلی دی:
«پالي د راجا آشوکا د کتيبو ژبه وه، دغه کتيبې د ملک په ختيځو سيمو (هندوستان) کې په براهمي خط له کيڼې خوا څخه ښۍ لورته کښل سوې دي، خو د آشوکا د پاچهۍ په شمال غربي خاوره کې دده کتيبې په خروشتي xarosthi خط ليکلې دي چې له ښۍ خوا څخه کيڼ لورته کښل کېده.»(۵)

له دغو پوره تشريحاتو (تفصيلاتو) څخه له ورايه څرګندېږي چې پالي ژبه ده نه ليک دود ـ زه ګمان کوم له پالي خط څخه به د ښاغلي «اثر» مراد براهمي خط وي چې په هندوستان کې ددې پروخطونو سرچينه ده، آن دا چې سيلوني، برمايي، تبتي او سيامي الفباوې هم ځني راوتلې دي. (۶)

د نوموړي «اثر» د را اخيستل سوې وينا دا برخه چې «تر اسلام پخوا د پښتو خط خروشتي وه» څه ارزښ لګوي؟ خروشتي رښتيا هم د يوه خط نوم دی، دا خط تر هغه وخته پورې چې د براهمي ليک تر اغېزې نه و لاندې سوی، د پښتو د اوسني ليک په شان له ښۍ خوا څخه کيڼ لورته کښل کېده، خروشتي ليک غالباً د حضرت عيسی (ع) تر زوکړې پنځه سوه کاله پخوا د هخا منشيانو د پاچهۍ په ختيزو سيمو کې له آرامي خط څخه را وتلی و، چې تر دريم قبل الميلاد قرنه پورې يې رواج او قبول درلود، او له دريم قبل الميلاد قرن څخه تر پنځم ميلادي قرنه پورې په ټوله پښتونخوا کې تقريباً نه سوه کاله باب و، له پښتونخوا سره د دغه اړيکي له امله خروشتي خط د باختري، اندو باختري او کابلستاني خطو په نومو هم ياد سوی دی. (۷) او مشهور ختيځ پوه H.H.Wilson پخپل کتاب Ariyana - Antique کې (چې په ۱۸۴۱ ع کال

---

(۵) وګورئ: آشوک اعظم د ډاکتر محمد حفيظ ليکنه ۸۲ مخ.

(۶) وګورئ: د Ashoka and his inscriptions دوهم ټوک ـ ۹ مخ.

(۷) د خروشتي ليک لپاره د کابلستاني خط اصطلاح مشهور ختيځ پوه (pawlman) راوړې ده.

په لندن کې چاپ شوی دی) خروشتي الفبې د آریانا الفبې Arianian-Alphabet په نامه یاده کړېده. (۸)

په پښتونخوا کې د آمو له غاړې را نیولې تر سیستان، کندهار، ژوب، کورمې پېښور، ټکسیلا، سوات، امب، باجوړ، هډه (ننګرهار) او نورو ګوټو پورې په هر ځای کې په دغه خروشتي لیک سره کښل شوي سکې، لوښي او کتیبې پیدا شوي دي، چې د لندن په برتش موزیم کې د ورد ګو د خوات د برین لوښي د لاهور په موزیم کې د امب د ډبرینه کتیبه، د ټکسیلا په موزیم کې د جولیان (A15) لمبر ستوپې ایکښې - د پېښور په موزیم کې ۱۱، ۲۱، ۲۳، ۲۸ لمبر کتیبې چې له جمال ګړی، خدو خیل او چارسدې څخه لاس ته راغلې دي، د خروشتي لیک غوره نمونې شمېرل کېږي (۹) د پېښور په شهباز ګړه (۱۰) او د هزارې په مانسهره (۱۱) کې د راجا آشوکا کتیبې هم په دغه لیک

---

(۸) وګوره: تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان ۱۲ مخ - د D.Diringer د کتاب The Alphabet روسي ترجمه ۳۹۸ مخ - رهنمای ټکسیلا ۱۳۵ مخ - افغانستان ۳۰۰ مخ.

(۹) وګوره:
A hand book of the inscriptionsGallery in the Peshawar museum
۱۳، ۲۱، ۲۳، ۲۹ مخونه، د رهنمای ټکسیلا ۶۵، ۱۳۳، ۱۳۵ مخونه
د رهنمای خط و نوشته های کهن افغانستان ۲۶، ۳۱، ۳۵، ۳۷ مخونه.

(۱۰) شهباز ګړه: یو کلی دی چې د پېښور شمال شرقي خواته له پېښوره څخه ۶۳ - اوله سر دانه څخه اووه اته میله لیرې واقع دی، د مغلو ودان کړی «لنګر کوټ» د شهباز ګړي څنګ ته پروت دی، د شهباز ګړي کتیبه غالباً په ۲۵۱ ق م کې کښل شویده. (وګوره: Alfavet ۲۰۶ مخ).

(۱۱) مانسهره: د چچ هزارې په ناوه کې یو کلی دی چې له ایبټ آباد ده څخه ۱۵ میله لیرې شمال خواته د پکهلي درې په خوا کې پروت دی.

ACKU

کښلی دی. (۱۲)

د خروشتي لیك په باب ددغو برنیو معلوماتو تر لوستلو وروسته کېدای سي دا خبره د لوستونکو زړه ته ولوېږي چې یو وخت به د پښتو لیك خروشتي ؤ، خو په دې شرط چې د یو بل لیك دود (رسم الخط) کړی د عربي او خروشتي لیکونو تر منځ دغه ځنځیر ته ور واوېږي.

مګر سره له دې شرطه هم زه پخپله په دغه باور ګمان ګڼوم او دښاغلي اثر حکم د تأمل وړ بولم، ځکه تر دې دمه پورې چې د پښتونخوا په سیمه کې یا تر هغې دباندې په خروشتي لیك کومې کتیبې، سکې او لوښي موندل سوي دي، په هغو کې داسې کومه کتیبه یا سکه یا لوښی ما ته نه دی معلوم چې د هغه پر لیکنه باندې دې دځینو پوهانو له خوا د پښتو ژبې حکم سوی وي او ګمان کوم ښاغلی «اثر» ته به هم داسې کومه لیکنه او حکم نه ؤ معلوم، کنه د خپلې خبرې ددرنښت او ټینګارله پاره به یې هرو مرو هغه د سند په توګه ښوولی وای.

البته موږ په دې پوهېږو: پښتونخوا ته د اسلام تر راتګ پخوا په دغه سیمه او یا ددغې سیمې په شاوخوا هیوادو کې لومړی آرامي، سبخي، دین دبیره، براهمي، یوناني، خروشتي او ورپسې آمدبیره، دیوه ناګری اوسردا الفبا وې باب وې، خو موږ دا هم باید ومنو چې تر اوسه پورې لا په باوري توګه نه یو خبر: زموږ هغو نیکه ګانو چې د اسلام تر منلو او یا پر دغه او بجه باندې د عربي ثقافت تر تسلط پخوا تېر سوي دي، له دغو الفباوو څخه کومه یوه د پښتو ژبې و لیك ته پکار وله که نه؟

---

(۱۲) وګورئ: یوسفزی افغان ۲۳۷ مخ ـ Ashoka د smith تألیف ۱۳۳ مخ ـ دپېښور موزیم د کتیبو رهنما، دمقدمې ۶ مخ.

ژه د عربي ثقافت تر تسلط پخوا د پښتو ژبې د لیك له پاره د کومې الفبا ټاکل تر هغه پورې ګران کار بولم چې تر اسلامي دورې د مخه د پښتو ژبې په روښنې یا منځنې یا هغه ته نژدې شکل کې کوم لیکلی سند لاس ته راځي او د Epigraphy په برکت دا ثابتېږي چې تر دغو اوسنیو مروجو تورو پخوا د پښتو ژبې لیك په کومو تورو کېده .

داوسنۍ الفبې مبدأ :

د پښتو لیکونو له پاره دغه اوسني مروج توري کله ټاکل سوي دي ؟ دا هغه پوښتنه ده چې د پښتو الفبې په تاریخ کې هرو مرو ورسره مخامخ کېږو ، او د اوسنیو معلوماتو له مخې یې جواب دادی :

د پښتو په باب چې تر اوسه پورې کوم کښلي آثار لیدل سوي دي ، د هغو له لوستلو څخه داراوزي چې د پښتو اوسنۍ الفبې د غزني د ستر تولواك سلطان محمودغازي (۳۸۷ - ۴۲۱ هـ ق) په زمانه کې جوړه سوې ده ، دخیر اللغات (چې په ۱۹۰۳ ع کال چاپ سوی دی) مؤلف قاضي خیرالله نوښاري(۱۳) د دغه کتاب په مقدمه کې کښلي دي :

« د پښتو ژبې د تاریخ اوائل حالونه بېخي په تیاره کې پراته دي ، خودا څرګنده ده چې دې سیمې ته د اسلام تر راتګك پخوا دغې ژبې ځانته تهجي توري نه درلوده او پښتو یوازې د وینا ژبه وه ، د سلطان محمود غزنوي په زمانه

---

(۱۳) د قاضي خیرالله نوړ مولفات دادي : ـ قاعده پښتو (۱۹۰۶ ع چاپ)، معلم پښتو ، پښتو بول چال، اتالیق پښتو ، د منارالحق د دوهم او څلورم باب ترجمه. How to speak Pashto? په نوښار کې چاپ سوي دي په اردو او پښتو ژبو کې نور آثار هم لري .

ACKU

کي دده وزیر (احمد بن) حسن میوندی (۱۴)، قاضي سیف الله وګماره چي د پښتو ژبي الفبې جوړه کړي .

نوموړی قاضي د عربي، پارسي او پنجابي وسندهي ژبو (۱۵) د الفباوو په مرسته د پښتوژبي د پخونو له پاره توری وټاکل او په دې توګه لومړی وار د پښتو الفبې منځ ته راغله . " (۱۶)

قاضي خیرالله د خپلي وینا د درښت او ټینګار له پاره د راوی نوم نه دی را وړی او نه یې د کوم کتاب حواله ورکړې ده ، خو د دغه مطلب لنډیز چي ښاغلي قاضي عبدالحلیم اثر د پښتو ادب په ۹۳ مخ کې رانقل کړ ید ی ، د مرآت الانساب بحث اقاغنه حواله یې ورته کښلې د، ، د پښتو الفبې د مبداء په باب د ښاغلي اثر خپله لیکنه داده :

---

(۱۴) احمد د کندهار د میوند اوسېدونکی د سلطان محمود غزنوی وزیرو، پلار یې د ناصر الدین سبکتګین (۳۶۶-۳۸۷) له خوا د بست حاکم و، احمد بن حسن میوندی د خپل لیاقت په لحاظ د بغداد له درباره د شمس الکفات لقب ګټلی دی ابوالفضل بیهقي یې په خپل تاریخ کې د خواجه بزرګ په خطاب یا دوی او دده د فهم، لیاقت او مړانې په ستاینه کې یې ډېر څه کښلي دی ، عروضي سمرقندي هم دده داوړی انشأ او فضیلت په باب په چار مقاله کې حکایتونه لري . لوی عالم او په عربي کې د ستاینې وړ شاعر او لیکوال و ، د غزنویانو د دربار ملک الشعراء عنصري او فرخي سیستانی دده په مدحه کې ډېری درنې قصیدې ویلي دی؛ د سلطان مسعود غزنوی (۴۲۱-۴۳۲ ه ق) په دربار کي هم دوه کاله وزیر و ، په ۴۲۴ ه ق کال په هرات کي مړ سو . قبر یې په میوند کې دی.

(۱۵) د پنجابي او سندهي ژبو له خاص ذکره څخه مطلب هغه هندوستاني ژبې دی چي پښتونخوا ته څرمه خلکو ویلې ، د پښتوژبي څلور ږغه (ټ، ډ، ړ، ڼ) له دغو ژبو سره شریک دی .

(۱۶) وګوری! د خیر اللغات لومړی حصه ، داردو مقدمې څلورم مخ.

ACKU

«د پښتو ژبې موجوده رسم الخط چې د عربي ژبې په نسخ خط باندې بنا دی ددې باني د سلطان محمود غزنوي علیه الرحمه وزیر (احمد بن) حسن میمندی گڼلای شي.»

د یوسفزی افغان د کتاب مؤلف ښاغلی الله بخش یوسفي غزنوي د خپل دغه کتاب د ۱۳۸ مخ په حاشیه کې د پښتو الفبې د مبداء په باب له احتیاط کار اخیستی دی او کښلي یې دي:

«ویل کېږي: د پښتو دغه اوسنی اصلاح سوی رسم الخط د سلطان محمود غزنوي په زمانه کې شیخ ابوالفتح را ایستلی دی.» (۱۷)

د ښاغلي یوسفي له دغې وینا ښکاره داراوزي چې د سلطان محمود تر زمانې (۳۸۷-۴۲۱ ه ق) پخوا به د پښتو الفبې وه، د سلطان محمود د په زمانه کې اصلاح سوه او نیمگړتیاوې یې بشپړې سوې.

مگر د دغو روایتونو په څنگ کې دا خبره هم د یادولو وړ ده، چې پیر روښان بایزید اور مړ (۹۳۱ - ۹۸۰ ه ق) پر قرآني (عربي) الفبې باندې د پښتو توري زیاتول د خدای په امر او الهام سره د ځان کار بولي، ده د خیر البیان په شروع کې ویلي دي:

«اې بایزیده! وکښه دغه حرفونه چې په هره ژبه سازیږي، د فایدې له پاره د آدمیان.

---

(۱۷) د یوسفزی افغان د ۱۳۸ مخ په متن کې «شیخ ابوالفتح» د سلطان محمود غزنوي وزیر ښوول سوی دی، کیدای سي چې له شیخ ابوالفتح څخه مراد د کندهار د بست اوسېدونکی ابوالفتح بستي وي، چې د سلطان محمود د پلار ناصرالدین سبکتگین (۳۶۶ - ۳۸۷ ه ق) منشي ؤ او د سلطان محمود په دربار کې یې هم تر ۴۰۰ ه ق پوري منشي توب کاوه، په ادب او انشا کې وتلی ؤ - په ۴۰۱ ه ق کال په ما وراء النهر کې مړ سو. (وگورئ: د افغانستان تاریخ دریم ټوک ۱۸۰ مخ).

ACKU

(بایزید وېلي دی): ته دانا یې له هر څیز، ما نه زده بېرون حرفونه د قرآن، او سبحان! (۱۸)

او بایزیده! د حرفونو کښل په تا دي، د حرفونو څرگندول و نمون و ښودل په ما دی، و کښه زما په فرمان په مانند د حرفونو د قرآن او کښېږده په ځینې حرفونو ټکي داغړ و ندی یا نورې نښانې ....» (۱۹)

د بایزید او رسږ (پیر روښان) پیرو، د دولت لوانی د خپل بومیا (مقتدا) خبره داسې نظم کړېده:

افغاني لفظ مشکل و، لوست، کو یښ نه شه
ورته وښوه، کښنده دیارلس حرفونه

مشهور ختیځ پوه جارج مارگنستیرن Georg Margenstern ناروېژی د روښانیانو دا ادعا داسې رد کړېده:

«که د پښتو دا رسم الخط خالص د بایزید ایجاد وای، نو اخوند درویزه به ځانله خپل رسم الخط ایجاد کړی ؤ او د خپل حریف پیروی به یې هیڅکله خوښه کړې نه وای» (۲۰)

فاضل استاد پوهاند عبدالحی حبیبی د پښتو ادبیاتو د تاریخ د دوهم توك په ۲۹۰ مخ کی کښلی دی: «دا مې ښکاری چي پیر روښان د پښتو ژبې ځینې حروف چي مخصوص اصوات لری او د عربي او پارسي حروفو له اشکالو څخه هغه اصوات نه زده کېږی په یوه مخصوصه رساله

ACKU

---

(۱۸) دلته «بیرون» کله د استثناء معنی لری، د ټولی جملې پارسی ترجمه داسې سوېده: «تو یی دانا، من نمی دانم بجز حروفهای قرآن، یاسبحان.»

(۱۹) وگورئ: خیرالبیان (۳-الف) مخ.

(۲۰) وگورئ: د خیرالبیان د مقدمې ۶۵ مخ - د پېښور چاپ.

کې ترتیب او توضیح کړل او د هغو د لیکلو شکل یې وټاکه، که څه هم د پښتو ژبې پخوا رسم الخط او کتب او آثار د راسو دل، خو په دغه وخت کې به هغه مهجور سوي وو، نو ځکه ده یوه څو پاڼې رساله پر ولیکله.

ځینې کسان داسې هم سته چې د خاصو پښتو ږغونو له پاره د تورو ټاکل دا خوند درویزه (۹۳۹ – ۱۰۴۸ هـ ق) کار بولي، (۲۱) او د مخزن الاسلام دغه لیکنه سندوي:

« دیگر معلوم باد! که چون بعضی حروف در الفاظ افغانی وهندوی ثقیل می آیند، بنا بر آن علامتی بر آن آورده میشود، تا معلوم گردد که این حرف ثقیل است، چنانکه «ب» چون ثقیل شود، سه نقطه در تحت او ایزاد گردد «پ» می شود وگاهی «ت» چون ثقیل شود جزمکه در تحت آن داد «ټ» می شود...» (۲۲)

د دغو ښاغلو دې خبرې ته نه دی پام سوی، چې یو خو د اخوند درویزه په دغه لیکنه کې (آورده میشود) مجهوله صیغه ده او فاعل نه ځنې معلومېږي بل (پ، چ، ژ، ګ) خو په پارسي کې هم سته او دغه څلور توري تر اخوند درویزه ترنو نه پخوا په پارسي الفبې کې وو، پاته سوه د پښتو توري که دا توري پخوا نه وو ټاکل سوي، نو «سحر» نومې کتاب به څنګه کښل کېده چې اخوند درویزه پخپله وایي دا د پښتو لومړی کتاب دی او دیو مفرو سره سته.

ACKU

د خیر البیان الفبې

موږ د مخه وویل چې د پښتو ژبې دغه اوسنۍ الفبې له عربي تورو څخه جوړه

---

(۲۱) دلته له خاصو پښتو ږغونو څخه زما مراد د پښتو ژبې هغه ږغونه دي چې په عربي او پارسي کې نسته.

(۲۲) وګورئ: مخزن الاسلام د ډهلي چاپ ۱۸۳ مخ – د پېښور چاپ ۱۳۷ مخ.

ده ، پخپله عربي الفبې اته ویشت توري Graphemes لري ، چې هر توری یې د یوه صوتي واحد Phoneme څرګندوی دی . (۲۳)

عربي رسم الخط semiticscript د اسلام په برکت په نړۍ کې تر عربي ژبې ، زیات خپور سوی دی ، پر عربي ژبو سربېره په اروپا کې د هسپانیې Aljamiah ژبه ، د بالقان په . تا هو وزمه کې ځینې سلاوي ژبې ، په افریقا کې بربري او soheli ژبې ، په آسیا کې پښتو ، پارسي، اردو ، ترکي او نورې ځینې ترکي الاصله ژبې په دغه لیک کښل کېږي .

د پارسي ژبې لیک چې پخپل وار عربي لیکه ته واوښت ، څلور صحیح توري consonants (پ ، چ ، ژ ، ګ) پر عربي الفبې زیات سول ، دا ځکه چې دغه څلور کانسوننټه په عربي ژبه کې نه وو . او په دې توګه نو د پارسي ژبې الفبې دو دېرش توري سوه ، د علت په تورو Long vowels کې عربي ژبې مجهوله یې او مجهول واو نه درلوده او دا رغونه عربو ته نا پېژندوی وه ، ځکه یې نو مجهول ویلل ، خو د هغو له پاره یې بېل توري Graphemes غوره نه کړل .

د پښتو ژبې له پاره چې د الفبې توري ټاکل کېدل ، اته توري (ټ ، څ ، ځ ، ډ ، ړ ، ږ ، ښ ، ڼ) نور پر زیات سول ، ځکه چې دغه اته رغه په پارسي او عربي

---

(۲۳) عربي الفبې له نبطي څخه اخیستل سوې ده ، تر ټولو لومړنۍ کتیبه (چې په هغې کې ځینې عربي توري کښل سوي دي) د دمشق په جنوبي شرقي سیمه «النمر» کې پیدا سوې ده او د لیکلو کال یې ۳۲۸ ع دی .
د فیض بخش نومي کتاب په پنځم مخ کې یا کښلي دي : عربي الفبې له عبري Hebrew الفبې څخه اخیستل سوې ده ، په عربي الفبې کې د عبري الفبې دوه و یشت توري راغلي دي ، شپږ توري (ث ، خ ، ذ ، ض ، ظ ، غ) عربو پرې زیاتې کړل چې ټول اته ویشت سول .

ژبو کې نه وو، په دې توګه نو د پښتو الفبې څلوېښتو توروته ورسېدله او تر عربي الفبې يې دوولس توري زيات سول. (۲۴)

مګر د روښانيانو مشهور شاعر دولت لواڼي (چې تر ۱۰۵۸ هـ ق کاله پورې يې ژوند يقيني دی) په پښتو الفبې کې پر عربي حروفو باندې زيات سوي توري ديرلس بولي او داسې وايي:

«ورته وشوه کښله ديارلس حرفونه»

د خيرالبيان په شروع کې چې د الفبې کومه رساله ګوتې سته په هغه کې هم ۱۴ توري راغلي دي (۲۵) او د (ګ) توري ليکښې په يوه بڼه دوه واره ليدل کېږي، د چاپي نسخې فاضل مقدمه ليکونکي هم د مقدمې په ۶۶ مخ کې دغه تکرار ته داسې اشاره کړېده:

«ګ: بايزد دوه ځله ليکلی دی، چې مونږ يې په فرق پوه نشو»

که د خيرالبيان په الفبې کې د (ړې) توري د (ډ) په بڼه نه وای او

---

(۲۴) د عربي الفبې لس توري (ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق) په پښتو ژبه کې خپل پږغونه نه لري او په قريب‌المخرجه پږغونو اوړي، د دغه لس توري پوالې په هغو کلمو کې ښکاريږي چې له عربي، پارسي يا نورو ژبو څخه راغلي دي لکه:

ثواب، حق، ثقه، عظيم، کاغذ، صبر، مرض، حبطه، ظلم، علي آباد، تعاون قتل او داسې نور ...

په پارسي ژبه کې د (ف، ذ) پږغونه پخوا هم وو، نور اته پږغونه يې په پارسي کې نسته.

(۲۵) لا (Lā)، : که څه هم د خيرالبيان په الفبې کې تر (ي) توري وړاندې راغلی دی خو په الفبې کې نه شمېرل کېږي ځکه چې دوه ګرافيمه (L+ā) دي. (لا) د عربي الفبې په اته ويشتو تورو کې هم نه دی حساب.

هغه کلمې چې د(ج̌) په غ بکښې ستنه ·لکه : موږك ، نغوږل او بوهېږي ، د خیرالبیان په اصلی نسخه کی د (مدك)؛(نغدل) ،(بوهید) په شکل نه و ای کښل سوی ـ نو موږ به دا گمان کړی وای چی (دوهم گاف) د(ج̌ـ ږ) پرځای را غلی دی او د هغو لهجو نما یندگی کوی چی(ج̌ـ ږ) گاف غو ندې وابی او یا یې دگاف مخرج ته نږدې تلفظ کوی او دا خبره به مو هېره کړې وای چی دوزیرو او مسیدو په لهجه کی دغسی تلفظی تعا مل ښخی نسته .

او که دخیرالبیان دالفبې ددواړو گافو نو په شکل کی لږ تغییر وای نو هم به موږ ویلی وای چی دد غه دوهم گاف ږغ Phoneme اوس له رواجه لوېدلی دی او هغه وخت به « دواخی » او شغنی ژبو په څېر پښتو ژبې هم دوه گافه د رلوده (٢٦).

تر څو چی دمکرر گاف په باب کومه نوې څېړ نه منځ ته راځی، زه دپورتنیو دلیلو نو له مخی دخیرالبیان الفبې غلوښتت توری شمېرم او پر عربی الفبې باندې ددوولسو تورو زیا توب سم بو لم .

دخیر البیان په الفبې کی چی داته ویشتو عر بی ږ غونو له پاره کو م توری ټاکل سوی دی له سین څخه پرته چی دپخوا نی پارسی په دوددې تکی ترلاندی ټکی نو رتو ری بې دعر بی الفبې له تورو سر ه هیڅ تو پیر نه لری او هغه څلور ږغه چی په عربی کی نسته او په پښتو او پارسی ژبو کی مشترك دی، د وه توری

---

(٢٦) دپا میری ژبو ددو هم گاف له پاره جارج مار گن ستیرن(ڰ)اوشاه عبدالله بد خشی دافغا نستان دخینو ژبو او لهجو په قاموس کی (گش)توری غوره کړی، دی ، لکه په واخی کی(خم گیگـ) دسرپناه اوسهب په معنی او په شغنی کی (غیثو بگشیند ک) دسرپوښ په معنی ـ د(گش)توری غونډ گاف او غین تر منځ تلفظ کېږی .

ACKU

(پ ، چ) يې له پارسي الفبې سره يو شي دي او دوه نورېچې (**کاف**) او (**ژي**) دي ، داسې توپير لري .

ګ: عجمي کاف په پارسي کې (گ) کښل کيږي ، يعنې د کاف توري ته دوهم مرکز ورکوي ، لکه : گردن ، لگام ، رگ د برهان قاطع (بمبئ چاپ) په مقدمه کې د کاف توري (ڮ) را غلي دي ، يعنې تر عربي کاف لاندې يې درې ټکي کښلي دي .

په خيرالبيان او نورو روښاني اثرونو کې (ګ)ليکل کيږي ، يعنې د کاف مرکز ته په منځنۍ برخه کې يوه بندي (کړ ی) ورا چوي ، د کاف توري خوشال خان او کورنۍ يې هم د خيرالبيان په څېر کښلي دي، د خيرالبيان په اصلي نسخه کې کله کله د(ګ) بندي پاته شوې وي ، لکه په(۱۶۷ ب) مخ کې د (رنګارنګ) او (لګنا هان) کلمې .

اخوند درويزه د مخزن الاسلام په پای کې د ګا ف له پاره (ګ)شکل غوره کړی دی يعنې د کاف د مرکز سر کښته کړی وی .(۲۷) مګر ما چې د مخزن الاسلام څو قلمي نسخې پسې وکتلې، د کاف له پاره مې دا خوند درويزه غوره کړی شکل په سترګه نه شو ، زياتره د عجمي کاف پر ځای عربي کاف کښلی و ، د يوې قلمي نسخې په ۱۳۴ مخ کې مې د خيرالبيان د الفبې په شان (ګ) هم وليده .

د پښتو خزانې، د پښتو مرکې او محمد ګل خان مومند په ليکنو کې د ګاف توری د پارسي په څېر کښلی دی.

مګر د ارغستاني سليمانماکو په تذکرة الاولیا ، د ختيځ پوهانو په آثارو

---

(۲۷) وګورئ: مخزن الاسلام د پښتو رچاپ ۱۳۸ مخ ـ د دهلي چاپ ۱۸۴ مخ.

AOKU

او د اړې وېرې پښتو نخوا د زياترو اوسنيو ليکوالو په ليکنو کې د **ګاف توری** د خيرالبيان دالفبې په شان (**ګګ**) کښل کېږي.

ږ: په خيرالبيان کې د غه شکل د(ژ) توري پرځای استعمال سوېدی، لکه: ږی(ژی) په(۱۷-الف) مخ کی- ږ ب (ژبه) په(۷۴ب) مخ کې- ږوندی (ژوندی) په(۲۸-الف) مخ کی- پېوندګلی(پېژندګلي، پېژندګلوی) په (۳۶ الف) مخ کی -ږوندون (ژوندون) په (۶۷ ب) مخ کی او داسې نور ...

د دولت لواڼي او کريمداد روښاني په ديوانو کې د (ژ) Phoneme په باره د خيرالبيان شکل (ږ) استعمال سوېده، ځای ځای «ژ» هم ليدله کېږي.

د روښانيانوله دې آثاروروسته په بل کوم پښتو کتاب کې د (ژ) د ږغ له پاره د خيرالبيان د(ږ) څرك نسته .

د پښتو ژبې هغه غلو ږغه چې په پارسي اوعربي ژبو کې نسته او په هندي ژبو او پښتو کې مشترك دي، د درو لومړيو ږغوله پاره يې اوس د(ټ ، ډ ، ړ) توري پکارېږي او په هيڅ ځای کې توپير نه لري ، د خيرالبيان په الفبې کې هم کټ مټ دغه توري راغلي دي (۲۸). دخوشال خان په ليك دود کې د دغو درو ږغوله پاره(ط، ډ، ر) توري پکارېدل او محمدګل خان مومند بيا د(ٹ، ڈ، ڑ) شکلونه استعمالوله، له دغو دوو اختلافونو پرته نور نو د پښتو الفبې په ټول عمر

---

(۲۸) د پښتو د(ټ ، ډ، ړ) توروپرځای په سندهي الفبې کې (ٿ، ڏ، ڙ) او په اردو او پنجابي الفباوو کې (ٹ، ڈ، ڑ) توری استعماليږي، دده پوهند کرښې خټېز لورته چې کوم پښتانه پراته دي . په هغو کې ځينې داسې کسان سته چې غواړي د اردو الفبا توري په پښتو ليك کې رواج سي او په دې توګه پښتو اردوته او پښتانه اردو ويونکوته ورنږدې کړي ، د دغو کسانو دغه آرزو او زيار د پښتنو په ګټه نه دی.

ACKU

کې د(ټ، ډ، ړ) توري يوراز راغلي دي او په هيڅ وخت او هيڅ معلوم متن کې توپير نه لري.

د هندي ژبو او پښتو ترمنځ دغه خاصو مشترکو ږغونو په ډله کې څلورم ږغ چې په سنګليچي ژبه کې هم رواج لري توري Grapheme يې اختلافي دي، په دې ډول :

ڼ: دخيرالبيان په الفبې کې د نون ږغ (ڼ) ښودلی دی، د دولت لواڼي، ميرزاخان اورمړ او کريمداد روښاني په ديوانونو کې زياتره دغه شکل خوندي دی، دارغستاني سليمان ماکو په تذکرة الاوليا کې هم (ڼ) راغلی دی.

خوشال خان به (ڼُ) او محمد ګل خان مومند به (نړ) ليکه. داخوند درويزه په الفبې کې دغه توری ګ د سره نسته، خو د مخزن الاسلام په قلمي نسخو کې زياتره (نړ) ښبلی دی، محترم ليکوال ګل پاچا الفت د «ليکوالی» په ۲۰ مخ کې ښبلي دي: «په مخزن الاسلام کې ڼ لږ او (نړ) ډېر ليکلی دی.»

داخوند درويزه د پيروانو په کتابو کې (نړ) ليدل کېږي.

پښتو مرکې د دغه ږغ له پاره د (نړ) ښکل غلط بللي دي. (۲۹) او ټل (ڼ) استعمالوي.

ښاغلي قاضي عبدالحليم «اثر» د پښتو ادب په ۷۳ مخ کې د (ڼ) توري په باب عجبه نوې فتوا ورکړې ده:

«په پښتو ليک کښې که دا حرف د کلمې په منځ کښې راشي نو د (ڼ) په شکل به ليکلی شي لکه: کوڼتل ...

او که د کلمې په آخر کښې راشي نو د (نړ) په شکل به ليکلی شي لکه: کونړ،

---

(۲۹) وګورئ: د پښتو پښوونه ۹ مخ - ۱۳۴۲ هـ ق - د کابل چاپ.

ACKU

بوټي، سوټي، روټي . . . » (۳۰) اوورپسې يې داهم زياته کړيده:

«دغه سوده وړاندېد پښتونستان او افغانستان پښتنو اديبانو په بوه غونډه کښې دافيصله شويده چې د پښتو ژبې نـون غنه پـه پـوره ډ کــــر شو و دواړو صورتونو (ڼ ، ـڼ) کښې صرف ړـه شکل د(**ڼ**) سره ليکل په کاردی اود (**اڼ**) په شکل دی نهشي ليکلی.» (۳۱)

دپښتو هغه دری بغه چې په عربي ، پارسي اوهندی ژبو کی نسته اوپه پښتو پاسيري ژبو او روسي کی مشترك دي په اوسني پښتو ليكك ني د هغو له پاره (**څ ، ږ ، ښ**) توری يکارېږی، (۳۲) پهدغو درو تورو کی (څ) او(ښ) هغه توري دي، چی دخوشال خان لهالفبی پرته يې نور تو دپښتو ژبې دعربي دوله الفبې په تاريخ کی بل شكل نهدی دراودلی اود خيرالبيان پهالفبې ندی پې هم دغهشکل راغلی دی، دخوشال خان پهالفبې کی د (**څ**) بغ (**څ**) او د (**ښ**) بغ (**ش**) کښل کېده.

---

(۳۰) سوړنه پوهيږو چي دښاغلی اثر په مثالوکی د(**کو ڼړ**) کلمهدپارسي «کر» اوهندي «بهرا» معنی لري اوکه د افغانستان په ننگرهار کی د يوې دړې نوم څني مراددی .

(۳۱) دپښتو (**ڼ**) په د يوناګري هندی ليک کی(ण) او په گورمکهی ليک کی(ਣ) کښل کېږی، پهاردو کیپی اوس phoneme لهمنځه تللی دی، په پنجابی کی يی فونيم (بغ) سته، خوپه هغه ليكك کی چې په عربی تورو ليکل کېږی گرافيم (تحريری شکل) نهلری.

(۳۲) په روسی کی د(ږ) له پاره(ж) د«ښ» له پاره(ш) او د«خ» له پاره(х) توری استعماليږي.

ددغی ډلی دریم ږغ په خیرالبیان کی داسی کښلی دی:

ډ: دخیرالبیان په الفبې کی د(ډې) له پاره (ډ) شکل کښلی دی، یعنی دال ته یې یوټکی په غیږ کی ور کړی دی، ددولت لوانی او کریمداد روښانی په دیوانو نو کی دغه شکل خوندي دی، مګر دمیرزا خان اورسیړ په هغه دیوان کی چی په ۱۳۳۴ هق کال په لاهور کی د ملا عبدالغفار کندهاري په تحشیه خپور سوی دی، د (ډ) پرځای (ډ̣) کښلی دی، یعنی بل ټکی یې تر دال لاندی و رزیات کړی دی. (۳۳) دخوشال خان په الفبا کی د (ډ) له پاره د (ژ) توری استعمال سوی دی، دملاخیرالله هوتك په دیوان کی هم د(ډ) پرځای (ړ) راغلی ده، دیوسف زلیخا هغه قلمی نسخه (چی زما په کتابخانه کی سته) هم دا (ډ) توری نه لری اوله (ژ) څخه یې د (ډ) کار هم اخستی دی.

نور نو دپښتوژبې په ټولومتنونو کی د (ډ) توری په دغه شکل سته او د خیرالبیان (ډ) بیله روښانیانو بل چا نه دی استعمال کړی.

دپښتو هغه یوږغ چی په عربی، پارسی، هندی اوروسی ژبو کی مشترك دی د (ځې) ږغ دی چی دپېښور پښتانه یې (ځیم— یا زیم) بولی، په اوسني پښتو لیک کی ددغه ږغ له پاره (ځ) توری استعمالیږی او په خیرالبیان کی داسی دی:

ڊ : دخیرالبیان دالفبې څورلسم توری دی او د ډال او ذال تر منځ واقع دی. د (ځ) توری په اوسنی پښتو الفبا کی نهم توری دی. (۳۴) او د (ج) او (ځ) ترمنځ واقع دی په خیرالبیان کی یې داستعمال مثالونه دادی:

(پریوڊي) په (۶۵ ـ الف) مخ کی نمانڊه (نمانځه) په (۵۷ ـ الف) مخ کی او

---

(۳۳) وګوری: دمیرزا خان ددغه چاپي دیوان ۶۸-۶۹ مخونه ـ په دغه دیوان کی (ډ) هم سته خو زه یې د کاتب تصرف بولم.

(۳۴) وګوری: پښتو قاموس ۳۶۹/۱ مخ ـ ظفر اللغات ۳۶۱ مخ.

ACKU

داسې لوړ خوشال خان دغه توری (ځ) لیکه، یعنې د (ح) تر تکي لاندې یې یو همزه کېښوه، په تذکرة الاولیا کې دغه ږغ له پاره (ځ) توری راغلی دی، یعنې جیم ته یې یو بل تکی پر سر ور کړی دی، د دغه شکل پښتو سر کې هم استعمال کړی دی او د پرش کاله د مخه یې لا استعمال عام ؤ.

د پیر روښان حریف اخوند درویزه په مخزن الاسلام کې د (څ) او (ځ) تو پیر نه دی کړی د دواړو ږغونو له پاره یې (ځ) توری استعمال او د (نمونځ) او(ځلور) کلمې (نمونځ) او (ځلور) لیکلې، د پښتو ژبې په زړاترو پخوانیو متنونو کې د (څ) او (ځ) فرق نشته، په ختیځ پوهانو کې زه یوازې یو سړی پېژنم چې دغه فرق یې کړی دی، دغه سړی مجر ګلبرټسن Major George waters Gilbertson دی چې پخپل کتاب The Pakhto idioms: A Dictionary کې یې د (ځ) د ږغ له پاره (ځ) توری استعمال کړی دی، یعنې د (ځ) د تکي پر سر یې یو بل تکی ایښی دی.

د خیر البیان (ڇ) د دولت لواڼي میرزا خان اورمړ او کریمداد روښاني په دیوانو کې خوندي ده. د میرزا خان د لاهور چاپ دیوان کې کله کله د (څ) توری د (ڇ) پر ځای راغلی دی چې زه یې د کاتب تحریف بولم.

د سټر تولواک لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰-۱۱۸۶ هـ ق) د دیوان هغه نسخه چې د کابل د عامه کتابخانې د قلمي کتابو په برخه کې خوندي ده په هغې کې زیاتره (ځ) پر ځای (څ) لیکي، مګر کله کله (ڇ) شکل هم لیدل کېږي چې د(ځ) د ږغ نماینده ګي کوي.

د اسما الحسنی په هغه قلمي نسخه کې (چې زما په کتابخانه کې شته) پر ځای د (انځر) کلمه (انځر) لیکلې ده. د(ځ) اوسنی مروج شکل چې

د (ح) پر سر همزه (ء) کېښلې دي، دوز پر محمدگل خان مومند ایجاد دي چې وروسته ما سو او په لږه وېر پښتونخوا کې یې رواج وموند .

د خیر البیان په الفبې کې د دغو څلورو پښتوتورو اوډل د اوسني پښتو الفبې په شان نه دي، ځکه نو زه غواړم چې دلته د خیرالبیان الفبې پخپل ترتیب راوړم.

١ - ا
٢ - ب
٣ - پ
٤ - ت
٥ - ټ
٦ - ث
٧ - ج
٨ - چ
٩ - ځ
١٠ - ح
١١ - خ
١٢ - د
١٣ - ډ
١٤ - ڊ چې اوس یې موږ (ځ) لیکو او د اوسني الفبې نهم توری دی .
١٥ - ذ
١٦ - ڎ چې اوس یې موږ (څ) لیکو او د اوسني الفبې او لسم توری دی .

١٧ - ر
١٨ - ړ
١٩ - ز
٢٠ - ږ چې اوس یې موږ (ږ) لیکو او د اوسني الفبې شپاړسم توری دی

٢١ - س
٢٢ - ش

۲۳ - ښ
۲۴ - ص
۲۵ - ض
۲۶ - ط
۲۷ - ظ
۲۸ - ع
۲۹ - غ
۳۰ - ف
۳۱ - ق
۳۲ - ک (۳۵)
۳۳ - ګ
۳۴ - ل
۳۵ - م
۳۶ - ن
۳۷ - ڼ
۳۸ - و
۳۹ - ه (۳۶)
۴۰ - ی

دالفبې دلوستلو طریقه:

دوه کلن سخوندر (خُوسَیْ) چې په عربي یې "مُسِنْ" بولي. "مسنه" په پښتو بوارۍ ده (۱) بوارۍ ته ځینې پښتانه دُوکل dukál هم وايي.

دخیرالبیان په (۱۰٤-الف) مخ کې راغلي دي :

" زکات دغوییو دي بیان ....
دخلوېښت بوارۍ، دشپېته دوه زارې دی په توانګرانِ. "(۲)

دپښتو قاموس په ۱۱۷/۱ مخ کې د Buwā́rəy د WALTER BELLEW دډکشنرۍ په ۱۷ مخ اودپښتو قاموس په ۱۲۸/۱ مخ کې د Buhāray کلېمې داسې معنی سوېدي.

" دخاروېو هغه کوچنیان چې نوي له تې پرې کړه سوي وي. "

دپکتیا په ځدرانو کې Bóray دوه کلن خوسي ته وايي چې Borakáy یې مصغر دی او مؤنثه یې Bórye ده- دننګرهار

---

(۱). کنزالدقائق لمړی ټوک ۱۲۹ مخ

(۲). خوشحال خان په فضل نامه کې دغه مطلب داسې راوړی دی :

دوساله دی په چهل وي — داحساب دي په زړه تل وي
دوه څاروي دي ترشپېته سي — که څاروي په زیاتېدا شي
(۹۸ مخ)

ACKU

په سیمه کې د بواري مصدر Buwár kay استعمالیږي چې د وزارۍ معنی لري

بُوْیَه Bóya

باید، لازمه ده، لازم دی، ښایي

د خیرالبیان په (۱۵۰- الف) مخ کې کښلي دي:

« ترو بویه چې د معرفت په ورمندن چار که، پستنه دې اوسي له ګناهان. »

خوشال خان ویلي دي:

لکه غشی لره بویه تیرانداز
همسې شعر لره بویه سحرساز
(د دیوان ۱۵۳ مخ)

بَهْنَه Bahná (اسـ - مو)

پلمه، بهانه، بانه، - هغه سبب چې رښتیانه وي.

په خیرالبیان کې بهنه کلمه د "سبب" معنی لري (۱)، په (۱۰۰-الف) مخ کې لیکلي دي:

« د روژې ماتول په مسافر په بارداري او رنځي روا دي، چې د روژې په بهنه د تن یا د زړه منو دار دي. او په رنځور چې د روژې په بهنه یې رنځ زیات شي. »

د مرو تو د کسرونو په ۳۵ مخ کې راغلي دي:

---

(۱) د خیرالبیان د چاپي نسخې د ۱۱ مخ په حاشیه کې کښلي دي:

« بایزید بهنه د وجه او سبب په ځای استعمالوي. »

عیسیٰ خان چې په دراز و گرزوله
حقاني مرگی یې ؤ، بنه ورور وو

بهیر Bahír

۱- کاروان، جوپه، قافله (عربي)

۲- د لښکر هغه برخه چې د لښکریانو له پاره د ددوی دارتیا وو شیزونه پکښې خوځېدل او د سپاهیانو کلې او کوچنیان به هم د لښکر د خوځېدلو په وخت کې له دغې برخې سره وو، دغه برخه به د لښکر شا ته واقع وه چې منظم او ترتیب به یې نه وو، او د یوې اوږدې لیکې غوندې به روان وو، له دغه امله نو مجازاً د خلکو پر له پسې او داوږده کتار په توگه لېږد ته هم بهیر وایي.

۳- مجازاً: ډله، ټمبه، اولس، مثلاً: "نوازله خیل بهیر سره ستا نادی."

د خیرالبیان په (۱۶۲ ب) مخ کې راغلي دي:

"گوره! د مخلوقاتو قراري له تله، له الواته، له کوزېدو
له بهیره سره ده."

پیر محمد کاکړ ویلي دي:

تل پیر محمد نولېږي، جوړ لکه موم ویلېږي
چې څنې څې چلېږي، د مینو نیازمنو بهیر
(د دیوان ۳۹ مخ)

د بهیر کلمې مصغر "بهیرگی" دی د مرودتو د کسونو په ۷۶ مخ
کې راغلي دي.

یارانو! بهیرگی نه ؤ نقصان ؤ   راغلی (د) زړې زویه شبرخان ؤ

ACKU

اخوند درویزه " بهیرکول " د " دېرولېږلو " په معنی په مخزن الاسلام کې راوړي دي ، ده کښلي دي :

دې اکبر پادشاه بهیر کړه ، یوسفزو لره خطونه
چې دمایې راوکاڼي ، د " تاریک " بندي کوړنه

د " بهیر " کلمه په هندي او پارسي کتابو کې هم راغلې ده .

د حدیقة العالم د دوهمې برخې په ۱۱۹ مخ کې کښلي دي :

" چوراسن جات مکرر برسر بهیر پادشاهی تاخت آورد . . "

د دغه کتاب په ۲۴۸ مخ کې کښلي دي :

" راجه مُلم سنگه معروض نمود که مردم چوراسن جات . . . . . .
تمام بهیر دکارخانه جات خالصه را لوټ کرد . . "

د غیاث اللغات په ۱۲۵ مخ کې د " بهیر " په باب کښلي دي :

" بهیر بروزن فقیر بمعنی بازاریان لشکر ظاهراً لفظ هندی است که
بتغییر واقع شده . . "

Bīrún بیرون

۱- د باندې ، بهر ، ورحینی ، ورجاني ،

۲- استثناء (په خیرالبیان کې په دغه معنی راغلی دی)
بې له ، مګر

په خیرالبیان کې کښلي دي :

" د عید له ځانځه وړاندې خطبه روانه ده ، بیرون جمعې
په روځ ، چې له ځانځه وړاندې دی خطبه لولي . "

(۹۰ ب)

ACKU

» که دکم حیله میاشت یوکس وویني ، علت نه وي په اسمان ، گواهي دي نه قبلوی امام بیرون دده بر آدمیان

(١٠١ ب)

» بیرون « او » برون « کلمې په لومړي معنی په پارسي کې رواج دي ، محمد شمس الدین حافظ شیرازی ویلي دي :

هرکس که ندارد از تو دردي
از حلقهٔ وصل تو برون باد

(ددیوان ٢١٢ مخ)

دغه پارسي کلمه رحمان بابا هم راوړې ده :

زه داهسي دیوانه او مجنون چاکړم
له رواجه له رسومه بیرون چاکړم

(ددیوان ١٠٣ مخ)

بیره Bíṛə (اسـ ـ مو)

تلوار ، تلیوار ، تادي ، چابکي ، چټکي ، گړندیتوب .

دخیرالبیان په (١٢٨ ب) مخ کې کښلي دي :

» گوره ! عمر د آدمیان په بیره ځي له آدمیان . «

اشرف خان هجري ویلي دي :

عنادل يې په غوغا اغله په بیره
مخاطب دکیفیت په استغنا رسوم

(ددیوان ٩٠ مخ)

پار Pā́r (اسـ ـ مذ)

وس ، قوت ، طاقت ، اقتدار (١)

---

(١) دگورئ : پښتو قاموس ١/١٤٥ ـ ظفراللغات ١٩٦ مخ ـ دخیرالبیان دچاپي نسخې د١٢٧ مخ حاشیه

ACKU

دخیرالبیان په (۹۹ب) مخ کي داغلي دي:

"که د ړوژي پار نه لري، یو یو [پیا] ودږی ورښي یا نیم نیم [پیا] ودږي ختنم یا پیا دي ورکه وشپیته فقیران."

په (۹۹-الف) مخ کي کښلي دي:

"که پار د برده د آزادي نه لري، دوه میاشتي دي پیوسته روژه لري."

د پار له کلمې څخه (پار + کال) د طاقت، اقتدار، برم او عظمت په معنی په کندهار کي ژوندۍ کلمه ده (۱)، د خوشال خان په دیوان کي د دغه کلمه د پرکاله Par + kālá په بڼه لیدله کیږي:

د بهار په سیل تل د ړومه خوشاله
یو څو ورځي چي د ګلو پرکاله شته
(۲۱۸ مخ)

دوست محمد کامل د دغه بیت ته په حاشیه کي کښلي دي: "پرکاله یعني حصه، ټوکره، شرر، سروټکه (سکروټه) وروستو معنی کښي به تري مراد شعله او رڼا وي د شاعران اکثراً د ګلو رنګ ته له رڼا سره تشبیه ورکوي." (۲)

پارو (Pār + ú) د امبار او سرې په معنی سره په کندهار کي مروجه کلمه ده. زه یې د دغه معنی مجازي بولم او ما ته د دغه کلمه هم د (پاسو) ریښې څخه جوړه ښکاري چي لغوي معنی یې بایل (قوت ورکوونکی) یا (طاقت لرونکی) دی ـ ځکه چي (U) د نوموټو

---

(۱) د kāl لاحقه د وخت په معنی په ښکال (warša + kāl) کلمه کي هم شته

(۲) وګورئ: کلیات خوشال خان خټک - د پېښور چاپ ۲۷۳ مخ

ACKU

یا صفتونو په پای کې د فاعلیت، ملکیت لاحقه ده لکه:

څارو (čār + ú) څار کوونکی
باټو (Baṭ + ú) باټي ویشتونکی، لاپیک
ډاکو (Ḍāk + ú) ډاکه مار، هغه څوک چې ډاکې اچوي او داسې نور ....

په انګریزي ژبه کې Power کلمه د زور، طاقت او قوت په معنی د pār له مادې څخه لیرې نه ده.

پَرانیتَل Prānitə́l
پَرانیزَل Prānizə́l (مص)

خلاصول، پرانیستل، پرانیځل، [وَر] بیرته کول
د خیرالبیان په (۱۲۵ ب) مخ کې راغلي دي:

" اې بایزیده! زه د طریقت وروهغه ته پرانزم چې شریعت په علم جاړ که.."

د باز نامې په ۶ مخ کې راغلي دي:

د نسادان دامدار نیولی باز په صبر ـ
په ورو ورو پرانیځه مه کړه بیړه، جبر

خوشال خان ویلي دي:

په هر ښکار به بې خطا څو رب الوزي
ما خپل باز دی په ورو ورو پرانیتی
(د دیوان ۵۰۹ مخ)

ACKU

په زند کې Pranadr کلمه د پرانېزلو معنی لري (۱)

پړهار ژلی Purhār žəlay (ص-من)

ټپي ، زخمي ، گهايل ،

دخیرالبیان په (۱۱۳ ب) مخ کې راغلي دي :

« هر کله یې ووهي ، ترو خوږ شي . یا پړهار پر وشي ، ترو خوږ شوي و پړهارژلي وته به هسې وايي . »

خوشال خان ویلي دي :

څه د خان صرفه ، اوس کار کوه خوشاله !
لکه کار کا پړهارژلي پلنگان
(د دیوان ۲۵۳ مخ)

د پړهارژلي کلمه ځینې پښتانه " پړهار زلی " وايي .

د سنسکریت شبدارتهکوستبه په ۷۶۹ مخ کې Prahar کلمه د ټوري د زخم او ټپ په معنی کښلې ده.

پریوان Prewán
پرېمان Premán

خورا ډېر ، خورا زیات ، په پېڅ

فراوان (پارسي) ، وافر (عربي)

دخیرالبیان په (۱۲۶ ب) مخ کې راغلي دي :

---

(۱) پښتو څېړنې ۲۵ مخ

ACKU

په هر زړه کښې چې د بهښت محبت وي ، هغه زړه په مانند باغ دی چې پکښې رنګارنګ د بهښت نعمت وي پرېوان ."

خوشحال خان وېلي دي :

تر خو به یې خندا دی جار سم دانه خانده
چې پرېوان کړې په مالال ومرغلرې

(د دیوان ۴۳۰ مخ)

د Prewā́n کلمه چې د را دیو ځینې نطاقان درې هجایي Parewān والې سم تلفظ نه دی . پر خوشال خان سربېره بهایي جان هم دغه کلمه دوې هجایي راوړې ده :

نو شوی خان وسلطان
غورپلاوونه پرېمان

(د کلیات ۶۷ مخ)

دغه کلمه د پرېوانه Prewā́na په ډول هم استعمالېږي ، پیر غلام وېلي دي :

داغ مې د زړګي د پاسه خون رانه پرېوانه ځي

د هندوستان د تاله (وزن) په ډبروکي Premān د وزني معیار و نو مبدا ؤ ، او د لمر د وې ذرې معنی یې درلوده.(۱) کېدای سي چې پښتو او هندوستانی معنا دې یې مجازي اړیکې ولري.

---

(۱) وګورئ : تذکرة الهند ۱/ ۳۴ مخ .

پِرِيْ ښُوْنِيْ Prešúni (اسـ-ج)

پسخوره (پارسي) جوټه (هندي) (۱)، سُوُر (م.
له خوړلو څخه پاته سوي خواړه يا ميوه چې ځيني پښتانه يې شوَيه Sogá بولي. په هلمند کې متل دی:

ددوی شوَيه، دژمي ميوه

"شويه" کلمه د پښتانه معنی هم ورکوي. دکندهار ناصر پښتانه سوريغي Sawriγí بولي؛ مثلاً: دا سوريغي همسايه ته ورکړه. دځيلي پښتانه يې "پاته ښوني" بولي.

په خيرالبيان کې دپرې ښوني کلمه داسې راغلې ده:

" پرې ښوني دسړي دحلال څيز پاک دی. "
(۶۵ - الف)

بهائي جان صاحبزاده کيشاني ويلي دي:

بې غيرته به دبل لاس ته گوري —
همېشه به خوري دبل سړي پرې ښوني —
دهرچا منت به وړي د نس دپاره —
لکه پروت وي تر پښو لاندې ستوني

(دکليات ۱۹ مخ)

دپښتو قاموس په ۱/۱۷۳ مخ کې ددغې کلمې تلفظ Prešune (مو) راغلی دی.

دکندهار په کوچيو ناصرو کې يې Prešowáni (ج) دی.

---

(۱) "جوټه" کلمه په پخوانی د هندي "جهوٹھ" په معنی باب ده، په هندي جهوٹھ پسخوردې ته وايي.

ACKU

پَسْتَنَهْ Pəstaná

بېرته ، ترشا ،
مجازاً لېري

دخیرالبیان په (۱۲۰ - الف) مخ کي راغلي دي :

" پستنه دي اوسي زما د دار په جهنه په هتیاتي له واره حرام ".

پیر محمد کاکړ ویلي دي :

قاصدان چي مي لېږلي دي ویاړنه
پستنه راغلي نه دي وماخوارته
(د دیوان ۷۴ مخ)

بابوجان ویلي دي :

د نېکانو له صحبته پستنه مشه -
شیطاني سبق یې واخیست له جهوده
(گلشن روه ۱۲۳ مخ)

پښیښا Pašišá

پښلا ، پس شا ، ترشا

دخیرالبیان په (۱۱۴ - ب) مخ کي کښلي دي :

" یادوي به دی پښیښا ونورکسان ، چي له ده نور سري واوري ".

پَلَاسْ Palās (اسـ - مذ)

کراسته ، نیغڅی ، لیمڅی ، نمد (پارسي)

دخیرالبیان په (۶۷ - الف) مخ کي راغلي دی :

" که لوګین یا خادرین کالی ، پوزی یا پلاس یا نور هسی کالی پلیت شي . "

ACKU

پلاس کلمه په پارسي فرهنګونو کې هم د کراستي او دړېنې شړۍ په معنی راغلې ده. (۱)

پَلتَۍ Paltáy (مو)
پَلَـتړۍ

په پارسي یې "چارزانو" بولي، پَلَتۍ وهل (چارزانو کښېنستل)
دخیرالبیان په (۷۳ - الف) مخ کې کښلي دي:
" په پلتۍ ناست په مزدک کښی روا دی. "
" مکروهات د لمانځه ...... د سپي په دود یا پلتۍ بې عذره کښېناسته دي په آدمیان. "
په هندي ژبه کې هم "پالتي" چارزانو کښېنستلو ته وائي. (۲)
د دلیل ساطع په ۱۱۴ مخ کې یې دغه هندي کلمه پلتها Paltha راوړې ده.

پُوزَۍ Puzáy (اسـ - مذ)
انبړۍ، بوریا؛ پوزکۍ (مصغر)
په عربي یې "حصیر" بولي
دخیرالبیان په (۶۷ - الف) مخ کې کښلي دي:
" که لرګین یا خاورین کالي، پوزي یا پلاس، یا نور هسې کالي پلیت شي. "
خوشال خان ویلي دي:

دا راحت لکه د فقر د پوزي دی　　دا راحت نشته په تخت د سلطنت
(دیوان ۵۷۸ مخ)

---

(۱) وګورئ: برهان قاطع ۱/۱۹۳ مخ - غیاث اللغات ۱۳۹ مخ
(۲) سټنډرډ اردو ډکشنري ۱۰۳ مخ

ACKU

(۲۷)

پوَندَه گَلي { Pawanda+galí / Powanda+galí } (اسـ - مؤ)

پوندَه گلوی ، پوَندَه توب ، کوچي توب ، دکوچیانو ژوند ،
دپوندَه وُ ژوند .

دخیرالبیان په (۱۵-الف) مخ کي راغلي دي :

« مشغول دي د بر آدمیان ، ځیني په کرل یا په بازرگاني یا په
پوَندگلی یا په ترکش بندی ..... »

پوندَه Pawandá ، Powandá کوچي ته ویل کیږي ، په دغه کلمه کي Po د ځر ، ځر معنی لري چي په پارسي یې "چرا" بولي (۱) . andá دفاعلیت شاوندی دی چي په وهندَه او خورندَه کلمه کي هم سته ، خوشال خان ویلي دي :

تیـوسی به په مردانه باندي گرزي —
وهندَه شهباز چي ښکار هوري هوري وي
(ددیوان ۴۴۳ مخ)

چي لیندَه یې وي په غشـی
خورندَه وي په خوا ره
(ددیوان مخ)

پوَنَه Powánə (مص)

ځرل ، پوول ، پیایل
دخیرالبیان په (۱۰۴-ب) مخ کي کښلي دي :

---

(۱) حمید ماشوخیل ویلي دي :

څه به ستا دنس توسن سرکښي نه کړي
چي سبا بیگا یې پیایي خوش علف

„ یا هغه چرندګان چې یې زیات کال (په) پلو نه تېر شي
ور سره دې وګڼي - „

د هغه مطلب خوشال خان داسې ویلی دی:

بل چارپا چې همګي د ي
اخوړي نه ، رمه ګي د ي
که یې نه وي دا شرطونه
زکات نشته په مالونه

— ع —

چارپایان چې تېر تر کال شي
صحرا چر وي ، هاله مال شي
(فضل نامه ۹۵-۹۶ مخونه)

پېژندګلي Pežəndgəlí

پېژند ګلوي ، شناخت
معرفت (عربي)

د خیرالبیان په (۱۵-الف) مخ کې راغلي دي:

„ د انبیا و لار هغه ده چې زما و پېژندګلي وته بولي آدمیان .„

اخوند کریمداد ویلي دي:

„ دی عورته که مېړه وي
تر دا کل فرض ور و نبلي
د مینه ځند ای پېژندګلي په ده تاوان شي „ (۱)
(د مخزن الاسلام ۱۳۹ مخ)

---

(۱) دلته تاوان ولازم معنی لري اول ور دنبلي تخه ور و مبی مراد دی.

ACKU

په پښتو ژبه کی (پېژندل، پېژندل، پیجندل) د پارسي "شناختن" معنی لري. د پښتو ژبې په لیاره کې د دغه مصدر متمم او نامانوس مصدر پېژنل Pežənəl راغلی دی (۱)

په زند کې Patizan د پېژندلو معنی درلوده. (۲)
په اشکاشمي ژبه کي "پېزمیدوک" په شغنی ژبه "وِزین تاو" په سنګلیچي ژبه "اِوزین وا" او په منجي ژبه "ڤِزید کا" پېژندلو ته وايي. (۳)
په اوستا هندي کی Pihčān د پېژندنې معنی لري.

پېغلکۍ Peɣəĺke (اسـ-مو)

د "پېغلې" مصغر دی، پېغلوټې، پېغلتوب ته نږدې ذخیرالبیان په (۱۹ ب) مخ کې راغلی دی:

«ډېر ورو ډي، خوږې، هلکی، پېغلکۍ، تور د زیری
چې زوړ دی یا ځوان.»

تابیا Tābyá (مؤ)

تیاری، آماده ګی، بندوبست،

---

(۱) وګورئ د مصدرونو برخه ۵ مخ
(۲) وګورئ پښتو ګرامر ۲۵ مخ
(۳) وګورئ د افغانستان د ځینو ژبو او لهجو قاموس ۴۰ مخ

ACKU

تعبیه (عربي)

دخیرالبیان په (۸۶ - الف) مخ کي کښلي دي :

"چي بانګزن دجمعي بانګ لي، بو به چي سودادي پرېږدي
دجهان - د غسل تابیادي وکه ، ترو دجمعي ومزدک وته
دی روان شي ."

تپَه Tapá (اس - مؤ)

دله - ټولی - قبیله (عربي) طایفه (عربي) - ګروه (پارسي)

دخیرالبیان په (۱۲۹ ب) مخ کی راغلي دي :

" ګوره ! ایمان معصوم دی دپیغمبرانو د تپې ، رحمت
دی وي ددوی په ځان - مقبول دمؤمنانو د تپې ، موقوف
دمنافقانو د تپې ، او مردود دی چي تپه ده دشیطان ."

د مخزن الاسلام په ملحقاتو کي اخوند کریمداد ویلي دي :

" په غه لویه ورځه باندي ، به عالم تپې تپې کا
مومنان به په جنت کا
کافران به ودوزخ وته روان کا ځېل په غاړه ."
(مخزن الاسلام ۱۸۵ مخ)

د مخزن الاسلام د ۱٤۷ مخ په حاشیه کي کښلي دي :

" د الفظ طپه یا طپې مخفف دی د طایفې نه چي په معنی د
ګروه ، ټولی ، دله دي ."

ACKU

(۳۱) تِرکَشْ بَنْدِيْ { Tir Kaš bandí / Tar kaš bandí } (اسـ. مو)

سپاهي توب، عسکریت (عربي)، فوجي خدمت.
ترکش بند دسپاهي معنی لري.
دخیرالبیان په (۴۷ - الف) مخ کې راغلې دي.

„ځینې په بسنه دکرلي، یا دبازرګانۍ، یا دپوندګلۍ د
ځناورانو، یا په ترکش بندۍ دپادشاهانو، یا په نورچار
مال ګرځوي.“

ددغې کلمې لومړی جزء „ترکش“ دشخولی (غِشِ خولي) معنی لري (۱)
اوهغې لخوړې ته ویل کېده چې ځوانیو سپاهیانو به غشي پکښې اچول
او په کینه او بدنه پورې به یې تړله، په عربي ژبه دغه شخولی ته
„کِنانه“ وايي — په پارسي کې د „ترکش“ کلمه سلیم داسې
راوړې ده:

نگه را غمزه بیرون از صف مژگان نمی آرد
.بهر صیدی نینداز ند تیر روی ترکش را

ددغې کلمې دوهم جزء „بندي“ په نعل بندۍ، دستار-
بندي او هتیار بندي کلمو کې هم سته. (۲)

د „ترکش بندۍ“ کلمې په باب دفاضل استاد پوهاند عبدالحی حبیبي
نظریه بله ده. دنیات معلومات له پاره دپښتو ادبیاتو په لومړي توک
کې ددغې کلمې په باب دنوموړي استاد لیکنه دلولئ.

---

(۱) دغه کلمه دبرهان قاطع په ۱/۱۸۷ مخ کې *TarKaš* راغلې ده، دغیاث اللغات په
۱۵۰ مخ کې دا اسم زیاته سوده، اصل یې *TirKaš* ده او دا یې مخفف ترکش دی.

(۲) هتیار په هندي ژبه وسلې او درستي ته وايي.

ACKU

تْرُوْ tró :

نو، خو، ځکه، له، څوچې، ترهغوچې، ترې
دخيرالبيان په (۱۲ - الف) مخ کي راغلي دي.

" او بایزیده ! ما رښتیا وبخښل وتا وته او ستا و یارانو او محبانو او چې دي نغوړي. وهغوته دتولې په بهسه وړاندني ګناهان، ولی تن دنغوري ترو منعه کړه یاران، محبان او هغه چې دي نغوړي، له دغه پسه له لورو ګناهانو. "

خواجه محمد بنګښ ویلي دي:

که هر څولوی شي، عاقبت به قورو خادروته ځي
ترو ددنیا به حمسرغه هوا، مستي کاندي څوک
(ددیوان ۲۶۴ مخ)

رحمان بابا ویلي دي:

چې دن روډوله نما نځلو بې پروا دی
تروکه زره دسري یوسي څه به کار؟
(ددیوان ۵۲ مخ)

مروت پښتانه د "ترو" کلمه "تو" والي، دمروتو دکسرونو په ۹۱ مخ کي راغلي دي:

هرچیا ویل چې ګوره احمدجان چوني لیه دي
اوس تو یې په سر دوبنوګري کړي جیده

تَښْتَنْ Taštán :

دښښتن کلمې بل تلفظ دی - خاوند، څښتن، چښتن
مالك (عربی) (۱).

---

(۱). پښتو قاموس ۱/۲۵۵ مخ

ACKU

دخیرالبیان په (٤٦ - الف) مخ کې کښلي دي:

"زه دې سپتیني لاړې تښتن له کتابه سره ورابستوم."

دولت لواني ویلي دي:

درحمت تښتن ته خدای حسي زور ورکړي
دفرهاد په شان تنها کالوی غرمات
(ددیوان مخ)

تُوړِي Tóri (اسم جمع)

سِیهي (هغه تور رنګ چې خط په کښل کیږي)

دخیرالبیان په (۱۰ ب) مخ کې کښلي دي:

"تمامي به نه شي ستا دستږ ثنا خبري، که دکښلو په هنه قلمونه مات شي او توړي شي تمام."

دمخزن الاسلام په ۲۰۷ مخ کې راغلي دي:

"د، غه پسه دامُرده به ورته وایي:
مشوانۍ، توړي، قلم راځخه نشته
فربښته به ورته وایي:
(دغه) خوله دي مشوانۍ لاړې دي توړي
قلم ګوتي، مُهر نوك، کاغذ کفن دی."

"توړي" کلمه د "سیهی" په معنی دپښتیا په ځینو ځایونو کې ژوندۍ کلمه ده. توږکي Tórki - او - تورکنی Torkáni دپارسي "دوده" او هندي "کاجل" په معنی ددغې کلمې مصغر شکلونه دي.(۱)

اشرف خان هجري ویلي دي: "دتبې توږکي چې پوړي شه په خلعو" (ددیوان ۵۵۸ مخ)

---

(۱) "دوده" په پارسي ژبه کې دکور کې، کورني او کهول معنی هم لري، خو دلته هغه مراد نه دی.

ACKU

تِېرسَوْ Ter + saw : درې‌سوه (٣٠٠)
خوشال خان ویلي دي :

ددهلي بنا اول وکړه چوهانو
پرې ددُوبو تېرسو کاله سلطنت و
(خ ٦٩٨)

دخیرالبیان په (١٠٤ الف) مخ کي د زکات په باب راغلي دي :
« که یوزیات شي ، دابې دي ورکه . څو تېرسو نه لوي (٣٩٩) شي.»

تیَرَهْ Tyará (اسـ - مؤ)
تیاره ، تاریکه ، ظلمت (عربي)
دخیرالبیان په (٤٦ ب) مخ کي راغلي دي :
« وبه یې باسم د دنیا په ژوندون له تیرې ورنادته.»
په پارسي کې دغه کلمه فردوسي داسي راوړې ده :

مرا روز روشن بود تاره شب
باید بپاسخ گشادن دو لب
(شهنامه ١ / ٨٤ مخ)

په بلوڅي ژبه کي "تهارین شپ" د تیارې شپې معنی لري.

جارُاسْتَلْ jāristə́l
جارُباسَلْ jār basə́l
١- کمرزول ، ستنول ، پستنه کول
٢- برکنمي باندې اوږده تارونه اچول ، تانسته جاراستل دي.

ACKU

(۳) - مجازاً په لومه یا کړکومه اړېدل (بندېدل)

دخیرالبیان په (۷۰ - الف) مخ کي راغلي دي:

„ که بېرېه له کعبې له رخه وجاروزي، نموږ کړوني دي هم وجاروزي، مخ دي وکعبې وته که، بې د مخ له جاړایستل وکعبې وته لوړنځ یې روانه دی عیان، بې جاړایستل د زړه د مخ، واخلاص وته درست یې نه شي ایمان. ،،

رحمان بابا ویلي دي:

مرمر په داچي ماله تا جار باسي هغه خلق
بیا دي په دیدن تو ماوږمبي د ځغلي خواته

(د دیوان ۱۳۶ مخ)

جارُوتَل Jarwatə́l (مص - ۷)

۱- ګرزېدل، ستنېدل، پستنه کېدل

۲- د سپنسو یا ماشوړي سره اړېدل (جړکېدل)

۳- تړلیوه شي تاوېدل - پرلیوه شي ګرزېدل راګرزېدل، نژلیوه خیز چارپېره ګرزېدل.

دخیرالبیان په (۱۱ب) مخ کي راغلي دي:

„ بوسیله چي وجاروزي ته اوستایاران، چي دي نغوړېږي، محبتي کسان له واړه ګناهان. ،،

میانعیم متی زي ویلي دي:

دریبار په ننواتو نه جاروزي
هسي دروحي مرورملن د عمر

(د دیوان ۶۶ مخ)

ACKU

1142

پیر محمد کاکړ وېلي دي:

لاړ د بل غم مي وزړه ته ننسته
د یار غموغه تو جاړ وتلي دي
(د دیوان ۱۱۰ مخ)

د پیر محمد په بیت کي "جاړ وتلي" کلمه په دې معنی راغلې ده.

جُوهَړ — Juhə́ṛ
جُوَوړ — Juwə́ṛ
جِیوَړ — Jiwə́ṛ
(اسـ ـ مذ)

ناوړ، وستی، خلیږ، ډنډ، ډنډ وکی، تړگی

حوض (عربي) - اَوډ - تالاو (تالاب) - کوچنۍ جهیل.

د ذخیرالبیان په (۶۳ - ب) مخ کي کښلي دي:

"هغه جوهړ چي یو ګز اوبه يې د کوزوي، اوبل ګز اوبه يې نه کوزيږي."

"جبا د جوړ" د آزادو مومندو په بابا زو کي د یوه کلي نوم دی. (۱)

"جوهړ" کلمه په هندي کي هم د تالاو په معنی مستعمله ده.

تَخَه — Jxə́
تَخَه — Jə́xə

تخه، چخه، څخه، چه، نه

د ذخیرالبیان په (۶۸ ب) مخ کي راغلي دي:
"نمازي تخه که ته جامه وي ترو ډي لاسدي که تراقد امر." (۲)

---

(۱). پښتانه، لومړی ټوک، ۱۲۵ مخ

(۲). د "تخه" کلمه د چاپي نسخې په ۱۱۰ مخ کي "سخه" کښلي ده.

ACKU

د "ځنه" کلمې رواج اوس په کښتوان کي ډېر دی.

چاره Čárə (مؤ) } (اسـ)
چار Čār (مذ) }

مخفف یې "چړه" او "چر" دي ، د کار ، کړه او عمل معنی ورکوي

دخیرالبیان په (۱ - الف) مخ کي راغلي دي :

" هر چي د دین چار د دنیا د چار د پاره پرېږدي ده لره دي زیان ."

دخیرالبیان په (۵۲ - الف) مخ کي راغلي دي

" د مټکي استنجا په لوټه ، په خاوره ، په کاڼي ، د شړيه په توکړي ، په زاړه څيز چي له چار پيستلي وي . "

سعید هم دغه کلمه په مذکر ډول استعمال کړېده ، ده ويلي دي :

د آهن په جذب گوره مقناطیس ته
خوږ الفاظ په زړو د خلکو هسي چار کا
(د دیوان ۳ مخ)

دخیرالبیان په (۱۲۸ - ب) مخ کي دغه کلمه په مؤنث ډول راغلې ده :

" تر ولویه وسرې چي نظر دي که ، خپلي چارې وته ، چي څه چارې که په دا عمر ، ښه بیگره که بدې که گناه ؟ ښه او بده چاره دي په رښتیا په زړه کښي حسیب که ، خپلي چارې بېوفايي که له ادمیان . "

شیدا کاظم خان ویلي دي ،

اسمانه! گرځې ولې بې لارې ؟
بد دي کړدار دی ، ورانې دي چارې؟

(د دیوان ۱۵۱ مخ)

ACKU

ځیني پښتانه چې د سلام پر ځای "سنه چاري" وایي، دلته هم
دغه کلمه مؤنثه ده.

په خیرالبیان کې چې "چار" کلمه له "ږده" کلمې سره یو ځای
راسي، د عمل معنی لري - په (۱۲۷ ب) مخ کې راغلي دي:

« او بایزیده! وکښه ږده او چار د حقیقت - گوره! زده
او چار د حقیقت، د طریقت له ږده او له چار به ده په آدمیان.»

چُمْبَجَۍ = چینجۍ چه په پارسي یې "کرم" بولي.
ځیني پښتانه یې čəmjay وایي.

څَلُوْرْبُوْلْ Calor Ból (ص.):

څاروي، چارپایان (پاري)، هغه ژوي چې پر څلورو ځي -
په عربي یې بهایم بولي، مفرد یې بهیمه ده، په پارسي یې
چوپایه هم بولي.

د خیرالبیان په (۱۲۷ - الف) مخ کې راغلي دي:

« گوره! هر سړی چې د پادشاه پر تخت څلوربول وتړي یا پلیتي
ورباندې واچوي .....»

د حمید په دیوان کې دغه کلمه د څلوربولي په بڼه راغلې ده:

چې یې د مرقد مرغساک خوب وخوراک شه
دی بتر تر څلوربولي دا دوه بولي
(د دیوان ۱۱۸ مخ)

د څلوربول او دوه بول کلمې د څاروي او انسان په معنی
اوس هم په نږمله کې ویل کیږي.

څنګښه Cəngəǧə (مو)

چونګښه ، ښیندخ ، ښیندخه ، چیندخه ، چیندخ —
چې په پارسي ژبې "غوک" او په ترکي ژبې "بقه" بولي.

دخیرالبیان په (۹٤-الف) مخ کې راغلي دي:
„کب یا څنګښ یا کوني کبر یا نور هسي زندګان.“

ځودان څنګښ کلمه د چونګاښ (کوني کبر) په معنی والي
او څنګښه کلمه د چونګښې (چیندخې) په معنی استعمالوي.

څوړی Cwárəy (اسـ-مذ)

د سفر خرڅې ، د سفر له پاره د خوراک و څکاک لوازم ،
د لارې خرڅ ، د لارې توښه
چې په عربي ژبې "زاد" بولي.

دخیرالبیان په (۱۰۸-الف) مخ کې راغلي دي:
„ د حج ګذاردن واجب دی ، پر آزاد پر عاقل چې څوړی
تیرونې، د کاهله خرڅ لري.“

مولوي صالح محمد هوتک ویلي دي:

شمعه اخله له دې ځایه
رڼا وړه له دغه سرایه
څوړی اخله له دې داره
مخ پر لوی سفر د ینداره

(پښتو مثنوي ۱٤۲ مخ)

ACKU

ثُونْ سَوْ Consaw (عدد)

ثلور سوه (٤٠٠)

دخیرالبیان په (١٠٤-الف) مخ کي کښلي دي:

"که یو زیات شي درې دې وړکه ، ثوتاپرسو[٢٩٩] نه نوی شي
که ثونسو شي ثلور دې وړکه ."

دپښتو قاموس په ١/٤٠٥ مخ کی دثونسو کلمې ته کښلی دی:

" عدد ؛ مثلاً ثونسو سپاره "(؟)

داخبره سمه نه ده ، دخوشال خان په فضل نامه کي هم "ثونسو" کلمه دثلورو سوو په معنی راغلې ده ، په ١٠٠ مخ کي کښلي دي:

که مه شي ثونسو پسونه
ثلور پسونه باندي شوونه

حَسِیبْ Hasíb

په عربي ژبه کي د "حساب" کلمې ممال شکل دی.

پیښوری ادیب سید احمد ویلي دي:

دست فرشته گشت خمی از حساب تو
تا خود چه بود خواهد از این حسیب من

دخیرالبیان په (١٠٢-ب) مخ کي کښلي دي:

"حسیب دي نه که په مال کښي ...."

دچاپي خیرالبیان مقدمه لیکونکي او سمونکي " حسیب " کلمې ته کښلي دي : " یعني حساب ".

ACKU

خپسر Xpə́sar

د (خپل + سر) مخفف دی ، د "خپلخان" معنی لري

د خیرالبیان په (۱۳۵ - الف) مخ کې کښلي دي :

" خپسر او خپلسر به یې له نورسرې به ګنمل . "

بابو جان ویلي دي :

د دنیا په خود مستۍ دې خپسر خدای که
په حیات خوراك د ما شوشوې نمروده!
(ګلشن روه ۱۲۳ مخ)

عبدالقادرخان ختک ویلي دي :

که په اور د ریاضت خپسر وسوځي
- لاله زار به ورته اور شي د جحیم
(د دیوان ۲۰۱ مخ)

خریانْ Xar+yā́n (اسـ - مذ)

خر ، مردار هډې ، (مجازاً آس)

په دغه کلمه کې (یان yā́n) یوداسې شاوندی دی
چې په (نریان Nar+yā́n) او (مادیان Mād+yā́n)
کلموکې هم سته .

خریان د خره او مردار هډې په معنی په کوچیانو کې ژوندۍ کلمه ده مګر په ځینو لیکلو یا نوکې د آس په معنی لمیدل کیږي ، لکه ،

د خیرالبیان په (۲۵ - الف) مخ کې کښلي دي :

" ګوره ! ما مینه د نر برد سپین نار ، خریان کړله ،

اوړتي، زامن په هسې شکل [مې] د دنیا مایه کړي دی او ځناوران . „

د پیر روښان دغه بیان د دې آیت پښتو ترجمه ده :

„ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا .... „ (۱)

په خیرالبیان کې "خرپان" کلمه د قرانې "خَیلُ" کلمې ترجمه ده چې د "اسانو" معنی لري (۲)

د مروتو د کسرو په ۹۵ مخ کې هم د "خرپان" کلمه راغلې ده، هلته کښلي دي :

نیازۍ دي خوشحالي له خرپانه
په بل دې سانګه (لاره) ترېمبل

د دغه مخ د ۸٤ - ۵۵ - ۱۷ مخونو په حاشیو کې سمونکي د "خرپان" ترجمه په آس کړېده .

د غه کلمه د مروتو د کسرونو په ۱۱۲ مخ کې هم راغلې ده. هلته کښلي دي :

„ شربت" ښاغلی سپور ده

---

(۱) دا آیت د آل عمران په سورت کې راغلی دی.

(۲) وګورئ : د تفسیر حسیني ۸۲ مخ - د تفسیر موضح القرآن د پارسي ترجمې ۱/۲۸۵ مخ د المنجد ۱۹۹ مخ - صراح ٤۲۲ مخ - غیاث اللغات ۲۶۲ مخ او نور .

ACKU

سپینو تورو ته سرتور ده
ویشتلی یې په ڼخښه زکریا په لاس چې اوږده
پرېوت له خرېانه، ګولۍ وکه په پسات

خزري Xazə́ri (اسـ-ج)

لک دوړی خوږزي، اتامونه، خورا ډېر کوچینی شی، ریزګی میده‌ګي، خوږزکي.

په خیرالبیان کې راغلي دي:

« ترو به ځمکه، هرغر تکړي، خزري. ذره ذره کړم.»
(٣٤-الف)

« که د روژه دارکم کاڼی یا د اوسپني خزري یا هډوکي یا لوړ دا هسې ونغړ شي.»
(٩٩-الف)

د "خزري" کلمه اوس هم د پښتنو په سیمه کې په دغه معنٰی رواج ده

خوزېدونی Xuzedúnay (فا-مذ)

خوزېدونکی، خوځېدونکی
متحرک (عربي) جنبنده (پارسي)
دخیرالبیان په (٣٥ ب) مخ کې راغلي دي:

« ترو به له ځمکي وباسم پخپل قدرت. هغه چې پکښې وی ګران. تن د واره خوزیدوني عیان.»

ACKU

دَرَلـهٔ Dərlə́ (حمص)

درلودل ، درلوول - لرل

دخیرالبیان په (۷۱ ب) مخ کي راغلي دي

„ ښکاره درلـه د نیت د زړه فرض دی او مستحب دي د ژبان . .

په تاریخ مرصع کي راغلي دي :

„ سواتیو به شب وروز د هغه غا ښي چوکـه درله . „

(کلشن روه
۱۱ مخ)

دَژْواکْ بَنْدَگانْ

هغه مریان چي د خرڅلاو او سوداګری له پاره نه وي بلکه د خدمت له پاره وي .

د خیرالبیان په (۱۰۲ ب) مخ کي کښلي دي :

„ نشته زکات په وروکي ، نه په لیوني . نه په مال آزادشوي بندګان .

حسیب دی نه که په مال کښې کوره ، نه جامه د اغوستن او نه د تیګي خریان ـــ نه کړ دی ، نه لبر دي نه دژواک بندګان . .

فاضل حاشیه لیکونکي ورته کښلي دي :

„ لیعنی هغه غلامان چي د خدمت له پاره وي . . .

دغه مطلب خوشال خان داسې ویلی دی .

که دی وینځي که مریونه
چي خدمت که ستا په خونه
په دا واره زکات نشته
د پوښتني حاجت نشته

(فضل نامه ۹۸ مخ)

ACKU

(٤٥)

ډول Dól (اسـ - مذ)

۱- د ساز او سرود یو اوزار دی، کله چې وهل کیږي اتڼ ورته کوي، ډولک او ډولکی یې مصغر دی.

۲- په ژرنده کې د سندوخ په شان یو شی دی چې غنم پکښې اچوي په بېخ کې سوری لري او له هغه سوري څخه غنم د اوړه کېدو له پاره پر ژرنده راتوییږي. د کابل ځینې پارسي واڼان یې گلگل آسیا بولي، او په فرهنگ جهانگیري کې کښلي دي چې په پارسي یې هم دول بولي. ځینې پښتانه یې ډولبره Dolbára هم بولي.

۳- سلواغه - سولاغه - بوکه - چې په عربي ژبه یې "دلو" بولي.

٤- دارهټ (ارهټ) څرخ، چې په پارسي یې دولاب بولي.

په خیرالبیان کې د "ډول" کلمه په دریمه معنی راغلې ده په (٦٤-الف) مخ کې کښلي دي:

"که په کوهي کې موږک یا مرغه یا نور حسي شکل ومري . له هغه کوهي دې شل [په] ډول د دیرشو لوري وکاږي.."

په پارسي کې هم "دول" کلمه د عربي "دلو" معنی لري. چې د سلواغې او د سلواغې د میاشتې (برج) په معنا و استعمالیږي(۱) حکیم سنایي غزنوي ویلي دي:

از دو پیکر واز ترازوی دول
از هوا یافت بهره بهر شمول

د واژه نامهٔ بندهش په ۳۹۱ مخ کې Dol کلمه د سلواغې د میاشتې په معنی راغلې ده.

---

(۱) وګورئ برهان قاطع ۱/۳۰۷ مخ - فرهنگ جهانگیري ۲/۱۹٤ مخ - غیاث اللغات ۲۸۲ مخ.

ACKU

رُخ Rux

خوا، لور، پلو، طرف (عربي)

دخیرالبیان په (۳۳ - الف) مخ کې راغلې دي:

" ترو به یې گوره سې تنگ کړم چې د ښې رُخ هلو نه
د کیڼ رُخ وته، او د کیڼ به یې تر ښې رُخ ووزي. "

" رُخ "، کلمه د طرف په معنٰی د مخزن الاسلام په ۱٤۸ مخ کې داسې راغلې ده:

" د هغې چارې اندازه او د قوت ورته رسول د الله له رُخه گڼینه،
ولې کړه د هغه چارې فاعلي او اختیارې مې له بنده رُخه شمېرینه "

د برهان قاطع په ۳۱۹/۱ مخ کې کښلې دي: په پارسي کې رُخ کلمه پر باره د خوا او مخ سربېره د خوا او طرف معنٰی هم لري.

دخیرالبیان په (۶۸ ب) مخ کې د رُخ کلمه داسې راغلې ده چې د خوا (طرف) او مخ دواړو معنٰی ورکوي. هلته کښلي دي:

" د چ ځای که پلیت نوجن وي، د چ ځای نه مومي، که
په هغه ځای جامه واچوي، یو رخ یې په نوُ شي، نو نمونځ
پرې روا دی که بل رُخ هم په نوشي، نو نمونځ پرې روانه دی. "

رَوُونَی Rawúnay (فا - مذ)

هغه کوچنی چې شیدې (شوده) رودي، رودونی، رودونکی، په تي پوری. په پښتو کې تي زوی - تي پوری او تي خور هم بولي.

په پارسي کې " شیرخوار " یا " شیرخواره " بولي.

ACKU

د خیرالبیان په (۱۹ ب) مخ کي کښلي دي:

« ترو تي ژړ وباسم په خپل قدرت د مور له نوسه، ترو تي ژغورم په حالت چي ژړوني - خړوني - هلکی - پېغلکي - تو ژېړي چي زوړ وي يا ځوان.»

په دغه کلمه کي únay د فاعلي شاوندي unkay لنډ سوی شکل دی؛ Raw يې ريښه ده - کاظم خان شيدا ويلي دي،

طفل ته کوش چي پستان روي

(د ديوان ۱۶۳ مخ)

د ړوونی مونث ړووني Rawúne ده - خو د ظفراللغات په ٥٢٤ مخ کي روني Runay هم هغه ځلي ته ويل سوی دي چي په تي پوري وي.

ʒār ژاړ

په کندهار کي دغه کلمه ژيار zyār وايي؛ مثلاً:

« دوه ځوالي چي ښکر په ښکر سي، ژيار د بوتو او د کانو دی» (متل)

د دې لغت معناوي دا دي،

۱- درد، رنځ، پرېشاني، خواري

۲- بدبختي، بدمرغي، دريغ، افسوس، حسرت

۳- فرياد، ګيله، مانه، غاد

په خيرالبيان کي راغلي دي:

« چي مرګ ور نږدې شي، ترو به دوالي ګنهګار:

ژاړ مه شه په ما چي ولي مي عذابوي سبحان.»

(۲۸ ب مخ)

ACKU

«چې زما طلب پرېږدي ، نو زخه غواړي ، زاړ دې، د هغو کسانو...» (٤٨ - الف مخ)

حمید ماشوخېل په لومړۍ معنی د «زاړ» کلمه داسې راوړې ده:

ستا د غم د هوا جنو زاړ په ځان دی
چې داسې دلنوازنې د رقیب

(د دیوان ٤٤ مخ)

په دوهمه معنی پیر محمد کاکړ ویلي دي:

زاړ د هغه چا دی، چې آزار کوي د نړدو
ژوند د ظالم کم دی، چې مدام دل آزاري کا

(د دیوان ٢٢ مخ)

په درېیمه معنی خوشحال خان ویلي دي:

زاړ و چا ته کړې خوشاله!
چې دې نه ګوري څوک زاړ ته

(د دیوان ٣٧ مخ)

زاړی Záray (اسـ - مذ)

١- هغه فصل چې لوته نژدې وي.

٢- یو کلن سخوندرکی (خوسکی) چې په عربي یې تبیع بولي. تبیعه په پښتو زاړې záre ده. (١)

زاړې هغې غواته هم ویل کېږي چې شیدې یې پرې چېدو وي - په نورو لهجه درو ښا رو لوکي هم دغه کلمه استعمالېږي.

---

(١) کنز الدقایق لومړی ټوک ١٢٩ مخ - فقه اللغه و سر العربیه ١٠٥ مخ
نفایس اللغات ٦١ مخ

دخیرالبیان په (۱۰٤ ـ الف) مخ کې راغلي دي :

„ زکات دغوبین دی بیان
که غاروي دېرش شي . هاله گوبنی زاړی دی ، که کال
پې تېرشي تمام . "

دپښتوقاموس په ۵۰۰ مخ کې کښلي دي :

„ هرکوچنی غاروې د دوو میاشتو له عمره څخه ترغوچي لـه شیدو پرې کېږي zā́ṛəy بلل کېږي . "

مگر د Walter Bellew د ډکشنرۍ په ۸٤ مخ کې هغه کوچنی غاروی زاړی بلل شوی دی چې له شیدو پرې شوی وي . په خیرالبیان کې هم زاړی په دغه معنی راغلی دی.

د زاړي کلمه د خوشال خان د دیوان په ٤۸۸ مخ کې داسې راغلې ده :

شین مزری چې گېدی داړي
باندي نه خبرېږي خسی زاړي؟

زده ʒdá

۱ـ یاد ، زده کړې ، آموخته (پارسي) حفظ (عربي)
۲ ـ علم (خاص په خیرالبیان کې په دغه معنی راغلی دی)، پوهېدل
۳ ـ معلوم

دخیرالبیان په (۱۳۹ ب) مخ کې راغلي دی

„ گوره! زده نه کړم په زده کړه د حرف د لفظ بې چارې دانا
له یگانگې ـ ولي په زده په چار د یگانگې دانا کړم[۲] آدمیان

ACKU

تمام نه شي [له] چاړ، په تنش ږده بې چارې - نه په چارې
بې ږده تمام - شي په ږده په چارې چاړ د آدميان .،،
دلته " زده " كلمه زياتره د علم په معنی راغلې ده .

په خيرالبيان كې يې بل مثال داده:
" چې واجب په ږده ترك كه، نمونځ پرې شينه ناتمام "
دلته له " ږده " څخه مراد " نه هېره " ده .
" ږده " كلمه د معلوم په معنی د خيرالبيان په ٦٤ ب مخ كې
داسي راغلې ده:
" كه په كوهي كې مړ مږك يا مرغه يا نور څه هسې مومي،
پړسولي، بوېناك نه وي، او نه يې زده وي چې كله پرېوتلي دي. "
د ايران نامې په ١/٥٢٣ مخ كې كښلي دي:
Azda كلمه د معلوم او دانسته په معنی په زړه پارسي
كې راغلې ده، د زړې پارسي هغه جمله داده:

"karahya naiy Azda aha"

د دې جملې پښتو ترجمه داسي كيږي:
" وكړو ته نه وه معلومه " (١)

---

(١) د وږمې د مجلې د ١٣٤٠ ش كال د شپږمې گڼې په ٣٢ مخ كې هم د دغه مطلب انگريزي ختيځ پوهاند پروفيسور مورگنسترن څرگند كړی دی.

ACKU

د " زده " کلمې د دغې معنی له پاره پښتو مثالونه دادي:

لید په سترګو نه شي نې لوګي د سوي اور دی
ما زده زما زړه زده چي پرې ښخ نګه جلیایم
(حمید ماشوخیل)

خه لره مي زده ورې، چي د زړه ساتل دي نه زده
مست یم مستي کړمه، کنه هر هنر مي ښه زده
(خوشال خان ختک)

دا وچت سر دي تیتېدل نه دي زده
د تا له مرګه تښتېدل نه دي زده
(اجمل خټک)

د فرهنګ هزاروش په ۹۳ مخ کي کښلي دي:
د زړې پارسي Azda کلمه په پهلوي کي Azd او په
سنسکریت کي Addha ویله کېدله.

زَرْغُونْکَي Zarɣúnkáy (اس-ج-مؤ)

سابه، ساګ، ترکاري

دخیرالبیان په (۱۰۳ ب) مخ کي راغلي دي:

" هر چي له ځمکي راووزي، لسمه یې واجب ده چي یې
وباسي، که په نوره اوبه پیدا شي یا په اوبه داسمان.
که میوه د یو کال وي تمام، یې لرګي، یې نله، یې وښو،
یې زرغونکي عیان

فاضل حاشیه لیکونکي ورته کښلي دي:

„ خدای خبر چي د ږغونکي مطلب څه دی ؟
غالباً چي مطلب یې سبزي . ترکاري ده . . . .

ژمی Zmáy

ژنډه znə́ ، ژومی ، بروځه

یو بوټی دی په پارسي یې " اشنان " بولي ، اشخار ځيني وزي ،
دخیرالبیان په (٦٣ - الف) مخ کی راغلی دی

„ او دس روا دی په هغه اوبه که پاك څيز ورسره وزي .
چي یو صفت د اوبو وجار پاسي لکه

نبزی ، نرسیی ، یا ژمی یا صابون [ورسره وزي] یا زعفران „
دکندهار ښځي د ښرا په وخت کی والي

„ خوله دي په ژمي سه ! „
لعني و مري چي په ژمي (بروځه) دي خوله در پري مینځي

زوزاد Zawzád (مذ)

خوماټ ، زوزات ، زاوزاد ، اولادونه ، نسل (عربی) اولاده
دخیرالبیان په (١٥ ب) مخ کي کښلي دي :

„ حیني سړي هسی گڼي چي لویه عزیزي په د برمال ، په
زوزاد یا په د برِه وبنا ده . „
دخوشال خان په دیوان کي دغه کلمه د " ژوزاد " په بڼه راغلي ده „
په ٦١٥ مخ کي کښلي دي ،

ACKU

زهوزاد به يې ښخبر ي نې كفنه۔
په جهان كي به رسواگر زي كنگال

او د مخزن الاسلام په يوه قلمي نسخه كي " زاهوزاد " راغلی دی:

" ښځُم د مورو پلار خدمت او محبت هم پر " زاهوزاد " واجب دی. "
(۱۵۶ پاڼه)

زوَهْ Zúwa (مؤ)

لَوُ، دټپ (زخم) ژړي اوبه ، زهوب ، ددانې ژړي اوبه.
په پارسي يې " ريم " بولي.

دذخيرالبيان په (۶۵ ب) مخ كي راغلي دي

" گوره ! دُرنه پليتي ، متيازي ، غُل ، وينه ، زوه ده . "

خوشال خان ويلي دي:

ته په كوم توكي دماغ كړې
خپس وگوره چي څه يې ؟
چي يې حيض و بول بولي
هغه وينه ، زوه ته يې
(د ديوان ۱۰٤۱ مخ)

زِيْړوُبَيْ Zeṛúbay (مذ)

۱۔ زهوب ، دزخم ژړي اوبه.
۲۔ ژړی (صفت) ؟

دذخيرالبيان په (۶۳ ب) مخ كي راغلي دي:

" او دِس مات شي ...... په وينه ، په زوه ، په زيړبي ، په دكه خوله چي واچوي ...... "

ACKU

(٥٤)

ژغروی Žɣaróy (فا-مذ)

ساتندوی ، ساتونکی ، ژغورونکی

نگهبان (پارسي) - حافظ ، حفیظ (عربي)

دخیرالبیان په (۱۰ - الف) مخ کي راغلي دي:

" ته دانا یې ، او خالق یې دمخلوقان
ته ژغروی یې دواړه مخلوقان

وژغړدي چي لا دُدیو پیدا شوي نه دُ ، حیان وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ" (پروردگار بر همه چیز نگهبان است.")

میرزاخان اورمړ ویلي دي :

" زه کښتې دنباتات یم ، واړه ساتم
هم ژغروی دژوندو سرو، واړه پیایم "

(ددیوان ۱۵۲ مخ)

میرزاخان د دغې کلمې مؤنث شکل هم راوړی دی، ده ویلي دي:

" دا ژغرویه دهر کښت ده
هم دحیوان اهیره

(ددیوان ۷۲ مخ)

دغه کلمه بابوجان د Žɣoráy په بڼه راوړې ده، ده ویلي دي :

ته ژغوری دخپل وجود شه
په ثابته لار بې بیایه

(دگلشن روه ۱۲۳ مخ)

ACKU

(۵۵)

ژغروِي Žɉarwí (اسـ)

ساتنه ، ژغورنه ، نگهباني (پارسي)

دخیرالبیان په (۶۸ ب) مخ کي راغلي دي :

« کوره ! ژغروي دتن ، داندام ، دايمان درستوالى دپاره شرط دی لهحرامو ، ...... »

د " wí " شاوندي په " ستروي " کلمه کي هم سته .

ژوِي Zə́wi (اسـ - ج - مذ)

۱- ساکیان - ژوندي ، زنده سر

۲- ژوندکوي (په دغه معنی فعل دی)

دخیرالبیان په (۱۵۰ ب) مخ کي راغلي دي :

« درته والي : وارة (ژوي) دخدای دي ، دژوی مال د خدای دی ذخدای مال روادی په عارفان . » (۱)

شمس الدین کاکړ ویلي دي :

هغه ژوي چي زاري که ستا په درکښي
چالیدلي پرمکه پرمدینه ذ ي
(ددیوان ۱۲٤ مخ)

دغه کلمه په دوهمه معنی عبدالقادرختګ داسي راوړي ده :

دژوندون به يي شه حال حلاوت نه وي
هر سړي چي په دنیا بي یاره ژوي
(د دیوان ۱۱۲ مخ)

---

(۱) دچاپي نسخي په ۲۴۴ مخ کي " دژدي " کلمه " درږدي " کښلي ده ، دخیرالبیان په اصل کي د " ژ " او " ر " توپیر نسته .

ACKU

ژَی Žəy (اسـ-مو)

١- زی، ججه، ثخنډ، کِنار،

٢- د لیندۍ ژۍه، زِه (پارسی)

دخیرالنبیان په (۱۱۷ - الف) مخ کې دغه کلمه په دوهمه معنٰی داسې راغلې ده:

" اُوْ بایزیده! بدګمان لینده، غیرت یې ژۍه د بدۍ وینا هوښته غشی، او قهر دی زور د شیطان.."

میرزاحنان بارګزی دغه کلمه په دوهمه معنٰی داسې راوړې ده:

په نې ژۍه لینده د ورخُو خدنګ ولي
هیڅ ګوزار نې له زړه نه درومي خطا (۱)
(د دیوان ٤ مخ)

په پارسي کې (زِه Zih) کلمه د دغو دواړو معناوو له پاره په کار یږي.

په دوهمه معنٰی حکیم ازرقي ویلي دي:

پیکان به قبضه در کشد از بهر جنگ تو
از سوی زِه خدنگ برون افتد از کمان

ساوُوْ Sāwú (ص):

ساهو، آزاد، حُر (عربي)

---

(۱) دغه دوهم نیم بیتي په لږ تغییر سره د حمید ماشوخېل له دیوانه څخه د تضمین په توګه راخیست سوی دی، هلته کښلي دي،

که هرڅو د بڼو غشي کاږه ولي
یو له نښې د زړه نه درومي خطا
(د دیوان ۷ مخ)

ACKU

هغه څوك چې مرلى يا مينځه نه وي .

دخيرالبيان په (۱۰۱ - الف) پاڼه كې راغلي دي :

" په دېدن د ميا شتې مېږه يا اوږته ، ساوو يا بند ه سم دي "

په پښتنو كې متل دى :

" مرلي غوندي يې وګڼه ، ساهو غوندي يې وخته . "

په مخـزن الاسلام كې راغلي دي :

اوس نه هر رنګه سپړی وي
دی ساوو وي كه مرلی وي

" ساه " كلمې په سنسكريټ كې د بې ګناه او معصوم معنى درلوده سوداګر او دكاندار ته يې هم " ساه " ويل .

اوس په هندي ژبه كې " سائیں " دخاوند ، بادار او اغا معنا وي لري ، مجازاً د بزرګانو (زبرګانو) بنوا وستانه خلكو له پاره ددرنا وي خطاب دى .

سپېرې اوبې Spereaubáy (اسـ - مث)

وَدِي - پېنوبې (حُدرانې) (۱)

دخيرالبيان په (۶۲ - الف) مخ كې دا وداسه د ماتوونكو په باب كښلي دي :

" په متيازو ، په هوس اوبې ، په سپېرې اوبې ، په كم كاني په استحاضه په دا مات شي ، په وړاندې اندام . "

---

(۱) افغان قاموس ۳ ټوک ۳۲۵ مخ

ACKU

فاضل مقدمه لیکونکي او سمونکي د چاپي نسخې د ۱۰۱ مخ په حاشیه کې ورته کښلي دي:

" سپېرې او لې = ودې "

سِتَارُ ‏{ Sitár (اسـ - مذ)
اِسْتَارُ ‏{ istár

ستیر sitir - او استیر istír د دغو کلمو یمال شکلونه دي.

استار کلمه معربه ده، جمعه یې " اساتیر " راځي. دوې معناوې لري:

۱- که په اعدادو کې راسي، څلور څني مراد دي.

۲- که په وزن کې راسي، د تاله یوه دبره ده، چې په هر جنس کې بېل د رنبت لري:

په سرو زرو کې ۴ ½ متقاله (= ۶ ¾ درهمه = ۲۱.۰۶ گرامه).
په سپینو زرو کې ۶ ½ متقاله (= ۱۰ درهمه = ۳۱.۲ گرامه) حسابېږي.

ځیني کسان د سپینو زرو استار ۶ ½ متقاله او ځیني یې ۶ ¾ متقاله هم بولي، په برهان قاطع کې د تبرېز ستیر ۱۵ متقاله بنودل سوی دی، چې له تبریزي سېره سره برابر دی. مگر په خیرالبیان کې د " ستار " درنبت له دې تولو سره توپیر لري - د دغه کتاب په (۱۰۳ ب) مخ کې کښلي دي:

" او دري اته [په] سیر دي او هر سیر په درخوالي دوه مثله ستارې دي. "

ACKU

عراقي سېر دخيرالبيان په (۱۰۷ ب) مخ کي دبغدادي رِطل (۹۰مثقال) سره برابر ښودل سوی دی، هلته کښلي دي،

« اوړی اته سېره په سېر دعراق (دی) عيان. » (۱)

ځکه چي بغدادي رطل شل ستاره دی او ستاره کلمه چي عامه لا اوړله سي ۴½ مثقاله ځني مراد ېږي، نو يو سېر دوه شلي ۴۰ ستاره بلل ېږي له دې بله توجيه نه لري چي د تېروتني پړه يې دخيرالبيان دنقل کوونکي پر غاړه واچوو او [دوه] کلمه زياتي وبولو. (۲)

ددغه مطلب دلاخرگندوني له پاره د رسالة الاوزان دا بيتونه بې گټي نه دي،

یک وسق بېشک بود دروزن مثل شصت صاع
بیست استار ست یک رطل و درین نبود نزاع
چار مثقال ست و نیم، استار از روی یقین
پس بود رطلی نود مثقال نبود شک درین

سْتَرْ Stə́r (ص، مف)

لوی، غټ، مشر

(دجمعي مذکر له پاره هم دغه مفرد صفت په کار ېږي)

دخيرالبيان په (۹ ب) مخ کي کښلي دي:

« او بايزيده! زما دېر ستر صفت وکښه، خوښي مي پيدا شي چي زما دېر ستر صفت والي آدميان. »

---

(۱) وگوره: داوړي کلمه.

(۲) دوه شلي ستاره يو "مُد" گرځي چي هر "مُد" دوه رطله دی او له څلورو مُدو څخه يو اوړی (صاع) جوړېږي.

ACKU

د " ستر " کلمه ژوندۍ او مروجه کلمه ده، د مروتو د
کسي ونو په (۸۸، ۱۰۳) مخو کي راغلي دي:

سکندر خپلو په لطمو سوه
کم و ستر سره خبر سوه (۱)

خپلخاني لې په ساپو باندي ولاړي (۲)
(هي) په ويرکي خولې ژاړي کمې، ستري

په پارسي کي " ستُرگ " په منځي ژبه کي " سْتُر stur " - په
پراچي ژبه کي usturwa - په اوستا کي stura په اوسيتيني
ژبه کي star، ustur - په سويډني او ناروېژي ژبو کي stor
کلمې د لوی، غټ، ستر او مشر معنی لري.

د شمالي جرمني په يخوالی ژبه کي storr د لوی، مغروره او متکبر
معنی درلوده.

په اوستا کي stara او په پارسي کي sutūr په غټو
څارويو معنا کيږي او موصوف يې نسته.

په سنسکريت کي sthura - sthiras - sthira - په زړه
يوناني کي stereos - په زند کي staxra - په الماني او سويډني
ژبو کي stark - په زړه انگريزي کي strang او په اوسنۍ انگريزي
کي strong د کلک، کردر، ټينگ، ښتلي، مضبوط، پښـلې

---

(۱) په د غه بيت کي " کم " د کوچني معنی لري چي " کمکی " يې مصغر دی.

(۲) ساپه = سانده - مرثيه (عربي)

ACKU

معنا وي لري چي د لوی او ستر په لوانو کي راځي.

په سلاوي ژبو کي star کلمه د ستاره په معنیٰ له دغي پښتو ریښي څخه لیري نه ده. (۱)

ستر عید

: لوی اختر، ستر اختر، د قرباني اختر چي په عربي یې عید الاضحیٰ بولي.

په خیر البیان کي تل د اختر له پاره "عید" کلمه پکارېږي، په (۱۰۸ ب) مخ کي راغلي دي:

"ثواب دی چي سرمایه د عید په ورځ وباسئ"

د خیر البیان په (۹۰ ب) مخ کي راغلي دي:

"د ستر عید ثواب هغه دی چي د عید له لمانځه وړاندي څه نه خوري نه وڅښي."

د پکتیا منګل، ځاځي، ځدران او خوستي او سهم لوی اختر "ستر عید" بولي.

ستر غلی Stərɣaláy (اسـ - مذ)

د W.B. د ډکشنري په ۹۲ مخ کي د دغي کلمې حرکتونه داسي راغلي دي: starɣalai

د سترګو ګاټی - د سترګو تخم - د سترګو مرغتانه

---

(۱) د تفصیل له پاره وګورئ: "زړي ریښي" د پوهاند رشاد تالیف

ACKU

دخيرالبيان په (۵۸ ب) مخ کي راغلي دي:

«کوره! ادبه وشوئيږو، بانه، وسترغلي وته رسول

...... داپه اودس کي واجب دي.»

حسين ويلي دي:

چې مې شنه شوه سترغلي په دېرواوښکو
نرګوناږيې په لنده څڅکه غلي
(دديوان ۲۳۶ مخ)

رحمان بابا ويلي دي:

سترغلي مې د فراق په ژړا شنه شول(۱)
د سبزې اثر يې پاڅېږه له آبه
(دديوان ۱۳۲ مخ)

په ځينو پښتو فرهنګونو کي "سترغلی" د سترګي په کاسه او په کسي او نينک هم ترجمه سوی دی.(۲) دلس نرة لغات ٤۵۵ مخ او د پښتو قاموس په ۶۱۰/۱ مخ کي د سترګي په پرده معنی سوی دی.

ستروي Stər+wí (اس - مؤ)

لويي - لويوالی، سترتوب، سترتيا، عَظَمَتْ (عربي)
دخيرالبيان په (۷٤ ب) مخ کي راغلي دي:

---

(۱) د رحمان بابا د ديوان په زياترو نسخو کي د "شنه" کلمې پرځای "سره" کښلی دی.

(۲) وګورئ: پښتو قاموس ۶۱۰/۱ مخ - د نظم اللغات ۵۷۷ مخ - د W.B. ډکشنري ۹۲ مخ.

ACKU

" اُو بایزیده ! زما دهستی، دستروي په ډله یا دول [illegible] ..

او زما دنامه د ستروي یا دول فرض دي .،،

په (۱٤۸ ب) مخ کي راغلي دي :

" هره ستروي لويي زما له لويه ده "

دچاپي نسخي مقدمه لیکونکي او سمونکي د ۲٤۹ مخ په لمن کي کښلي دي،

" دستروي معنی غالباً بزرګي ده . "

دستروي په کلمه کي " wí " داسم معنی شاوندی دی، دغه شاوندی د " ژغروي " په کلمه کي هم سته .

سْتُوْر Stor (اسـ ـ مذ)

غټ څاروي، ستر بوده ګان لکه آس، اسپه، غوا، غوېی غاتره (کچره)، خر، خره، اوښ، اوښه او داسي نور .

دخیرالبیان په (٦٤ ـ الف) مخ کي راغلي دي :

" که په کوهي کښېږي ....

یا پسه یا ستور یا سری پکښي ومري . "

حمید ماشوخېل ویلي دي :

ستور دسر په سترګو، غوږ او دي هم ویني
سترګي، غوږ بويه دزړه بینا، شنوا
(د دیوان ۵ مخ)

په زړلي کي stur+gá حغي طبیلي یا غوجل ته وایي چي په ژمي کي غټ بوده پکښي وي . په دغه کلمه کي "ga" ظرفي شاوندی دی.

په پارسي کي دغه کلمه sutūr ویله کیږي او ابتداً په -

ACKU

ساکن یې له منځه تللی دی :

ز سم ستوران در آن پهن دشت
زمین شش شد و آسمان گشت هشت

خو په بندهشن کې یې دغه کلمه د پښتو په شېر یوه هجایي (stór) راوړې ده.(۱)

په اوستا کې د دغې کلمې تلفظ staūra و

سخ Səx (مذ)

۱- خوښي ، خوشالي ، نېکمرغي ، بخت
۲- ښهانه - لکه چې وايي ،

" څه سخ یې در پوري پرې ایښی دی ؟ "

د خیر البیان په (۲۱- الف) مخ کې راغلي دي :

" سخ اوز ما خوښي د هغو کسانو ده چې ژوندون او مرگ
یې وي زما په طلب ... "

رحمان بابا ویلي دي :

سخ د هغه چا دی چې دیار په در قبول شه
زار د هغه چا دی چې له دره یې وشاړه
(د دیوان ۱۴۹ مخ)

دغه کلمه اوس هم رواج لري ، ویل کېږي ، لکه :

---

(۱) دگوری : واژه نامهٔ بندهشن ۱۹۷ مخ

«سخ يې دی، دولت لري، ژامن لري.»
«سخ دي دی، چې زوی دي له مسافرۍ راغی»

سُرُوَلِينْ Surwal+ín
سُرُوِيلِينْ Surwel+ín } (ص - مذ):

مسي، مسين - له مسو څخه جوړ سوی.

دخيرالبيان په (۶۷ - الف) پاڼه کې کښلي دي:

«که اسپرين يا سُرُولين يا داهسې نور کالي يا تېغ پليت شي.»

دپښتو قاموس په ۶۵۵/۱ کې سرول surwal کلمه د مسو په معنی دوې هجايي راغلې ده.

دکندهار په ناصرو کې سورويل surwel هم ويله کېږي، ميرحيدر صاحبزاده ويلي دي:

ګوره داچې سُرويل نه وي په ګل سوې
په ورکېږي بيا داستا دسورتا جمال

په ځينو راتلونکو کې متل دی:

«.... که د سروزر وي، کوڼې د شر ويلو ده.»

دخوشال خان په ديوان کې دغه کلمه درې هجاوو پرځای د Surawel* په بڼه راغلې ده:

که اصيل سړی کم ذاته سره کاندي
په مثال سره ګڼېږي غوري، تبل
بل دليل به تر دا په درلره را وړم
له سروزرو سره ويلي سُرَوېل

---

* ۱۰۵۰

ACKU

کېدای شي په دغه وروستي نیم بیتي کي "تر" ویلي "وروسته که" کلمه پاته وي.

دپښتو ژبي په ونیڅي لهجه کي دغه کلمه sarwāl ویلای کېږي ځیني پښتانه مِسی دکه (کاوروشه) "سوروال + کونډی" بولي.

سُوَرلُونَی Swarlúnay (اس - مذ)

په پښتو کي سَپارلي، سُپَرلي، سُوَرلي د سپارلکه (سوارلي) معنی لري، د مروتو د کسونو په ۷۶ مخ کي راغلي دي:

" روح دادیني دد عیسی خپل وکړه سپرلي"

سپرلو Sparló د بوده تېزي ځغستا ته ویل کېږي. په زرملکي سپرلو د سپرو دلي ته وایي، مثلاً:

" داسپرلو چېري ځي؟ "

په دغو کلمو پسي آلی شاوندي "únay" نښتي دي ځکه نو سپرلوني sparlúnay یا سورلوني swarlúnay د مرکب معنی لري، یعني هغه څه چي سپارلي پر کېږي.

د خیرالبیان په (۷۰ ب) مخ کي راغلي دي:

" روانه دی فرض نمونځ لې نفل په سورلوني باندي نم علتي،
روانه دی د فرض د نمانځه نیت لې نفل د کعبې لې رخ، په
سورلوني باندي.."

خوشال خان دغه مطلب داسي ویلی دی:

ACKU

نفل نموږ که سوړ په آس کا
مسافر په چي وسواس کا
فرض، واجب، سنت درې واړه
په ضروري جوان غـــواړه
(فضل نامه ٦٧١)

W.B. دخپلي دکشنرۍ په ۹۰ مخ کي Sparlanai کلمه دسپاره یا سبه سپاره (شهسوار) په معنیٰ راوړې ده.

ځیني پښتانه سپرلنه هغې پېغلې ته وايي چي په بدي کي یې ودکوي یا یې ودکړې وي.

ACKU

سوْنْ Sun

خوا، پلو، لوړ، لوری، طرف (عربي).
سوی (پارسي)

دخیرالبیان په (١٥٤ - الف) مخ کي کښلي دي:

" زه یم په آدمي کښي، زما هستي په چارسون دآدمیان. "

دچاپي نسخې فاضل مقدمه لیکونکي اوسموونکي ورته کښلي دي:

" غالباً چي معنیٰ یې په څلور طرفه ده چارسو، ن یا د کاتب غلطي ده یا دبایزید لهجه ده. "

د " سون " کلمه په پارسي کي هم د " لوري " معنیٰ لري(١)

---

(١) وګورئ: برهان قاطع ٢/٤٤ مخ.

سَهَه } **Sáha** (اسـ - مؤ)
سَهْ } **Sah**

سا، ساه، ساهه، سایه (منګل، ځاځي) سېلَوي (زرمله، خوست)
ځاځا «بوی»، ته هم وايي؛ مثلاً: ددې غوښېو ساه ځي.

دخیرالبیان په (۱۳۸ب) مخ کي راغلي دي:

« د سَهِ ذکر هوی دی چې ننه باسي اووباسي زما يه ياد،
حرة سَهَ په هرحال په هرځای چې وي ذاکران. »

دغه کلمه د "ساهه" په ډول دخوشال خان د دیوان په ۱۳۸ مخ کي داسي راغلې ده:

په ژوندون له مانه مه ځه دیاره غمه!
ته به سم د ماله ساهي سره تله کړي

د "ساه" کلمه خواجه محمد بنګښ په مذکر ډول راوړې ده:

چي را یاد شي خپل ګناهونه
را باندي زور شي هرګوره غمونه
غم سره مي تېر شه، ګناه مي ډېر شه
په شمار را باندي یو خو ساهونه
(د دیوان ۱۲۶ مخ)

په هندي کي سانس sāns کلمه د "ساه" معنی لري او
مذکر ومؤنث دواړه استعمالېږي.

داپنشاد په ۵۲۷ مخ کي sā د هوا او باد په معنی راغلې ده.
په سنسکریت کي اُساس usās د ساه کښلو معنی لري. (۱)

---

(۱) وګورئ، هندي شبدارتھ پاري جات ۱۰۲ مخ - دلیل ساطع ۱۹ مخ.

ACKU

سېزونی Sezúnəy (اسـ - فا - مذ):

سېځونکی، سوځونکی، سوزان

په دغه کلمه کې únəy د فاعلي ستاوندي únkəy لنډ سوی شکل دی چې د مفرد مذکر له پاره پکارېږي.

د خیرالبیان په (۱۲۳ - الف) مخ کې دغه کلمه داسې راغلې ده:

"نه به یې عذابوي په عذاب د ځنکندن، نه د ګور، نه د قیامت، نه د اور چې سېزونی دی سوزان."

ښُنګَرَی (اسـ - مذ) { Ṣ̌ungárəy Ṣəngárəy

۱- د غواو، غېلو او هوسېو ګوتونه چې په عربي کې "ظِلف" بولي او د آسو، خرو او غاتري (کچرې) سوڼته "حافر" وايي - په پارسي ژبه سوې او ښُنګري دواړه سُم یا سُمب بولي. (۱)

(۲) د پښې بُوجلکه، د پښې ګېټه (۲)، د پښې بیجلکه چې په عربي کې "کعب"، په پارسي کې "شتالنګ" او په هندي کې "ټخنا" بولي.

په خیرالبیان کې ښنګري په دوهمه معنی داسې راغلی دی:

"د سر د څلورمې برخه مسحه او له ښُنګري سره د دواړو پښو وله ...."

(۵۸ ب)

---

(۱) د پکتیا په سیمه کې ځیني پښتانه "شوه" نه وايي او د هغه پر ځای هم ښنګري کلمه استعمالوي.

(۲) په سپېڅلي پښتو کې "ببلېړه"، کلمه د بِجلۍ Bijəli (سپېښي) او بُوجلکي Bujiláka دواړه په معنی راغلي ده (وګورئ: ۳۲ - ۱۷۸ مخونه)

په پښتو متلو کې "ښنګرئ" کلمه داسې راغلې ده:

"د شرمښ له خولې یو ښنګرئ هم غلیمت دئ."

غاړه ɣā́ṛə (اس ـ مؤ)

۱ـ غړه، غرانګه چې په پارسي یې ګردن بولي
۲ـ د رود یا سیند یا دریاب څنډه، غاړې غاړې (تر څنډو ډک)
۳ـ لغمه
۴ـ زکام: غاړه راپورې ده
۵ـ د کمیسه ګرېوان
۶ـ د اسمان څنډه (افق)
۷ـ ذمه: غاړه یې وو تله

د خیرالبیان په (۶۹ ب) مخ کې د دغه کلمه د افق په معنی داسې راغلې ده:

" د صباح وقت صبح صادق دی. هغه سپېدې ده چې
څرګند بږي په غاړه د اسمان."

غلاول ɣlāwə́l (مص ـ مت)

غلا کول چې په پارسي یې "دزدیدن" او په اردو یې "چرانا"
بولي. د خیرالبیان په (۳۹ ب) مخ کې راغلي دي:
"له سري دې غلاوه مال او ایمان."

ACKU

(۷۱)

غوشایه ɣušāyə́

خوشالي ، خوشوی xušóy (مفرد) ، غوشالي، غوشیي، غوشیاري ، غوشاك .

دخیرالبیان په (۵۲ - الف) مخ کي راغلي دي :

" (استنجاء) په پخه خښته ، په هلم ، په زرغونه واښه ، په غوشایه ، په سکاره ، په ښیښه رواښه ده . "

مصري خان ګګیاني ویلي دي :

د کونګټ غوندي په لوزه کښي ګونې ږي
تل په غل په غوشیۍ آلـــوده پر
(د دیوان ۱۵۵ مخ)

د لغت فرس په ۱۲ مخ کي "غوشا" کلمه په پارسي کي هم په دغه معنی راغلې ده علی قرط ویلي دي :

تو . همان پیشه که کردي پدرت
هیزم آور ز رز و چین غوشا

غوشوی ɣušóy

د غوشالي مفرد (خُوشوی)

دخیرالبیان په (۶۶ - الف) مخ کي کښلي دي :

" سپکه پلیتي متیازي ، غوشوی ، وینه هرچي له هغه خلوړبول وځي ، چي غوښه ـ لي حلاله ده . "

غُومبَسَهٔ ɣumbə́sə (اسـ ـ مو)

غالبوزه ، بمبره ، ډمبره

په پارسي یې " زنبور " بولي ، ځینې پښتانه ترناپې غالبوزه
" غومبس " بولي .

دخیرالبیان په (۶۳ ب) مخ کې کښلي دي :

" که په کوڅې یا په لړ اوبه کښې هغه ځیز ومري چې روانه
وینه نه لري ، لکه : ملخ یا مچ یا غونبوسي یا لړم یا نور .....

د الپوري حافظ ویلي دي :

وړې مچې یې وګڼم د شهد وچې انار ـــ
لښې راغوځې کړې ، د سرو غومبسو ګګ ورته خېژي(۱)
(د دیوان ۹۴ مخ)

ګګ د سرو مچو به کوم کښې مه ـ سانه نادانه !
تل به یې نیش خوري ترې به حاصل انګبین نه شي
(د دیوان ۱۲۱ مخ

ځینې پښتانه د دغې کلمې په دوهمه هجا کې د (ə) پر ځای (u) وایي
یعني غومبوسه ɣumbúsə یې تلفظ کوي .

کاسِیرٌ kā́sir (فا ـ مف)

بدلمنۍ ، زناکاره

دخیرالبیان په (۱۱۲ ب) مخ کې راغلي دي :

---

(۱) ګګ = شنګهار ، د غالبوزو بنوز . ګګر ، د ډمبرو کوز . کیس

„ او والي (درواغ) وغله ، وکاسیر ، وظالم ، او په مانند د دغوته بالک نشسته . "

رحمان بابا وېلي دي :

هغه چاري له ناصحه واقع کیږي
چې له شهده یې هیڅ غلا وکاسیر نه که
(د دیوان ۳۶ مخ)

حسین وېلي دي :

عاشقان یې خیل په کوزه مځکه شنج کړه
د دنیا لولۍ په مینه کاسیر مه شه
(د دیوان ۱۹۱ مخ)

کاسیره : مؤنث یې " کاسیره kāsírə " ده .

په پښتو کې متل دی

" چې چرګه کاسیره نه وي ، د بل کره هګۍ نه اچوي . "

د ښځي له پاره د کاسیر کلمه په پارسي کې هم رواج وه ، فخر مدبر مبارکشاه مروزي وېلي دي :

" گفتند : که در غزنین کاسیر باشند ؟ عماری داران و محفه کشان که مردمان حاضر جواب ، درشت گوی و بیباک باشند ، گفتند : اگر در غزنین کاسیر بودی ، از عراق نبردیمی . "

(اداب الحرب والشجاعة ۱۴۰ مخ)

کاسیرۍ kāsirī́ (اسـ - مؤ)

بدلمني ، زناکارۍ ، بې ناموسي

ACKU

دخیرالبیان په (۱۱۲ ب) مخ کي راغلي دي :

" دړومي وغلاوکاسیرۍ وظلم وته .... "

کالۍ kāláy (اسـ ـ مذ)

۱ـ جامه ـ گېڼه ـ متاع ، گاڼه ، پسول

۲ـ لوښی

۳ـ اسباب وسامان

په خیرالبیان کي " کالي " کلمه د اسباب او سامان په معنی داسي راغلې ده :

" گوره ! زه هغه بې پروایم چي هرځای تل بې شریکه ، بې مله بې کالي کړم ، نشته زما محتاجي شریک ، وملـ وکالي وته لکه آدمیان . "

(۱۲۰ ب)

د متاع په معنی داسي راغلی دی :

" اوښان یا آس یا اسپي یا کالي د بازرگاني دي ..... "

(۱۰۲ ـ الف)

خوشال خان د متاع په معنی سره د کالي کلمه داسي راوړې ده :

خیال یې دننه لفینو لکه غل د خپلي خونې
هر کالی لیدلی فراغت یې دننه دیدن کا

(۱۳ مخ)

پیر روښان د لوښي په معنی سره د کالي کلمه داسي استعمال کړېده :

" که لرگین یا خاورین کالي یوزی یا پلاس یا لوهسي کالی بلیت شي "

(۶۷ ـ الف مخ)

ACKU

" حسین " هم دلوښې په معنٰی سره دغه کلمه داسې راوړې ده :

جورچور تلیٔ زړه به روغ بې وصله نسي
په پیوند دمات کالي تنهکار لګي
(٤١٤ مخ)

خوشال خان دګېنې په معنٰی سره دغه کلمه داسې راوړې ده :

په کالیو سره مخ ښایسته کېږي
ستا په مخ ښایسته ستا دمخ کالي دي
(مخ)

په پارسي کې هم " کالا " کلمه دجامې ، متاع او اسباب معناوې لري.

کاهله = کهاله khālə = کاله kālə

او او نسا
د " کهول " اضافي حالت دی ، " کهول " دکورنۍ ، کورنۍ او خاندان معنٰی لري .

د خیرالبیان په (۱۰۸ - الف) مخ کې راغلي دي :

" حج ګذاردن واجب دی پر آزاد ، پرعاقل بالغ چې خوري ، تېروي ، دکاهله خرڅ لري . "

نصر لودي ویلي دي :

دلودي زوی سنتي یم
دحمید له لوړ کهاله یم
(پټه خزانه ۷۱ مخ)

دهند والو په مذهبي کتاب بهګوت ګیتا کې kula کلمه دکول

ACKU

کورنی او قبیلې په معنی راغلې ده (۱)
kul په هندي کي اوس کورنۍ ته وائي. (۲)

کَبْ kab (اسـ - مذ)

۱- ماهي، مائی

۲- د حوت برج - او د شمسي کال دوولسمی میاشت

د خیرالبیان په (۱۶۸ - الف) مخ کي راغلي دي:

" یا هغه په اوبه کښي ومري چي ژوندون يې په اوبه دي لکه کب یا خنگبش یا کونی کبر یا نور هسي ژندگان ..

حمید ماشوخیل ویلي دي

هسي بې یاره "حمید" دی
لکه بې روت بې اوبو کب
(د دیوان ۱۶ مخ)

احمد شاه بابا ویلي دي:

زړه د غرق د خپلو اوښکو په دریاب کړم
بیا په دا دریاب کي تږی لکه کب
(د دیوان ۲۲ مخ)

په خیرالبیان کي د "کب" جمعه "کبونه" راغلي دي:

"لکه کبونه په اوبو ژوندي دي. هسي په ما ژوندي دي آدمیان." (۱۵۲ - الف)

---

(۱) د بهگوت گیتا ۱۱۶ مخ - د ماسکو چاپ

(۲) لغات النساء ۲۲۶ مخ

د کب مصغر کبوړی kab+úṛəy دی.

حمید ماشوخیل ویلي دي:

هغه شیبه سایه دولي په شمال کي
خوځېږي لکه کبوړي په زلال کي
(نیرنگ عشق ۳۲ مخ)

مجازاً د بدن ماهیچو ته هم کبوړي وایي، په دغه معنی په کندهار
کي کبوړي کلمه کېپړي kapə́ṛay وایي: مثلاً:

" د سورت کېپړي دي په خوله سه "

د افغانستان په منبجي ژبه ماهي، کاپ kāp بولي.(۱)
په سغدي ژبه یې ماهي کپ kap باله.(۲)
ابوریحان البیروني په آثار الباقیه کي کښلي دي:
په سغدي ژبه یې د لمریز کال دوولسمه میاشت هم کب kab بالله.
د ایران کوده ۹/۱۲۴ مخ کي راغلي دي:
په طبري ژبه یو راز ماهي کپور kapúr بولي.
د فرهنگ هزوارش های پهلوي په ۱۳۰ مخ کي هم د دغي لیکنی ملاتړ سوی دی.
او طبري ژبه یې د مازندراني او کیلکي ژبو په نامه یاده کړې ده.
د ایرانسکي یزیک په ۱۲۴ مخ کي د سکیپي ژبي Panti kapa
اصطلاح د ماهي په لار ترجمه سوېده، او دوهم جز یې کَپ د ماهي معنی لري.

ACKU

کَرَلَه karəla (حمص ـ مو)

کَرَنَه، کَرَهَنَه، کښت وکر

دخیرالبیان په (۱۱۹ ـ الف) مخ کي راغلي دي:

» او بایزیده ! ما ذره دسړي کړې دی ځای ددار و دکرلي
دایمان ـ نه بویه وسړي چې د دار و په ځای وکړي زهر دگمان.«(۱)

کَړدَه kaṛdá

۱ ـ عمل، فعل، چار، کړه

۲ ـ دودوبایده، کرده، احسان، نیکي، مرسته.

دخیرالبیان په (۱۳۳ ـ الف) مخ کي راغلي دي:

» دمنافقانو د تیبې [له] خوی هوی دی، چې زما او زما د
پیغامبرانو دکتاب حکم به یې (په) وینا قبلا وه او په کړده به منکرو.....

دمروتو دکسرونو په ۵۶ مخ کي راغلي دي:

زوروره خدایه ! خوسره دي پړدې دي
زما په زړه راغلي منومېړو کړدې دي

په پښتو کي د احسان هېرونکي په باب ویل کېږي:

» په کړده په خوړ ده منکر دی..

---

(۱) دچاپي نسخې په ۲۰۸ مخ کي دگمان پر ځای " ایمان " کښلی دی او په حاشیه کي ورته کښلي دي، " کذا ـ اماد " دایمان " لفظ هیڅ مناسبت لري. "
ښایي چي دحاشیه لیکونکي مراد به " مناسبت نلري " وي.

ACKU

522

کړندړ

شمار . شمېر . حساب (عربي)

دخیرالبیان په (۴۳-الف) مخ کې راغلي دي :

« ما په بهشت کښې باغونه کړي دي . په کړندړ د پېرۍ د
آدمیان . »

په (۱۰-الف) مخ کې یې کښلي دي :

« که دریابونه شي خوږه کړندړ د مخلوقاتو - ترو واړه دریابونه
توري شي یاکه له دغو په کړندړ زیات شي - او یا زره کاتبان
یاکه له دغو په کړندړ زیات شي — د هر کاتب او یا زره قلمونه
شي بې ګمان . »

دخیرالبیان د چاپي نسخې د ۱۱ مخ په حاشیه او د مقدمې په ۶۳ مخ
کې د "کړندړ" کلمې معنی "شمېر" کښلې ده .

کړه kṛә́

فعل او عمل

دخیرالبیان په (۱۳۱ ب) مخ کې راغلي دي :

« زما په نعمت به شکردان - په ورکړه قناعتي - په بلا
د صبر - په قضا په کړه راضي وو . »

د مروتو د کسرونو په (۲۵) مخ کې راغلي دي :

« چرنګه حیران یم د چښتن الله په کړه ویلو ته مې پام سه .
اوس مې نه د ربړي زړه . »

ACKU

خوشال خان ويلي دي:

کره يې نه دي بې حکمته
نه خوشحال د ده په کره يم
(د ديوان ٢١٣ مخ)

کُښايَل kušāyə́l (مص)

١- خلاصول ، پرانيستل (د پارسي کشودن وگشادن په معنیٰ)
٢- مجازاً د روژې ماتول ، روژه مات کول ، د خولې خلاصېدل(١) چې په عربي يې افطار بولي.

د خيرالبيان په (٩٨ - الف) مخ کې د روژه مات (روژه ماتي) په باب راغلي دي:

« يا خدايه ! روژه مې درله تالره ، توکل ، باور مې په تا دی او ستا په رزق روژه کښايم ، ترودي شه څښي يادي وخوري لداتام. »

په بهار عجم کې " روژه کشادن " د افطار په معنیٰ راغلی دی.

کښلوَل kṣ̌əlawə́l (مص. مت)

تجوَل ، چَپ کول ، چَپّول ، ښکلوَل

په خيرالبيان کې راغلي دي:

« د نارو اکښلول ، د لوبي کره له هغه مکروه دي په آدميان. »
(٩٨ ب)

---

(١) [illegible]

ACKU

« یاکېنل که ، یا ورسره لوبي که له هغو چې تاب وادي په آدمیان .»
(۱۰۱ ـ الف)

سعید وېلي دي :

پښې دِ تا ددې دسپیو "سعید" سکل کړې
وسلطان ته یې کا ته دسترګو تنګ دی
(ددیوان ۱۴۶ مخ)

خوشالخان وېلي دي:

که هزار ځله شیخي کوې خوشاله ـ
چې سبه کښلی درنږدې شي نو یې کښل که
(ددیوان ۳۳٤ مخ)

کم زامن

کوچني زامن ، وړوکي زامن
دخیرالبیان په (۱۰۷ ب) مخ کي راغلي دي :

کوره ! سر سایه دروړې واجب ده پر توانګران ، چې یې وباسي دځان ، دکم زمن دبرده وو دپاره ، په تا دي وي اعلام . »

کم "kam" کلمه خوشالخان دکوچني په معنی داسي راوړې ده :

لوی نښتر ، لويي خسرېه
بې میوې ، نابوده بڼ
دیوې یو کمی خونی
سپي ، سرې یکښې سڅ
ددیوان (۱۰۱۳ مخ)

ACKU

کَمْ عِیْدْ

کوچنی اختر، ورو کی اختر، کمکی اختر

"عید" عربي کلمه ده چي د اختر معنی لري، کوچنی اختر په عربي عید الفطر بولي.

د ذخیر البیان په (۱۰۱ ب) مخ کي راغلي دي:

"که د کم عید میاشت یو کس ووینې، روژه دي نه کښنالي."

دیکتیا، منګل، خاخي، ځدران او خوستي اوس هم کوچنی اختر "کم عید" بولي.

kamkāṇəy کَمْکانَی

دغه کلمه په اصل په (۶۲ ب) او (۱۹۹ - الف) کي په "ṇ" راغلي ده، د چاپي نسخي په ۱۹۶ مخ کي له اصله سره سمه کښلي ده. مګر په ۱۰۱ مخ کي يې ṇ په ṭ اوښتی دی او "کم کاټی" کښلی دی، داسي:

" په متیازو، په هوس اوبي، په سپیره اوبي، په مني، کم کاټي په استحاضه به د امات شي په وړاندي اندام."

فاضل حاشیه لیکونکي د "کم کاټي" معنی په "حیض" کړې ده. خود شک نښه (؟) يې هم ورسره کښلي ده.

زه د ذخیر البیان دغه پورته جمله کي "کم کاڼی" کلمه د مثاني په د برې (سنګریزه) معنی ګڼم چي پښتانه يې ګګرۍ kakrəy بولي. کېدای سي چي د (کم + کاڼی) کلمې لومړی جزء به د (لږ، کوچنی، ریزه) او دوهم جزء به يې د (د برې او تېږي) معنی

ولري او د خیرالبیان په (۱۹۹ ب) مخ کې د دغې توجیه ملاتړ سته په دې ډول:

„که د روژه دار کم کاڼی یا د اوسپنې خرړې یا هډوکې یا نور داسې ونغړ شي، روژه یې ماته شي، یو دې قضا ولري کفارت پر یې واجب نه شي.„

د غه مطلب د کنزالدقایق په ۱۴۹ مخ کې داسې راغلی دی:

„اَوِابتَلَعَ حَصَاۃً اَوحَدِیدًا قَضیٰ فَقَط.„

"حصاة" په پښتو کې کیتکی بولي چې په پارسي ورته "سنګریزه" وایي او د کندهار پښتانه یې شګې بولي.

کنګال Kangāl (ص، مف)

۱- هغه لوښی چې او به یې پر تېرې کړې وي، او کښته کړی لوښی

۲- مسکین، نېستمن.

د خیرالبیان په (۱۰۷- الف) مخ کې راغلي دي:

„مکروه دی چې زکات استوي له ښهره و بل ښهر وته په آدمیان — بیرون چې یکښې قرابتي وي کم توان او کنګالان.„

کنګال د نېستمن په معنی خوشال خان داسې راوړی دی:

چې ته راځخه نه وې یو کنګال د زمانې وم —
پادشاه د درست جهان یم چې له ما سره لټ پټ یې

(د دیوان ۴۳۸ مخ)

په هندي ژبه کې هم کنګال، کنګلا د نېستمن او کنګلي

ACKU

د ښستمني معنٰی لري . (۱)

ہاتھوں سے اُس کے لاکھ کا گھر خاک ہوگیا
کنگلا بنا دیا ہے مجھے مار مار کے
(جانِ صاحب)

کوږول kužəwə́l
کوږېدل kužedə́l
(مص)

خوځول - خوزول - ښورول - ښنډول - ښنډل

خوځېدل - خوزېدل - ښورېدل -

په خیرالبیان کې راغلي دي:

„ مځکه به دوه واره وکوږوم ، وبه وژنم . په ورمي کوږول واره ژوي ...... او ژوندي به کړم په دوهم کوږول چې شته واره مخلوقات ...... د ورمي کوږول نوم یې راجفه دی او د دوهم کوږول نوم یې رادفه کړی دی . په تا دي وي اعلام گوره ! يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ (روزی که درلرزه می آید زمین ...."
(۳٤ ب ۳۵-الف)

„ گوره ! د مخلوقاتو قراري له تله ، له الوانه ، له کوږېدنه ، له هیبته سره ده ."
(۱۴۲ ب)

„ گوره ! زما په هستي کښې کوږي ، ځي . الوزي هرڅېز ...."
(۱۴۳ - الف)

---

(۱) وګورئ ، پاک مصطلحات ٤٦٤ مخ ـ لغات النساء ۲۲٤ مخ

ACKU

د خیرالبیان د مقدمې لیکونکي او د سمونکي هر ځای د خر خولو او ځپېدلو معنی ځنې اخیستې ده .

اخوند درویزه هم د آمنت بالله په منظومه ترجمه کې "کوړې" کلمه د وړ خوځېدلو او ور تللو په معنی داسي راوړې ده :

پیړۍ خو د قرآن کافي اې خلقه!
ولې پند له دې سنې امامه نغوړې
که ثابت په دغه پند شې (اې عالمه!)
په آخر به د جنت وته وکوړې(۱)

د مروتو د کسرونو ۸۵ - ۹۶ - ۲۶ مخو کې هم "کوړي" کلمه په دغه معنی راغلې ده ، هلته کښلي دي ،

" ښاغلی سپینو تورو څخه نه کوړې بانه ."
(۲۶ مخ)

"قتل خان هم چې له ورایه په نظر که
عراقي کوړنګ یې پسه په خبر که
د کوړنګ باګې یې نه وکوړې ولې"
(۸۵ مخ)

"(هلئ) هلئ ! زنهیو ښې تورې د هیو
چې خلاصون موږی دلاس په کوړول"
(۹۴ مخ)

---

(۱) مخزن الاسلام ۴۸ مخ ، د ۱۲۹۳ ه.ق. چاپ – مخزن الاسلام ۴۷ مخ ، د پېښور چاپ قلمي نسخه ۱۴۵ مخ –

ACKU

حاشیه لیکونکي ورته ښکلي دي:

" کوږېدل = خوزېدل، رپېدل، سنېدل (ښنېدل).
کوږول = خوزول."

د مروتو د کسرونو په ۸۶ مخ "کوږ" کلمه هم د حرکت په معنیٰ داسې راغلې ده:

" مروتو په مخ ور کوږ کړه
نیازو بېسته ځان ور بوږ کړه."

د میرزاخان انصاري په دیوان کې هم د دغې کلمې اسم فاعل داسې ښکلی دی:

د نېکخواه پند ونه نغوږه
په مقصود پسې دکوږه(۱)

کندهاري ملا عبدالغفار هوتک د "دکوږه" کلمې ته "کوشش کن" معنیٰ ښکلې ده.

کوڼي کبر kuni kə́bər (من)

چونګانښ: چې په پارسي یې خرچنګ او په عربي یې سرطان بولي. - د لمریز کال څلرم برج ته هم ویل کیږي.(۲)

د خیر البیان په (۶۴ - الف) مخ کې راغلي دي:

" یا هغه په اوبه کښې ومري چې ژوندون یې په اوبه وي، لکه کب یا ځنګښ یا کوڼي کبر یا نور هسې ژوندګان."

---

(۱) دکوږه: د میرزاخان دیوان د پېښور چاپ ۶۴ مخ - د لاهور چاپ ۸۱ مخ

(۲) په هندي ژبه د غه میاشت kark بولي.

ACKU

خوشال خان ختک وېلي دي :

جوزا و سرطان. خُرداد وتیر دي به حساب کې
پښتو یې شینورا و کوهي کبر حساب دي
(د دیوان ۱۰۱۹ مخ)

ګوهی kuháy (اسـ - مذ) :

څاه چې په پارسي یې "چاه" او په عربي یې "بیر" بولي.
د خیر البیان په (۶۴ ب) مخ کې راغلي دي :
"که کوهي چینه دار وي، وار، او به یې وکښي نه شي..."
رحمان بابا وېلي دي :

کوهي مه کینه د بل سري په لار کښې
چېرې ستا به د کوهي په غاره لار شي
(د دیوان ۲۱۷ مخ)

کوهي په پنجابي ژبه "کهوه" او په هندي (اردو) ژبه یې "کنواں" بولي
غالب وېلي دي :

"چاه" کو هندی میں کہتے ہیں "کنواں"
"دود" کو هندی میں کہتے ہیں "دھواں"

په سنسکریت کې د دغې کلمې تلفظ khā ؤ - د اپنشاد په ۵۵۶ مخ کې kha کلمه د څاه په معنی راغلې ده.

ګبینه Gabīnə (اسم جمع) :

ګبین، عسل (عربي). شات. شهد (پارسي).

ACKU

دخیرالبیان په (۱۰۳ ب) مخ کي راغلي دي:

„ د ګبینه دي لسمه وباسي که دیه عشري ځمکه وي.. "

شیدا ویلي دي:

که تل په طور د ګبینه يي
خالي له وضعي د کرم نه يي

(د دیوان ۱۴۷ مخ)

دغزني په قره باغ کي Gabináy ښاتو ته وايي او د ښاتو کندو هم په دغه نامه بولي.

د پېچ په دره (کونړ) کي Baganáy د ښاتو کندوډ ته وايي چي د تیرا اپریدي يي Ganḍáy او د اریوب خاځي يي تومبکه یا تمبکه بولي.

ګڼل Gaṇə́l (مص)

۱- شمېرل، شمارول، حسابل، حسابول
۲- قیاسول، اټکلول

دخیرالبیان په (۱۰٤ ب) مخ کي کښلي دي:

„ که زيات شي له کاله وړاندي مال د توانګران - په هغه جنس دي له مال سره وګڼي، زکات دي وباسي.. "

د مروتو د کسرونو په ۵۰ مخ کي ګڼل د شمېرلو په معنی داسي راغلي دي:

یارانو! د نیازي لښکري زور دی
دلالان يي کښېنولي وګڼل ته

ACKU

د سپېڅلي پښتو په ۱۸۳ مخ کې هم گنمل د شمارلو په معنی کښلی دی. د شمارلو په معنی سره د گنمل کلمې رواج په ځينو پښتنې قبيلو کې پاته دی، مثلاً کوچيان وايي:

„گڼ دي پرتېر کړه" يعنی و دي شمارلي

د سنسکريت شبدارته کوستبه په ۲۶ مخ کې هم gaṇ کلمه د شمېرلو په معنی راغلې ده.

په هندي کې هم gaṇan کلمه د شمېرلو په معنی رواج لري (وگورئ هندي شبدارته پاری جات ۱۹۲ مخ)

Gušay گوښَئ

جلا، جُلا، بېل، ځانته، يواځې (يوازې)

دخيرالبيان په (۱۵۹ ب) مخ کې راغلي دي:

„گوره! د هر څه هستي تن، روح لري - څيز په څيز کښې ننوزي يا وُزي - پيوند يا گوښي شي - مال ملک زيا تېږي، کمېږي د آدميان. „

شمس الدين کاکړ ويلي دي:

برخي واره له اناله
گوښي گوښي د هر چا

(د ديوان ۱۵ مخ)

خوشال خان ويلي دي:

د سترگو، ورځو، زلفو له بڼو به دې ځانخه درېږم؟
د مخ سياهيان دي اراته جوړ لښکر زه گوښی هسي

(د ديوان ۵۵۷ مخ)

ACKU

ګهنده Ghándə (اسـ-مذ)

ګانده gāndə ، سبا چي په پارسي ئې "فردا" بولي مجازاً د آینده معنی هم لري.

ذخیرالبیان په (۹۸-الف) مخ کي راغلي دي:

"پس دی نیت که چي ګهندهَ به فرض روژه لرم، که خواست وي دسبحان."

فاضل حاشیه لیکونکي د چاپي نسخې په ۱۶۴ مخ کي "ګهند" کلمې ته "صبا" معنی کښلي ده.

علي خان ویلي دي:

نن يې ګل غوندي تازه کاندي غمانګه
بیا يې ګانده اوبزان لکه توره کا
(د دیوان ۷۹ مخ)

کریمداد د روښاني ویلي دي:

چي د ګانده په غم تښلي
د هغو کسانو زار دی
که په ګانده دي ئي تمه
هوري کلمه کښت د کار دی
(د دیوان ۵۰ مخ)

ACKU

لرګين Larg+ín (ص، مذ):

چوبي، له لرګو څخه جوړ شوی.

دخيرالبيان په (٦٧-الف) پا ڼه کي راغلي دي:

" که لرګين يا خاورين کالي، پوزی يا پلاس يا نوړ هسي کالي

پليت شي. "

لَلْ lə́l (مص):

١- ويل، بلل

٢- که دشاهدۍ ياګواهۍ له کلمو سره راسي د (اداکولو) معنی لري.

٣- که دقسم يا سوګند سره راسي داخيستلو معنی ورکوي.

٤- که له سلام سره راسي داچولواوګرزولو معنی لري.

٥- که د بانګ اواذان سره راسي دکولو معنی لري.

په خيرالبيان کي راغلي دي:

" زه ګواهي لـم بخپيل خان چي زه پادشاه دملک يم. "
(٣٥-الف)

" صلوٰة په التحيات پسي په وروستي ناستي کښي دي لولي و رمی وښي، دپسه وکيڼ ړخ وته دي لي سلام. "
(١٧٨-الف)

" يجي بانګزن دجمعې بانګ لي. "
(٨٦-الف)

دخوشال د ديوان په ٤٣١ مخ کي راغلي دي:

ACKU

چې امید په دا ایام لي
دا امید یې ناتمام لي
په سراب د تږي خوی دی
د اوبو گواهي مدام لي
زه له غمه مخ جار باسم
دی را دراندي سې سلام لي
د "خوشال" بلا هغه شوه
چې سوگند د ده پدنام لي

لُوَلَه lwə́la (حمص)

لومستنه، قیتنه، لولنه، چې په پارسي یې "خوانش" بولي.

دخیرالبیان په (۱٤ ب) مخ کې راغلي دي:

" وکتبه زما او زما دانبیا و اولیا دو گفتار، په دا کتاب که ددوی ویناپو شکل دي زماله کلام - تر وي لوله، په جهر کړه، ترو په دا پند ورکړه وترسنده آدمیان.،،

لْیَرُونَی lyarúnəy (فا-مذ)

لاروی، رارروی، راهرو (پارسي)
پرلار تلونکی.

دخیرالبیان په (۱۲۵ ب) مخ کې راغلي دي:

" اې بایزیده! زه لیرونی، زما دلاري بې کړ دې، له معامه نه رسوم وبل مقام - هسې چې له ځایه وبل ځای وته بې تله

ACKU

نه رسوم سرې نه چار پايان ..

دچاپي نسخې فاضل حاشيه ليکونکي ددغه مخ په لمن کي کښلي دي:

" لېروني يعنې لاره تلونکی "

دخيرالبيان په (۱٤٥ - الف) مخ کي هم دغه کلمه داسي راغلي ده:

" گوره ! ورمندان په طريقت کښي په لېروني هغه دی
چي مشغولي يې وي په رکوع په سجود په قعود په قيام .."

فاضل حاشيه ليکونکي ددغه مخ په لمن کي ورته کښلي دي:

" ښايي چي ددې کلمې معنی لاروهونی (سالک) وي .."

د lyar + únay کلمې لومړی جزء lyár دی چي د "ليار" کلمې لنډ سوی شکل يې بايد وبولو.

صدرخان ختک په آدم درخانۍ کي ويلي دي:

مير بايي چي جواب ورکړ
نور آستانې يې مخ په لېر کړ

(آدم درخانۍ ۱۵۰ مخ)

معين ويلي دي:

چي بانه يې په زړه علين کار د خنجر که
قدمونه يې په ژړه ، سير په لېر که

(د ديوان ۷ مخ)

د "لېر" کلمه دلاري په معنی په ځينو پښتنو کي ژوندۍ او مروجه کلمه ده. يو داوسني شاعر ويلي دي:

څو ورته راسه ، خوله به درکړم مانا ديگر کي
مه ورېږه لېر کی
(د پکتيا سرودکی)

ACKU

دلیږوني کلمې د دوهم جزء ūnay دی چې د فاعلي شاوندي unkay لند سوی شکل دئ.

" لاږوني " ځني پښتانه هغه محیطي قاضي ته وایي چي په ښځرو کي لیار تماکي ، او په مرکو کې ځلي دروي

لیږدی Léžday (اسـ - مذ)

۱- هغه بوده چې د بار د وړلو سوی دي (۱) ـ باري بوده

۲- هغه بوده چې یو کوچې یې بل کوچې ته امانت ورکړي چې خپله کسله پر یوسي . مثلاً بیا دی خان وایي:

" قطب خان دوه لیږدي راکړه چې کډه پر یوسم ."

دخیرالبیان په (۱۰۲ ب) مخ کي راغلي دي:

" حسیب دی نه که په مال کښې ، کور ، نه جامه داغوستن اونه د تیګی خریان ، نه کسر دی ، نه لیږدي ، نه دژواک بندګان."

دخیرالبیان دچاپي نسخې مقدمه لیکونکي او سمونکي لیږدي کلمې ته (؟) الینبی دی.

لیږي

(دغایب صیغې دحال له پاره)

ګماري

(د لیږل له مصدره څخه د léž کلمې مشهوره معنی "اَستوي" ده)

---

(۱) ظفراللغات ۲۸۲ مخ - د بار بوده په عربی "راحله" بولي.

ACKU

په خیرالبیان کې راغلي دي

" د منافقانو نخښه هغه ده چې لیږي د ګناه و چارو ورته ځان،
ورنور کسان ، له ښې چارې منې کوي آدمیان . "
(٤٤ ب)

"ګوره ! تکبیر تحریمه حاموي په شروع کړوني بې د کبر، یا له یادو — او ولاړي لیږي د ښې چارو ته په هر ځای چې وي او منعه کوي یې له ګناهونو — او لوستن لیږي د تسبیحات د ژبې وښې وینا ورته او منعه کوي یې له بد کلام — او رکوع لیږي وخدمت و نغوته د پیر تمام او منعه کوي له نغوتې د پیر نا تمام، په تادي وي اعلام.
او سجده لیږي د کسترګه ورته د نږغمل ، هتیاتي له ګناهانو — او قعود لیږي چې کښېني ، قرار دي شي له هغه سفر چې وي د حرام . "
(٧٢ ب مخ)

دا اصل حاشیه لیکونکي د چاپي نسخې د ١١٧ مخ په حاشیه کې ورته کښلي دي :

" لیږي = آماده کوي ، ولاړوي ، ترغیب ورکوي . "

" لیږي " کلمه د ګمارلو او چمتو کولو په معنی د لاږ Lāž له کلمې نخښه لیږي نه بربښي . Lāž پښتانه تاوکړه سوي پړي ، ښتل سوي واښه ته وائي . (١)

---

(١) وګورئ : پښتو قاموس ٢/١٩١ مخ - ظفراللغات ٨٥١ مخ

ACKU

مَایَهٔ Māyá (اسـ مو)

۱ـ تُوَمنه ، تیمنه ، مؤرد
۲ـ پانګه ـ سرمایه ـ رأس‌المال (عربي)
۳ـ که داو بش صفت راسي ، مایه کلمه د بېرا وغتې معنی لري
٤ ـ هغه هګۍ چي چرګي تدبې بږ دي او چرګي لوړي هګۍ پراچوی
۵ ـ د مَردکو په لوبو کي هغه غاړګړی چي مردکه بایلي وړ
واچوله سي .

په خیرالبیان کي "مایه" کلمه د پانګي او سرمایې په معنی داسي راغلې ده:
" اَوُرَته ، پاکوړ یا برده ، آس وي یا څنا وران یا لوړ شیز د دنیا
له مایې وړ یادوی وآدمیان . "
(۱۱۰ ـ الف)

د چاپي نسخې په ۱۹۱ مخ کي فاضل حاشیه لیکونکي هم د مایې کلمې معنی
سرمایه او پانګه کښلې ده .

مَټْ Maṭ (اسـ مذ)

۱ـ لېستد او چونلې غوندي خاوره چي زیاتره د منډؤ (خوړ د نو)
په تل کي وي :(۱)
۲ـ خُم ـ په دغه معنی یې مصغر متکی maṭkáy او ماټۍ
maṭə́y دي چي لومړي یې مذکر او دوهم یې مؤنث دی.

---

(۱) په درالمجالس کي د غه کلمه د صفت په ډول راغلې ده :
وچه لاړ شوه هسي متهه
ګویا نه ده هرګز خته

ACKU

مټ (خُم) ځیني پښتانه چاټي هم بولي.

حسین ولي دي:

آفرین دی د هغو په لوی همت وي —
چې یې خاورې ایرې فرش کړې مټ بالین
(د دیوان ۳۲۱ مخ)

په خیرالبیان کې مټ کلمه داسي راغلې ده:

" د کبینه دي لسمه و باسي. که په عُشرې ځکه وي.
وزي د مټ په حسیب، مټ شپږ دېرش [په] سیر دی.....
(۱۰۳ ب مخ)

دلته له مټ کلمې څخه د پیر روښان مراد لواځي هغه خُم دی چې شپږ دېرش رطله شات ونیسي ځکه چې دی "سېر" د رطل په معنی راوړی (۱). پخوانو د غه پیمانه "خُبره" بلله (۲)، "خبرې" څلېروېشت قسطه شات نیول او هر قسط یونیم رطل و (۳)

په هندي ژبه کې مِیټِیَه mitiya هر خاورین لوښي ته ویل کېږي (٤) او د اصطلاحات پېښوران په ۲/۳۵ مخ کې ماټهه māth کلمه د هغه لوی خاورین لوښي په معنی راغلې ده چې رنګرېزانو به نوکرانو ته اهار پکښې ورکاوه.

ماټي کلمه هم د کوچني خم یا منګي په معنی په هندي کې استعمال لري

---

(۱) وګورئ: اوږدې

(۲) خُبره ـ د خُمره کلمې مبدل دی چې د کوچني خُم معنی لري.

(۳) د قسط په باب کښلي دي: د شاتو قسط یونیم رطله دی چې هر رطل ۱۲ اوقې (۹۰ مثقاله) راځي، د د قسط له ۱۸ اوقیو (۱۳۵ مثقالو) څخه روغ دی. ځیني کسان د شاتو قسط یو رطل بولي او په کتاس سابر کې د شاتو قسط ۲½ رطله جنوول سوی دی.

(٤) وګورئ: د هندي شبدارتهه پاري جات ۶۲۹ مخ.

ACKU

کبیر داس وېلي دي :

ماٹی کہے کمہار سے ، تو کیا روندے موہے
اک دن ایسا ہوئے گا ، کہ میں روندوں گی توہے[1]
(هندي شاعري ٩٠ مخ)

مهربان خان "رفق" فرخ آبادي وېلي دي :

خلقت تمام گردش افلاک سے بنی
ماٹی ہزار رنگ کی اس خاک سے بنی

مَرْوَنْدْ Marwánd (اسـ - مذ)

دلاس بند - دلېښتي او خپړي ترمنځ بند.
چي په عربي يې "رسغ" بولي.

دخيرالبيان په (١٥٨ ب) مخ کي راغلي دي :

"گوره ! لاس له مروند ه پوري وله او ږمانوم يادوله سي
ولي بويه ...."

کاظم خان شيدا وېلي دي :

زما زړه يې کاږه راښيوستاله زلفو
که شانې يې هر څو تاوکړل مروندونه
(دديوان مخ)

---

[1] ددغه بيت پښتو ترجمه داده :

"ماټي کلال ته وويل : "ته ولي ماموږې ؟
لو ورځ به داسي راسي، چي به زه تا وموږم"

ACKU

مُزدَکْ Muzdák
نمُزدَکْ Nmuzdák
(اسم ـ مذ)

مسجد (عربي) ، ماجت ، جُومات

د ذخیرالبیان په (۸۷ ـ الف) مخ کي راغلي دي:

« د نماځه په وخت دي د مزدک ورنه ترې آدمیان »

مُزدك د مسجد په معنٰی په کوچیو ناصرو او مروتو پښتنو کي۔ ژوندۍ کلمه ده ، د مروتو په کسرونو کي راغلي دي:

یوه ورځ يې سمېله وکه يي شېخانو په مزدك (۱)
دوهمه ورځ يې لښکر بېنګ که ، په نیاز يو وختل
(د مروتو کسرونه ۴۶ مخ)

پښتانه شاعر ښکارندوی دغه کلمه د " نمزدك " په ډول راوړې ده . د غازي شهاب الدین محمد سام غوري (۶۰۲ هـ.ق. مړ) په ستاینه کي يې ویلي دي:

په رونا اوسې ته تل د دین شهابه !
نوم دي تل وه پر دېرځ په نمزدکونه
(پټه خزانه ۵۷ مخ)

په پارسي متنونو کي دغه کلمه د مَزكِت Mazkit په بڼه راغلې ده. (۲)

د حدود العالم مؤلف جوزجاني په ۳۷۲ هـ.ق. کال د هرات په باب

---

(۱) سمېله = چېنه
يي شېخانو = د شېخانو
(۲) برهان قاطع ۲ ټوک ۲۴۷ مخ

ACKU

کښېنلي دي :

" د مزکت جامع این شهر آبادان تر مزکتها ست ."

دتاریخ طبري په پارسي ترجمه کي چي ابو علی محمد بلعمی (۳۶۳ ق م) کړېده ، هم د مزکت کلمه څو ځلا یه د مسجد په معنی لیدله کیږي.(1)

د مزگوت Mazgut کلمه د مسجد په معنی اوس هم په کردي ژبه کي باب ده .

مڼ Máṇ(ə) (م - مذ)

مُړْيَۍْ . یعنی هغه غبلي چي پستې وړې لري لکه : مڼ . میږ . لیړی (وَرَی) ــ مُږَۍُ (۲) ، منهیا .

دخیرالبیان په (۱۰٤-الف) مخ کي راغلي دي :

" د مڼ دوزي زکات همان دی په آدمیان . "

خوشال خان دغه مطلب داسي ویلی دی :

که مُږۍ که بز که پسونه
مېنځي ، نر که بزه که مږونه
په نصاب کښي برابر دی
که د کال شي صحراچر دي

(فضل نامه ۱۰۰ مخ)

اوس یې په برو شینوارو کي مَنْهیا بولي .

ځني پښتانه هغه سړي چي لږ پوهیږي ، مُږَی سړی بولي او دوړ ملي خلک د "مُږلی" کلمه له غواسو د صفت په توگه استعمالوي . وایي : "دا مُږېي هواده" ؛ یعني د پیری شیدي کوي .

---

(1) د زیات تفصیل له پاره وگورئ : د پښتې خزانې تعلیقات ۲٤۳ مخ .

(2) پښتو قاموس ۲/ ۹۱۳ مخ ـ ظفراللغات ۹۰۲ مخ

ACKU

مېرڅي Mercí (اســ - مو)

دښمني، دبښني، غليمي، مېرڅمني

دخيرالبيان په (۱۱۳ ب) مخ کې کښلي دي:

"هر کله يې وو ژني، ترو مېرڅي شي، دهغه پس ووالي په وراني زيا تېږي په ميان دآدميان."

په تاريخ مرصع کې دغه کلمه داسې راغلې ده:

"نقل کا چې په يوه سبب، يا د هزاره وو له مېرڅې تنگ شول.

. . . .

يو مدت چې تېر شو، بيا د يوسفزيو د دلازاکو سره مېرڅي شوه."

(د گلشن روه ۱۰ مخ)

ميرزا خان انصاري وېلي دي:

علاء د نفس په مېرڅي وتره استواره
په نرمۍ به سود يو نه سي له خناسه
(د ديوان ۸٤ مخ)

خوشال خان وېلي دي:

چې د ستر گو يې تقوی سره مېرڅي ده
په ناحقه يې نيولې پارسايي ده
(د ديوان ۳۲٤ مخ)

مېرڅی Mercáy (مذ)

دښمن، دبښن، غليم، مېرڅمن

دخيرالبيان په (۱۵۸-الف) مخ کې کښلي دي:

"د آدم مېرڅی شيطان و . . د بني آدم مېرڅی هغه دی چې له حق-

ACKU

۲- لاړي ځار باسي .،،

سعيد ويلي دي :

مېږځي د نام او ننګ خبري کا
د ګور بندي شول د ننګ مېړونه
(د ديوان ۲۹۲ مخ)

د بابا هوتک په حماسه کي دغه کلمه په دې وجه او meracay راغلې ده :

مېږځي زغلي او ترهېږي ـ
پر کلي ، کور باندي مغل راغي
(د پټې خزانې ۹ مخ)

نَاپېژَنْدُوَي Nāpežandóy

نه پېژندونکی

د خيرالبيان په (۹۵ - الف) مخ کي راغلي دي :

،، د بانګ ويل مکروه دي په رانده ، په کوچني ، په ناپوهه په بنده ، په هوهوني ، د وقت په ناپېژندوي ، په جُنُبان .،،

نالت Nālat

(اسـ - مذ) :

۱- سرکوزی ، بدځناور ، مَتَه ، خوګ ، خنزير (عربي)

د خيرالبيان په (۶۴ - الف) مخ کي کښلي دي :

،، که په کوهي کښي سنيږی يا نالت يا نور داهسي لېوه پر لوزي .،،

د خيرالبيان په (۶۵ - الف) مخ کي راغلي دي :

،، پرېښبون د سړی د حلال څيز پاک دی - او پرېښبون د

ACKU

نالت د سپي د نور لېوه پلیت دی. ،،

د نالت کلمه په دغه معنی سره په بل پښتو کتاب کې زما تر سترګو سوې نه ده.

۲- د عربي کلمې لعنت مغفن (پښتو سوی) شکل دی، ځینې پښتانه یې پېټ Pet بولي.

په دغه معنی سره "نالت" کلمه د خیرالبیان په (۸۱-الف) مخ کې داسې راغلې ده:

" او پستنه دي اوسي له تما څخه د منافقانو، زه په هغه نالت کوم چې تن یې زما په بندګي ولاړ وي او په زړه کښې یې زما طلب، تسبیح حضري، پېژندګلي او یاد نه وي. ،،

مګر په (۲٤-الف) او (٤۰-الف) مخو کې "لعنت" کښلی دی:

" لعنت، غم، پښېماني او عذاب مدام. ،،

" لعنت د خدای په تا. ،،

نَانْ کُوړِي Nān+kor+i (اس- مؤ)

کنجوسي، اسي توب، بخیلي، کنسکي توب، کنسکي- کنجوس، اسي، بخیل او کنسکي ته نان کوړه - nānkórə وایي.

د خیرالبیان په (۲٤ ب) مخ کې کښلي دي:

" ګوره! ښاخونه مې یې حرص، کبر، طمعه کړې ده او بدګمان، زه له حسده او بېزده امیدوار یې، نان کوړي، تاریکي د زړه پیدا کړم. ،،

ACKU

دچاپي نسخې په حاشیه کې کښلي دي:

"غالباً چې دنان کوړه مطلب دګېډې په غم کې ړوند ګوڼ ګرزېدل دی..." - مګر دا توجیه سمه نه ده.

د "نان کوړ" کلمه دپارسي ژبې په دغه بیت کې راغلې ده:

زبس نان کور دکم سفره ست دنیای دنی گویی
بجای حمد تکبیر فنا خوانند بر نانش

نَرْسْیَیْ Narsyáy (اسم)

اناړ پوست، داناړ پوستکی، دنرګوس پوټکی، دننګروس پټوکي - نسپال (۱)

دخیرالبیان په (۶۳ - الف) مخ کې راغلي دي:

"اودس روادی، په هغه اوبه که پاک شیز ورسره وزي چې یو صفت داوبو دچاړ پاسي؛ لکه:
نیزبي، نرسیپي، یا زمه یا صابون..."

په طب صدیقي کې نرسوی Narswáy راغلی دی:

ته خشخاش، نرسوي دګوره
بل تري شکره و ر و ر ه !
(۱۶ مخ)

---

(۱) نسپال کلمه دخوشال په دغه بیت کې راغلې ده:

شهد و شکر یُو، زهر و زقوم یو
مُ دُښنې یُو، نیل یُو، نسپال یُو، سوړ
(د دیوان ۸۱۲ مخ)

ACKU

په کوچيو ناصروکي ددغي کلمې اوښتې (مقلوب) شکل ـ
Nəsə́rwəy رواج لري ، دافغان قاموس په ۱۴۴,۱ مخ کي هم
دغه مقلوب شکل کښلی دی.

نغړل Nɣəṛə́l (مص)

نغړل ، ترستوني تېرول ، نغړدل ، نغړتل
ذخيرالبيان په (۶۹-الف) مخ کي راغلي دي :
"کله دروژه دار کم کاني ، يا داو سپيني خزري ، يا هډوکي
يا نور داهسي ونغړي ..."
حميد ما شوخېل ويلي دي :

هسي راته ترخ کړ شيرين عمر جدائي
هر نفس چي نغړم ، گويا خورم زهر وګندهير
(ديوان ۴۵ مخ)

په هندي کي Nigal+nâ د نغړلو معنی لري "nā" يې مصدري
شاوندی دی - "Nigal" يې دپښتو Nɣəṛ يا Nɣər
معنی لري

نغوته Nɣʷə́tə (ا-مو)

۱- اشاره ، ايماء
۲- پند ، نصيحت ، ورمه ، ښوونه ، تلقين (مجاز)

ACKU

د خیرالبیان په (۴۰ - الف) مخ کي راغلي دي،

۱ « چلاوي کړم په نغوته د شیطان او نه دی کړم چار په آیت د قرآن».

حمید ماشوخیل ویلي دي،

نوس په بد و در ته پند کړي زه په نیکو
د قادرو په نغوته ځي که د کلیم

په خیرالبیان کي نه نغوته (نغښته) کلمه د نافرماني او نه پیروی په معنی راغلې ده

« او بایزیده ! وسوسي بویه چي و پېژني شیطان، مکر او میرغچي یې، مشغولي دي که دده په نغوته تل د تله مدام.»
(۱۱۲ - الف)

« او بایزیده ! دستور او ادب د کتاب و د کښلو هغه دي چي یې وکښه زما په توفیق، ....، په ورکولو د اندېښني او د زړه په حضوري او په نه نغوته د نفس د هوس او د شیطان.»
(۱۳ ب)

د نغوته Nɣᵛáta کلمه د خوشال خان د دیوان په ۵۸۰ مخ کي نغوته Nɣóta راغلې ده،

هرڅي نه دي وو په نغوته
تالبیک دوي هغوته

نغوږل Nɣᵛažə́l
نغوتل Nɣᵛatəl
(مص)

۱- اروېدل، اورېدل
۲- خبره منل، پند منل، پند اورېدل

ACKU

ACKU

د خیرالبیان په (۱۳٤ - الف) مخ کې راغلي دي:

" بیا به یې په دروغ ورته ویل: هرچې زما په لاس توبه کړه، زما نغوړي - دوی به زه یا زما پلار، نیکه ورانديني، له عذابه وراحت ورته وباسي. "

عبدالکریم ویلي دي:

تا غوږونه د موږ راکړه
شریعت لغوتو له پاره
موږ سرود، سُرنا پورې نغوږو
فضل وکړه مهربانه

حنان بارکزي ویلي دي:

نن دې بیا دې رقیب خبرې نغوتي
چې له درده دې لبان راته موښتي
(د دیوان ۱۵۶ مخ)

په شغني ژبه " نغوښتاو " اورېدلو، لغوړلو ته وائي چې په منجي ژبه یې نُغُشلګا بولي، په منجي اَدُرَولو، نغوړلو (شنوانیدن) ته نُغُویاژ وائي - په بلوڅي ژبه "نغوشي" د امر حاضر صیغه ده. د " ونغوږه " یعني (واوره) په معنٰی.

په روښاني او خوفي ژبو کې Niɣixt+āw د نغوړلو (اورېدلو) معنٰی لري، مثلاً: čiz at nuɣuxč? = تا څه واورېدل؟

د نغوړل مصدر په پهلوي کې نیوخشیتن، چې په سنسکریت کې یې " نی ګوش " باله.

په پارسي کې " نيوشيدن " د نغوړلو معنیٰ لري ، فردوسي ويلي دي:

فرستاده راگفت : " نيکو نيوش !
بگو آنچه بشنيدی ای تيز هوش . "

نغوړَی Nɣažáy (مذ)

خبرې اوريدونکی ، خبرې منونکی ، نصيحت او پند اوريدونکی
نغوړونکی ، نغوتاند ، نغوتان (۱)

مجازاً پيرو ، مريد ، په چا پسې تلونکی ، فرمان بر

دخيرالبيان په (۱۱ب) مخ کې راغلي دي :

" او بايزيده ! که ته غواړې يا غواړې ستا ياران - چې دې نغوړې او محبتي کسان زما آمرزگارې ---- ترو بويه چې وجاروزې ته او ستا ياران چې دی نغوړي او محبتي دي ، له واړو گناهانو . "

فاضل استاد پوهاند عبدالحي حبيبي د طبقات الصوفيه په تعليقاتو کی کښلي دي :

" دماني په پيروانو کي يوه ډله نغوشاکان بلل کېده چې په عربي یې معنیٰ په سماعون (نغوړلو) سوېده . "

---

(۱) دخوشحال په ديوان کی نانغوتان Nā + nɣut+ān او نانغوتاند کلمې دنافرمان په معنیٰ راغلي دي :

د نيکخواه خبرې نغوږه پرې عمل کړه
نانغوتانو ته تياره دی ندامت
(د ديوان ۵۷۷ مخ)

زمانه اوږده اې نانغوتانده !
ته وچې لرگې یې نه لبنتيه تانده
[illegible]

ACKU

دلغت فرس په (   ) مخ کې اسدي طوسي کښلي دي:
„ لغوشا د گبرانو مذهب ته وايي ، دقیقي ویلي دي:

تا میل کرد بابا از مذهب لغوشا
آن زردهشت کو بود استاد پیش دارا

نونډول Nundəwál

لندول ، لمدول ، لوندول ، لومدل
دخیرالبیان په (۶۷ ب) مخ کې لاغلي دي:
„ مني پلیت ده ، داواجب دي چې یې نونده پرېوينځي.“

نېزبې Nezbí

نازبو ، ببرى ، کشمالی ، کشمالو (؟)
دخیرالبیان په (۶۳-الف) مخ کې کښلي دي:
„ اودس روا دی په هغه اوبه که پاک څیز ورسره وزي
چې یو صفت د اوبو وچار باسي لکه نېزبې ، مرسیبي
یا زمی یا صابون ......“

نیوونی مرغه Niwúnay-murǧá (ص+ا-)

هغه مرغه چې نور مرغان نیسي او خوري یې - ښکاري مرغه، چې په عربي یې ” سباع الطیور “ بولي.

---

(۹) د ”نېزبې“ دکلمې د دغه معنی احتمال ده ، کېدای شي چې بله معنی ولري.

ACKU

دخیرالبیان په (۶۵ ـ الف) مخ کي راغلي دي:

" اوپر ښبون د پیښي، دچرګي. دنیوولي مرغه اوچې
په کورکښي وي لکه مږک یا مار یا دانورحسي شکل مکروه دي."

ورچاني Wárčāni

دباندي، بهر، د " دننه " ضد.

دخیرالبیان په (۵۹ ـ الف) پاڼه کي راغلي دي:

" خلال دریږي، د ننه دورچاني دغوږ مسح او خلال
دګوتو تمام. دا په اودس کښي سنت دي ... "

خوشال خان ویلي دي:

زاهد ورچاني انکار کاندي له میني
نل، دمن، لیلی مجنون بولي په کور
(۱۱۲ مخ)

دغه کلمه د " ورچیني warčani " په بڼه هم لیدل
سوېده، صدرخان ختک ویلي دي:

نه دوی ورچیني پر ښبولـه
نه دخو تـر وره وتله
(آدم درخانی ۱۱۶ مخ)

د "حسین" په دیوان کي هم دغه کلمه ورچیني راغلې ده:

چي مي څرخ شوه په خاطر دهجر غمه
نه مي ورچیني آرام شي نه دننه
(۳۵٤ مخ)

ACKU

دخوشال خان په بازنامه کي هم وږچني کلمه په دغه معنی څوځايه راغلې ده.

دغه کلمه دپکتيا په سيمه کي اوس هم په دغه معنی استعماليږي.
دميرزکي منگل يې wrašni تلفظ کوي او دارگون په سيمه کي وَږچاني wráčāni وايي.

ورغل ؟

دخيرالبيان په (۱۸ ب) مخ کي راغلي دي:
„ ره ژغوره دسيني ، دشا ، دورغل – په شا په سينه
دموږ په نس کښې آدميان . “

وَرکَاوَیُ (مذ) wrək+áway

ورکوالی
دخيرالبيان په (۲٤ ب) مخ کي کښلي دي:
„ له طمعې مثک ، ورکاوی دتوکل او بدخويي پيداکړم. “

وُرُمَیّ wrumáy > wrumbáy (ص - [illegible])

ورومبی ، ړومبی ، لومړی ، نومړی - اُنبړی ، وړونبړی
لونبړی . اوّل (عربي) . نخستين (پارسي)
ورمی دوړومبی کلمې مخفف شکل دی – ترميم وروسته چې په
کومه کلمه (ب) راسي د دغې (ب) د غورځيدلو نور مثالونه هم

ACKU

سته لکه :

د سنسکریت kambar د پښتو کمر (برګ - ابلق) په معنی.

د سنسکریت Adambar د پښتو ادمار (فخر، کبر، خودبیني) په معنی.

د خیرالبیان په (۶۱ ب) مخ کې کښلي دي :

"دوه وارې لاس چل په مزکه یا د مزکې په جنس په تیمم کې فرض دي، ورمی د مخ، دوم د لاس د پاره په آدمیان."

د خیرالبیان په (۷۵ ب) مخ کې ورمی تکبیر، د تکبیر تحریمه په معنی راغلی دی، هلته کښلي دي :

"بر منلي هسکول د دوو لاسو له ورمي تکبیر سره د غوږ ولوري په ارتې ګوتې."

په (ورم + کال) (وږمه + شپه) او (ورمه + ورځ) کې د کلمو لومړی برخې له "ورمي" سره بې اړیکې نه دی، ځکه چې د پښتو ژبې په وفیشي لهجه کې د urum کلمې معنی ده: "تر وروستي د مخه" چې په عربي ژبې "مَاقبَلُ الآخِرْ" بولي (۱)

د هندي ژبې Ārambh کلمه چې د شروع (آغاز) په معنی استعمالیږي، د پښتو ژبې له ورومبی کلمې سره ډېر لفظي او معنوي نزدیکت لري.

وُزَی Wuzáy (اس - مذ)

وُزَی - هغه غیلي چې غوني لري لکه ور - وزګری، وزه (بزه) مرغومی، سېرلی.

---

(۱) وګورئ : آریانا مجله - ۲۷۲ ګڼه - ۱۸ مخ

ACKU

دخیرالبیان په (۱۰٤-الف) مخ کې راغلي دي:

„ دمن دوزي زکات حمان دی په آدمیان. ،،

وُزګاُر Wuzgár (ص-مذ)

فارغ، بیکار، اُزګار، اُوزګار

دخیرالبیان په (۱۱ ب) مخ کې راغلي دي:

„ راد بخښنه وماته، اوزما ویارانو او فرمانبردارانو او محبتي وته ګناهان - بل مې زړه قرار شي اوستا وکلام وته اوزګار شي. ،،

سعید ویلي دي:

زړه د هواله، خدایه اُوزګار کړه
پس ځان د حق له، عبادو شمار کړه
(د دیوان ۲٤۹ مخ)

وُسټرَه Wustra / وُسټَر Wustar(?) (ص):

د "وروسته" کلمې اوښتی (مقلوب) شکل دی.

د وروسته، روسته، روستو، شا، ترشا، دشا معنی لري.

دخیرالبیان په (۱٦۱ ب) مخ کې راغلي دي:

„ ګوره! د هرڅیز وړاندي، وستر، ښئ، کیڼ، لاندي، پاس ښته......
نشته زما وړاندي، وستر، ښی، کیڼ، لاندي، پاس - نه ده نه ماهستي په

ACKU

ځای په مکان . »

یرالبیان دچاپي نسخې مقدمه لیکونکي او سمونکي ددغه مخ په لمن
ي " وستر " کلمه په " ورووستو " معنی کړېده .

هغه شی یا خولک چې " ورووسته " یا " وستره " ته یې نسبت وکړي
ه مذکر وي ورووستنی یا وُستري wustráy - او که مؤنث وي
وستنۍ یا وستره wustrəy بللکېږي

په خیرالبیان کې وستري کلمه څو ځایه راغلې ده ؛ په (٤٤ - الف)
کې کښلي دي .

« باور مې دی په خدای په فرښتو په کتاب او په پیغامبرانو
په وستره روځ ، رښتیا نیکي بدی له خدایه ده او له مرګه پس
وندون رښتیا دی . »

دلته له وستري روځې څخه مراد دقیامت ورځ ده .

کندهار کې وُستري کلمه " اُستره ustráy او " اُسرۍ
usrə́ " ویله کېږي ؛ مثلاً ،

اُسرۍ خوږ = اُستره خوږ ، ورووستنۍ خوږ (جمادی الآخر) .

اُسره ورځ نامرده ده . (متل)

روښان د " ورووستني " پر ځای وُسترِین wustrín کلمه راوړې ده
(١٦١ - الف) مخ کې یې ویلي دي :

« څینی له وړاندینو سره وو ، نه له وُسترینو سره . »

ښکاري سي چې د جمعې له پاره او د وسترینو wustrínu کلمه
نترِینُوْ wustrinó دلوستله سي او د وسترنیو
wustran: لښت سوی شکل یې وبولو . لکه ،

ACKU

پخُوانۆ = پخوانيو
اولنۆ = اولنيو
اوسنۆ = اوسنيو

ورمندن Warmandə́n
ورمندنه Warmandə́na (جمص)

۱- فرمان، حکم، امر، واجب، لازم
۲- لارښوونه، پند، نصيحت، رهنمايي (پارسي)، نغوته
۳- اطاعت (عربي)، ايليدل، ورمنل، په نغوته تلل.

په خيرالبيان کي راغلي دي:

"گوره په قربت کښي په عارف مقرب دا ورمندن دی، چي هر آواز زماله آوازه گڼي ...."
(۱۵۲-الف)

"ترو بويه چي د قربت په ورمندن چار که، او پستنه اوسي له گناهان."
(۱۵۳-الف)

"د توس گارانو نخښه هغه ده، چي هر چار به که، زما د محبت په بهنه، زما په ورمندنه، زما د طلب او پيژندگلی د پاره ....."
(۲۷ ب)

په دغو راقتل سوو توتو کي د "ورمندن" کلمې معنی بنايي حکم او فرمان وي او خيال مي کيږي چي د چاپي نسخې فاضل مقدمه ليکونکي

لوستونکي چي د مقدمې په ۶۳ مخ کي د " ورمندن " کلمه په " حکم " ترجـمه کړېده ، د غه اقتباسات به يې په پام کي وو . خود خـيرالبيان په (۳۰ - الف) مخ کي راغلي دي :

« ولي دي وهـېر که امر ، طلب ، ورمندن د رحمان ؟ »

او فاضل مقدمه ليکونکي د د غه مخ په لمن کي ورته کښلي دي :

« امر ، طلب ، ورمندن درې واړه لفظه يو مفهوم اداکوي . » (؟)

زما خيال دادی چې په دغه ځای کی که له " ورمندن " کلمې څخه دلالت ښوونې او هدايت معنی واخيستله سي ، بې ځايه نه ده .

د " ورمندن " کلمې بله معنی په خيرالبيان کی " اطاعت ، فرمان بري ، فـرمان برداري " ده چې د گناه ، عصيان او نافرماني ضد دی په (۱۶۶ - الف) مخ کي کښلي دي :

« ترو به يې وباسم له منکريه و با ورو ته ، له گناه ورمندن وته ـ له غفلته و ياد (وته) .... »

وَلَه Wlə́ (حمص)

ولل ، پرې ولل ، مينځل ، پرې مينځل ، وينځل

د خيرالبيان په (۵۲ ب) مخ کي راغلي دي :

« د شريعت وله دي په لاس په اوبه ، چي دي وله دي له پليتيه له جنابته عيان . »

پير محـمد کاکړ ويلي دي :

زيبا نگار چي له ما څخـه تللی دی
مخ مي په اوښکو د حسرت ولی دی
(د ديوان ۱۳۱ مخ)

ACKU

خدای جدائي کړه ، ترمرګ بتره
لاس له ژوند و نه پیر محمد ولي دی
(د دیوان ۱۱۰ مخ)

وُوْ Wu (اسـ - مذ)

باد ، هوا .

دخیرالبیان په (۶۲ ب) مخ کي کښلي دي :

" په وو ، په غلو ، په چمچي په دامات شي .... "(۱)

دخیرالبیان په (۶۷ ب) مخ کي کښلي دي :

" که مزکه پلیته شي ، په نور (لمر) یا په وو وچه شي
او اثر دپلیتیه پرې لیدی نه شي ، لمونځ پرې رواشي
دآدمیان . "

د معرفت الافغاني په دېرشم مخ کي " وو " کلمه په باد ترجمه سوېده ، مګر دپښتو قاموس په ۹۷۱/۲ مخ کي اسم صوت بللې سوېده او زیاته کړې-يې ده : " د تند باد بغ ته ویل کېږي . "

اخوند درویزه د قصیدهٔ بردې په ترجمه کي راوړي دي :

دکاظمې له رخه وو دی دربلو دلی
یا په توره تاریکه کي
داظم دوزخ برېښنا راته ځلېږي (۲)

---

(۱) دخیرالبیان دچاپي نسخې په ۱۰۱ مخ کی د " وو " کلمه " وه " کښلي ده او په حاشیه کی يې په " هوا " ترجمه کړېده .

(۲) وګورئ : مخزن الاسلام ۵۹ مخ د دهلي چاپ ۱۲۹۳ هـ . ق .

ACKU

د مخزن الاسلام د پېښور چاپ په نسخه کي د "وو" پر ځای
د باد کلمه راغلې ده او دالې هم په حاشیه کي زیاته کړې ده:
"وو هندي لفظ دی په معنی د باد." (؟)

بروو Bar+wu ، برهو : په پښتو کي د برني (پاسني) باد معنی لري، د پښتني افکار په ۴۲ مخ کي راغلي دي:

زه شینکی برهو یم
ما داسي وريځي د برې ځغلولي

وهېر Wher (- مذ)

هېر، وېر (چي په پارسي کي "فراموش" بولي.)
د خیرالبیان په (۴۵ - الف) مخ کي راغلي دي:
"هر چي دائم ذکر وهېر که، زه به یې وهېر کړم."
داد "نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِیَهُمْ" پښتو ترجمه ده (۲)
د دولت لواني په دیوان کي راغلي دي:

هر سړی چي نن په قصد که خدای سبحان وهېر
خدای به دی که په عذاب کي د نیران وهېر

اخوند کریمداد د مخزن اسلام په ملحقاتو کي ویلي دي:
"هغه ساعت دی یاد دی که دی وهېر دی"
(۱۹۴ مخ)

---

(۱) وگورئ: مخزن الاسلام ۱۰ مخ د پېښور چاپ ۱۹۶۹ ع.
(۲) وگورئ: بشپړ آیت په سورت التوبه ۹ پاره کي.

ACKU

خوشال خان د طب نامې په ۲۹ مخ کې ویلي دي:

دا که وهېړ نه کاله فکره
ځان به جوړ کا لکه پسکره

ښاغلي پوهاند صدیق الله "رښتین" د طب نامې د مقدمې په (ح) مخ کې کښلي دي:

" په طب نامه کې داسې لغات شته چې بل ځای تر اوسه زموږ له سترګو نه دي تېر شوي لکه: وهېړ = هېر، وش = زهر او نور ... "

W.B. د خیلي د کشنرۍ په ۱۷۵ مخ کې د طب نامې تر چاپ ۱۰۰ کاله مخوا د Forgotten د "هېر او هېر شوي" په معنی (وهېر Waher) کلمه راوړې ده چې د پښتو قاموس په ۳۱۳/۲ مخ کې په (نوحه) ترجمه سوې ده.(۱)

د مروتو د کسرونو په ۲۲-۲۳ مخونو کې وېر wer کلمه د هېر په معنی راغلې ده. جرس مروت ویلي دي:

د دنیا دور تېرېږي
ښه ځوانان مې نه وېرېږي

په لغمان کې اوس هم د هېر کلمه "وېر" ویله کېږي.

---

(۱) ساندي، ساپي، سوګونه او دوير ژړاوي په عربي ژبه نوحه بولي.

هتیاتي Hatyātí (اس - مؤ)
هتیات Hatyát (اس - مذ)

۱- احتیاط (عربي) اِتیات ، اَتیات

۲- پرهېز

ددغې کلمې لیک دود په (۱۳۰-الف) مخ کې "حتیاتي" په (۱۳۳-الف) مخ کې "حتیاطي" - په (۱۴۲-الف) مخ کې "هتیاة" او په نورو زیاترو ځایو کې "هتیاتي" دی. معنی یې کله احتیاط دی کله پرهېز ؛ مثلاً:

« ګوره ! ما په جنت کښې ډېرې مېوې کړې دي.....
هغه سړي لره، چې ما په پټې ډېر یادوي او هتیاتي
که له واړه حرام. »
(۱۴۰-ب)

« چار د اندام هغه ده، چې زما بندګي پرې کا او چار د بېګړي
پرې کا. له حرامه هتیاة لري واړه اندام. »
(۱۴۲-الف)

د میرزاخان اورمړ د دیوان په ۱۲۹ مخ کې راغلي دي:

دنیا تګه ده طراره، محبت به یې حرام کړم —
ما زړه ده خیال یې مه کړه، هتیاتي به یې له دام کړم

په مخزن الاسلام کې "احتیاطي" کلمه د احتیاط په معنی راغلې ده:

په دا بده زمانه کښې، له کل بده احتیاطي کړه-
د رافضیانو ډېر خلل دی، په اسلام د اکثیر ایستلی
(۱۱۶ مخ)

ACKU

هَرَمُونَی Haramunáy (اسـ ـ مذ)

ماتهینګی ، متهینګی
حرامی ، ولدالزنا

دخیرالبیان په (۹۵ ـ الف) مخ کې کښلي دي :

„ دبانګ وېل مکروه دي په ړانده ، په کوچني ، په ناپوهه ، په بنده ، په هرهونی ، دوقت په ناپېژندوی ....“

هَلَکَی Halakáy > Halkáy

(اسـ ـ مذ)

د " هلک " مصغر دی ، هلکوټی ، زنکوټی

دخیرالبیان په (۱۹ ب) مخ کې راغلي دي :

„ روونی ، خوړونی ، هلکی ، پېغلکي ، تورږیری چي زوړ دي یا ځوان . „

دآدم درخانۍ په ۶۰ مخ کې راغلي دي :

تر داو ړاندي چي سیلونه
موږ کول هلکي دونه

خوشال خان خټک دغه کلمه دصفت په ډول داسي راوړې ده :

دوصال ورځي هلکیه ترګړې دي
په لیدلو میاشتی کال سوې ګړې پهر

هَوَسْ اُوبَی Hawasubáy (اسـ ـ مذ

مذی ، پېنوبی (مدران) (۱)

---

(۱) افغان قاموس ـ ۳ ټوک ۳۲۵ مخ .

ACKU

565

دخیرالبیان په (۶۲ - الف) مخ کي داوداسه دماتوونکو په باب کښلي دي :

" په متیا زو ، په هوس اوبي ، په سپېرې اوبي ، په کم کاني په استحاضه په دامات شي په وړاندي اندام . "

فاضل مقدمدلیکونکي اوسموونکي دچاپي نسخې د ۱۰۱ مخ په حاشیه کي ورته کښلي دي :

" هوس اوبي = مذي "

هُوی Hóy(ə) (اش)

هغه ، هایه hāyá ، هَا ، آ

دخیرالبیان په (۱۳۳ ب) مخ کي راغلي دي :

" کوره ! دشیطانانو دتیپې [له] خوی هوی دی چي حرصي ، طمعدار ، دروغژن ، غافل ، ناپوهه ، مشرك ، ګنهکار وي . "

PROPERTY OF ACKU

پای

ACKU

ACKU
B
3.512
ROS
2441

HE OCCASION OF INTERNATIONAL SEMINAR OF
BAYAZID ROASHAN

KHAIR-UL BAYAN

BY

BAYAZID ROSHAN

ACKU

霍
玛
[illegible]

PUBLISHED
BY

FACULTY OF LETTERS
AND
HUMANTIES

KABUL UNIVERSITY

1975

دولتی مطبعه